د موضوعاتو فهرست

د عقایدو برخه

لومړی لوست: د عقایدو علم ۱
دویم لوست: د الله تعالی پر وجود ایمان ٤
دریم لوست: د الله تعالی وحدانیت (یو والی) ۷
څلورم لوست: د الوهیت توحید ۹
پنځم لوست: د الله تعالی نومونه او صفات ۱۳
شپږم لوست: د الله تعالی د نومونو شمېر او د صفتونو ډولونه ۱۷
اووم لوست: د الله تعالی ذاتي صفتونه (۱) ۲۱
اتم لوست: د الله تعالی ذاتي صفتونه (۲) ۲٤
نهم لوست: کلام د الله تعالی صفت دی ۲۷
لسم لوست: پر ملائکو ایمان ۳۰
یوولسم لوست: د حدیثو برخه ۳٤
دولسم لوست: د احادیثو اهمیت ۳۵
دیارلسم لوست: په چارو کې تدبیر ۳۹
څوارلسم لوست: د سولې اهمیت ٤۲
پنځلسم لوست: په کارونو کې آسانتیا ٤۵
شپاړسم لوست: د ظلم مخنیوی ٤۸
اوولسم لوست: د غضب درملنه ۵۱
اتلسم لوست: غوره خلک ۵٤
نولسم لوست: د ایمان خصلتونه ۵٦
شلم لوست: تعصب ٦۰
یو ویشتم لوست: د مؤمن شان (حالت) ٦٤
دوه ویشتم لوست: پر تکلیفونو صبر ٦۹
درویشتم لوست: د مسلمان حقوقونه ۷۳
درویشتم لوست: دوه مخی ۷۷
څلور ویشتم لوست: د خوب آداب ۸۱

د فقهې برخه ۸۵
پنځه ویشتم لوست: اسلام د ژوندانه نظام ۸۶
شپږ ویشتم لوست: د اسلام اقتصادي نظام ۸۸
اووه ویشتم لوست: د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې ۹۰
اته ویشتم لوست: د اسلامي اقتصاد ښیګڼې ۹۲
نهه ویشتم لوست: د میراث د علم اساسات ۹۴
دېرشم لوست: د میراث په هکله قرآني لارښوونې (۱) ۹۷
یو دېرشم لوست: د میراث په هکله قرآني لارښوونې (۲) ۹۹
دوه دېرشم لوست: د میراث په هکله قرآني لارښوونې (۳) ۱۰۱
دریې دېرشم لوست: ذوي الفروض او د هغوی برخې ۱۰۳
څلور دېرشم لوست: د ښځینه ذوي الفروضو احوال ۱۰۶
پنځه دېرشم لوست: عصبات ۱۰۹
شپږ دېرشم لوست: د برخو (سهمونو) مخرجونه ۱۱۱
اووه دېرشم لوست: عول ۱۱۳
اته دېرشم لوست: د عددونو ترمنځ تماثل، تداخل، توافق ۱۱۵
نهه دېرشم لوست: تصحیح ۱۱۷
څلوېښتم لوست: د وارثانو تر منځ د متروکې د تقسیم طریقه ۱۱۹
یو څلوېښتم لوست: تخارج ۱۲۱
دوه څلوېښتم لوست: رد ۱۲۳
دریې څلوېښتم لوست: جهاد ۱۲۵
څلور څلوېښتم لوست: د جهاد لاسته راوړنې ۱۲۸
پنځه څلوېښتم لوست: څوک په جهاد مکلف دي؟ ۱۳۱
شپږ څلوېښتم لوست: د اسلام له نظره د جهاد ډولونه ۱۳۳
اووه څلوېښتم لوست: سوله او احکام یې ۱۳۷
اته څلوېښتم لوست: د ذمې عقد (ټرون) ۱۳۹

د عقايدو علم

شرعي احکام په عمومي ډول په دوو برخو وېشل شوي دي

۱- عملي احکام: هغه دي چې د اعمالو په کيفيت پورې اړه لري کوم چې د بدن د غړو په واسطه سرته رسېږي او فرعي احکام هم ورته ويل کېږي، لکه: د لمانځه فرضيت، د زنا حرام والی او داسې نور.

۲- اعتقادي احکام: هغه دي چې عقيدې پورې اړه لري، د زړه اعمال دي، د بدن په ظاهري غړو نه تر سره کېږي او اصلي احکام هم ورته وايې، لکه: د الله تعالی په وجود، وحدانيت، د آخرت په ورځ او داسې نورو باور کول.

د لومړي ډول احکامو علم ته د شريعت احکام او فقهې علم ويل کېږي او دويم ډول علم ته د توحيد، صفاتو او عقايدو علم ويل کېږي چې موږ دلته له دغه دويم ډول علم څخه بحث کوو.

د عقايدو تعريف

عقايد د عقيدې جمع ده، عقيده په لغت کې کلک تړلو ته وايې او د اسلامي علومو په اصطلاح کې په دوو معناوو راغلې ده.

لومړی: د الله تعالی د قديم ذات په وحدانيت او پر ټولو هغو لارښوونو چې محمدﷺ د الله تعالی له لوري انسانانو ته رسولي، کلک ايمان او باور لرل.

دويم: هغه قضايا او جملې چې د مؤمن له څيزونو څخه بحث کوي.

د تعريف شرح

عقيده کلکو تړلو ته وايې او عقايد په دې نامه سره، ځکه يادېږي چې انسان هم په هغه څه چې عقيده لري خپل زړه تړي او کلک يقين ورباندې کوي،خو دا يقين بايد دومره غښتلی او پوخ وي چې هېڅ ډول شک او شبهه پکې ځای ونه لري، ځکه عقيده په عربي ژبه کې پوخوالي او ټينګښت ته وايي، سست باور عقيده نه ګڼل کېږي.

فعالیت: لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست او هم د عقیدې د لفظ لومړی او دویمه معنا پکې وټاکئ:

۱ـ په الله تعالی عقیده لرل څه حکم لري؟

۲ـ تاسې ته عقیده په یوې اونۍ کې څو ساعته تدریس کېږي؟

د عقایدو د علم موضوع

د عقایدو د علم موضوع د الله تعالی ذات، صفات او د پیغمبر رسالت دی چې په هغه کې په ملایکو، آسماني کتابونو، انبیاوو، د آخرت په ورځ، حساب، جنت، جهنم او د خیر او شر په تقدیر ټولو ایمان لرل شامل دي.

د عقایدو د علم غرض

د عقایدو د علم غرض او ګټه په دنیا او آخرت کې د انسان بریالیتوب او نېک بختي ده، هغه څوک چې د الله تعالی په کتاب او د هغه د پیغمبر په سنتو په سمه توګه باور ولري او پیروي یې کوي، هېڅکله به نه په دنیا او نه په آخرت کې ناکام شي.

د دې علم په زده کړه د انسان عقیده سمیږي او حقیقتونه د ځان، کایناتو او خپل خالق په هکله په رښتینې بڼه پېژني.

فعالیت: زده کوونکي دې د عقایدو د علم د تعریف، موضوع او غرض په اړه بحث وکړي.

د عقایدو د علم نومونه

د عقایدو علم په نورو نومونو هم نومول شوی، لکه: د توحید علم، اصول الدین، الفقه الاکبر، الإیمان.

فعالیت: زده کوونکي دې د اسلامي عقیدې د پېژندلو په اړه په خپلو کې سره خبرې وکړي.

د عقایدو د علم فضیلت او ارزښت

د عقایدو علم له نورو ټولو علومو څخه غوره او د شرف خاوند دی، ځکه د هر علم شرف او فضیلت د هغه علم پر موضوع پورې اړه لري، د عقایدو د علم موضوع له شرف

څخه ډکه موضوع ده چې هغه د الله تعالی ذات، اسماء، صفات، د هغه د وحدانیت، او پر بندګانو باندې د الله تعالی حقونه دي. همدارنګه پر انبیاوو او ټولو هغو شیانو باندې علم چې پر آخرت پورې تعلق لري.

د عقایدو د علم حکم

د عقایدو د علم زده کول فرض عیني او فرض کفایې دي.

فرض عیني: په اجمالي ډول پر هر مسلمان نارینه او ښځه باندې فرض عین دي چې په ټولو هغو شیانو باندې عام او مجمل ایمان راوړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له لوري د هغوی خبر ورکړی دی، لکه: په توحید، رسالت، جنت، دوزخ او د قیامت په ورځ ایمان درلودل او د لمانځه، حج او روژې فرضیت ریښتینی ګڼل او داسې نور.

فرض کفایې: په تفصیلي ډول د عقایدو د علم د دلایلو زده کول فرض کفایې دي. د مثا ل په ډول: په هغو آیتونو او حدیثونو باندې ځان پوهول چې توحید، رسالت، جنت، دوزخ او د قیامت په ورځ ایمان درلودل او د لمانځه، حج او روژې فرضیت یې ثابت کړی وي.

فعالیت: زده کوونکي دې د عقایدو د علم د فضیلت او حکم په هکله نورو ته معلومات ورکړي.

پوښتنې

۱. عقیده د لغت او اصطلاح له مخې تعریف کړئ.
۲. د عقایدو د علم موضوع څه شی ده؟
۳. د عقایدو د علم غرض څه شی ده؟
٤. دعقایدو علم څه اهمیت لري؟ بیان یې کړئ.
٥. د عقایدو د علم حکم بیان کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د علم په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

دويم لوست

د الله تعالى پر وجود ايمان

څمکه، آسمانونه او هغه څه چې په دې دواړو کې موجود دي آيا په خپله پيدا شوي او که داسې ذات وجود لري چې دغه موجودات يې پيدا کړي دي؟

د کاياناتو دغه نظم چې هېڅ ګډوډي پکې نه ليدل کيږي او په منظم شکل پر مخ ځي آيا په خپل سر روان دي او که تنظيموونکی لري؟

د الله تعالى د وجود دلايل

د الله تعالى پر وجود نقلي اوعقلي دلايل شتون لري چې ځينې يې په لاندې توګه بيانيږي:

لومړی نقلي دليل

د الله تعالى د وجود د اثبات لپاره په قرآن کريم کې ډېر زيات دليلونه ذکر شوي، لکه: الله تعالى د البقرې په سورت کې داسې فرمايي: ﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ۞ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾[البقرة: ١٦٣– ١٦٤]

ژباړه: او ستاسې معبود يو دی، له هغه پرته بل هېڅ معبود نشته، هغه ډېر مهربان او خورا ښونکی دی. د آسمانونو او ځمکې په پيدايښت، د شپې او ورځې په اوړېدو را اوړېدو او په هغو بېړيو کې چې خلکو ته د ګټې وړ شيانو وړلو راوړلو لپاره په سمندر کې روانېږي او په هغو اوبو کې چې الله تعالى له آسمانه نازلې کړي دي، بيا په هغو سره مړه ځمکه را ژوندۍ کوي او په ځمکه کې يې هر راز ساکښ موجودات خواره کړي دي او د بادونو په لګېدو او د آسمان او ځمکې تر منځ په اېل کړۍ شوې وربځ کې د هغو خلکو لپاره د قدرت نښې ښانې دي چې له پوهې نه کار اخلي.

له پورتنيو مبارکو آيتونو څخه د استدلال طريقه

دا آيتونه صراحتاً دلالت کوي چې ستاسې معبود يو دی، په رحمن او رحيم سره يې ستايلی دی او د يووالي لپاره يې د مخلوقاتو څخه ډول ډول دليلونه بيان کړي دي، دا

ټوله هستي چې د کوم نظم او قانون څخه پيروي کوي د دې هرو مرو ناظم او چلوونکی شته، که نه، نو هر څه به ګډوډ وای.
نو پورتني آيتونه، لکه: څرنګه چې نقلي دليل حسابېږي همدا ډول عقلي دليل هم ګڼل کېږي.

فعاليت: زده کوونکي دې د الله تعالی پر وجود باندې نور نقلي دليلونه هم ذکر کړي.

د الله تعالی پر وجود باندې عقلي دليل

ډېر زيات عقلي دلايل شته چې د الله تعالی پر وجود دلالت کوي، د بېلګې په توګه: هغه واقعه چې د امام ابوحنيفه (رح) او دهري تر منځ پېښه شوې وه، د الله تعالی د وجود د اثبات لپاره تر ټولو غوره دليل دی: له دهريانو څخه څو کسه امام ابو حنيفة (رح) ته راغلل او له ده څخه يې د الله تعالی د وجود په اړه پوښتنه وکړه، (د دوی نيت د امام ابو حنيفه (رح) په شک کې اچول وو) امام ابوحنيفه (رح) ورته وويل: زه په يوه ډېر حيرانوونکي کار بوخت يم. دوی وپوښتل هغه څه کار دی؟ ابو حنيفه (رح) ورته وويل: چا راته وويل: دلته يوه کښتۍ ده چې هېڅوک پکې نشته، په خپله په سيند کې چلېږي، د سيند په غاړه درېږي، په خپله سامان باروي، بيا په خپله سيده نورو ښارونو ته ځان رسوي، هلته خپل سامانونه په خپله کښته کوي، هر شی، لکه: خرما، جامې او داسې نور توکي بېل بېل له خپلو همجنسو توکو سره ځای پر ځای کوي، هېڅ شی يو له بل سره نه ترې ګډېږي، سره له دې چې په دې کې هېڅوک نشته، نه څوک شته چې هغه وچلوي او نه څوک شته چې هغې ته لارښوونه وکړي.
دوی وويل: نو آيا ته دا خبره منې؟ دا خبره، خو له لېونې پرته بل څوک نه قبلوي، ځکه کښتۍ له لرګي څخه جوړه شوې ده، نو څرنګه به لرګی په خپله حرکت وکړي؟ څرنګه به په خپله وچلېږي؟ څرنګه به په خپله سامان بار کړي؟ په دې وخت کې امام ابو حنيفه (رح) دوی ته وويل: تاسې شخړه کوئ، په داسې حال کې چې تاسې په خپلو سترګو باندې دغه کاينات وينئ، دغه ستوري چې حرکت کوي چا پيدا کړي؟ لمر او سپوږمۍ ته په دغه منظم ډول څوک حرکت ورکوي؟ دغه مخلوق چا په ځمکه کې خور کړی

دی؟ دغه وربځ چا پیدا کړې ده؟ په پای کې دهري په پر کښدو سره له نور بحث نه تېر شو او توبه يې وايستله.

همدارنګه نور ډېر عقلي دليلونه شته چې د الله تعالی پر وجود دلالت کوي او هر څه چې الله تعالی پيدا کړي د هغه پر وجود باندې دليلونه دي کله چې انسان په دغو مخلوقاتو کې فکر او سوچ وکړي، نو وايي: ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ [آل عمران: ۱۹۱] **ژباړه:** ای زمونږ پالونکيه (ربه)! دا مخلوقات تا عبث (بې حکمته او بې ګټې) نه دي پيدا کړي، پاکي ده تا لره (له ټولو عيبونو څخه) نو وساته مونږ د دوزخ له اور څخه.

د الله تعالی ذات قديم دی

د الله تعالی ذات قديم دی، همېشه و او همېشه به وي، د ده د وجود ابتداء نشته، په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ﴾ [الحديد: ۳] **ژباړه:** همغه لومړی هم دی او وروستی هم. يعنې الله تعالی اول دی ابتداء نه لري او آخر دی انتهاء (پای) نه لري.

فعاليت: زده کوونکي دې د الله تعالی پر وجود باندې نور عقلي دليلونه بيان کړي.

د الله تعالی پر وجود د ايمان حکم

د الله تعالی پر وجود ايمان (باور او يقين) لرل فرض دي که څوک د الله تعالی له وجود څخه منکر شي کافر دی.

پوښتنې

۱. د کاياناتو له شتون څخه د خالق پر وجود څنګه دليل نيسئ؟
۲. د الله تعالی پر وجود باندې يو نقلي دليل ذکر کړئ.
۳. د الله تعالی پر وجود باندې يو عقلي دليل ذکر کړئ.
٤. په الله تعالی باندې ايمان څه حکم لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الله تعالی د وجود په اړه يوه مقاله وليکي.

د الله تعالی وحدانیت (یو والی)

د ټولو مخلوقاتو پیدا کوونکی یوازې الله تعالی دی. په ذات، نومونو او صفاتو کې شریک او ساری نه لري، د هیڅا مرستې ته اړ ندی، بلکې ټول مخلوقات ده ته اړ او محتاج دي.

د توحید تعریف

توحید یو ګڼلو ته وایې او په اصطلاح کې د الله تعالی یو ګڼل توحید بلل کیږي. [1]

د تعریف شرح

د الله تعالی توحید دا معنا لري چې الله تعالی په ذات او صفاتو کې ځانګړی دی او له هغه سره ساری او شریک نشته.

د توحید ډولونه

د الله تعالی توحید په درې ډوله دی:

د ربوبیت توحید.

د الوهیت توحید.

د نومونو او صفاتو توحید.

فعالیت: زده کوونکي دې د الله تعالی د توحید په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

د ربوبیت توحید

د ربوبیت توحید په دې عقیده لرل دي چې د مخلوقاتو پیداکوونکی، رزق ورکوونکی، تدبیر نیوونکی، عزت او ذلت ورکوونکی، خیر او شر رسوونکی او په ټولو مخلوقاتو کې له اسبابو پرته متصرف او واکدار یوازې یو الله تعالی دی.

نو یوازې الله تعالی خالق او مالک دی. له اسبابو پورته مرسته یوازې له الله تعالی څخه غوښتل کیږي، په ټول عالم کې یوازې الله تعالی له اسبابو پرته تصرف کوي، مخلوقات په خلقت او پایښت کې ټول الله تعالی ته محتاج دي، الله تعالی د عالم د نظام په چلولو کې د هیڅا مرستې ته اړتیا نه لري.

---

١ - شرح العقيدة الطحاوية - - (١ / ٨)

د ربوبیت د توحید د اثبات دلیلونه

الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ﴾ [الزمر: ٦٢] **ژباړه:** الله تعالی د هر شي هستوونکی دی، هماغه د هر شي کار ساز او چلوونکی دی.

همدا راز فرمایي: ﴿وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا﴾ [الإسراء: ١١١] **ژباړه:** او ووایه ټوله ثنا او ستاینه هغه خدای لره ده چې هغه نه څوک په زوی ولی سره نیولی، نه په پادشاهی کې څوک شریک ورسره شته، نه یې د بې وسی له امله ملا ترې شته او پوره لویي یې بیان کړه.

د ربوبیت د توحید غوښتنه دا ده چې باید هر ډول عبادت، زاري اوفریاد، د مرستې آواز، ټول دنیوي او اخروي حاجتونه له الله تعالی څخه وغوښتل شي، ورسره د نورو متصرفینو او مرستندویانو له نیولو څخه په کلکه ډډه وشي، ځکه چې یوازې الله تعالی د هر ډول عبادت اوبندګی لایق دی.

همدارنګه الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [الأنعام: ١٧] **ژباړه:** که الله تاته کوم تکلیف در ورسوي، نو له هغه نه پرته بل څوک نشته چې تا له تکلیف څخه وژغوري، که هغه ذات تا ته کومه ښیګڼه او ګټه در واړوي، نوهغه په هر څه قادر ذات دی.

په بل ځای کې فرمایي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ [البقرة: ١٨٦] **ژباړه:** او ای پیغمبره! زما بندګان که له تا نه زما په اړه پوښتنه وکړي، نوهغوی ته ووایه چې زه ورته ډېر نژدې یم، بلونکی چې کله ما وبلي زه د هغه بلنه اورم، نو هغوی ته ښایي چې زما بلنې ته لبیک ووایي، او پر ما ایمان راوړي، ته دا خبره هغوی ته واوروه، کېدای شي چې هغوی سمه لار وموميي.

فعالیت: زده کوونکي دې د ربوبیت د توحید د اثبات په اړه عقلي دلیلونه بیان کړي.

پوښتنې

١. توحید تعریف کړئ!
٢. توحید په څو ډوله دی؟
٣. د ربوبیت له توحید څخه مراد څه دی؟
٤. د ربوبیت پر توحید باندې نقلي دلیل ذکر کړئ.

د الوهیت توحید

- آیا پرته له الله تعالی څخه بل څوک د عبادت وړ شته؟
- بنده باید له چا څخه مرسته وغواړي؟
- چا ته د عجز سر ښکته کړي؟

د الوهیت تعریف

اله معبود ته وایې. الوهیت مصدر او د الله تعالی صفت دی، د الوهیت د توحید معنا دا ده چې یوازې الله تعالی معبود دی او په معبودیت کې شریک نه لري.

د تعریف شرح

د عبادت وړ یوازې الله تعالی دی. یوازې الله تعالی ته باید د عجز سر ښکته شي، امر یې ومنل شي او له منهیاتو څخه یې ځان وژغورل شي چې دا په حقیقت کې د الوهیت توحید دی او د عبادت توحید هم ورته وایې.

د الوهیت توحید

د الوهیت توحید په دې باندې عقیده لرلو ته وایې چې یوازې الله تعالی د عبادت وړ دی.
عبادت په شرعي اصطلاح کې په دوو معناوو راغلی دی.

۱. په خاصه معنا: عبادت په خاصه معنا سره له لمانځه، روژې، زکات او حج څخه عبارت دی او همدارنګه نورې هغه چارې چې موخه ورڅخه یوازې د الله تعالی امر پر ځای کول وي او عادتي چارو پورې اړه ونه لري هم د عبادت په مفهوم کې داخلې دي.
۲. په عامه معنا: عبادت په عامه معنا سره دې ته ویل کیږي چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې یوازې د الله تعالی امر ومنل شي، که هغه عبادت په خاصه معنا سره وي، که معاملات وي، که دکورني ژوند احکام وي او که پر امنیت، سیاست او اقتصاد پورې تړلي احکام وي.

یو انسان هلته موحد ګڼل کیږي چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې د الله تعالی اطاعت وکړي او ټول هغه عادتونه او نظریات چې د اسلام له سپېڅلي دین سره مخالف وي رد کړي.

د الوهيت د توحيد د اثبات دليلونه

په قرآن کريم او سنتو کې د الوهيت په توحيد باندې بې شمېره دليلونه شته چې يو څو يې په لاندې توګه بيانېږي.

قرآن کريم: الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: ﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [البقرة: ٢٥٥] **ژباړه:** له الله، (هغه) ژوندي ابدي ذات پرته چې ټول کائنات يې تنظيم کړي دي، بل هېڅ خداى نشته.

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالى فرمايي: ﴿ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ﴾ [الكهف: ١١٠] ژباړه: اې پيغمبره! ووايه چې زه يوازې ستاسو په څېر انسان يم، او ما ته وحي شوې چې ستاسې معبود يو الله (ج) دى.

الله تعالى د الاخلاص په سورت کې فرمايي: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۞ اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ [الإخلاص: ١، ٢]

ژباړه: اې پيغمبره! ووايه چې الله تعالى يو دى، الله تعالى بې نيازه دى چا ته اړ ندى.

همدارنګه الله تعالى په يو بل آيت کې فرمايلي دي: ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى﴾ [البقرة: ٢٥٦]

ژباړه: د دين په چارو کې څه زور او مجبورول نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوې ده، اوس چې څوک له کوم طاغوت نه منکر شي او پر الله ايمان راوړي هغه يوه داسې کلکه اسره ونيوله چې هېڅکله ماتېدونکې نه ده.

د طاغوت تعريف: طاغوت هغه چا ته ويل کيږي چې د الله تعالى په مقابل کې يې پيروي کيږي، که هغه انسان وي او که بتان.

په يوه حديث شريف کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: عَنْ عَدِيِّ بن حَاتِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: "يَا عَدِيُّ اطْرَحْ هَذَا الْوَثَنَ مِنْ عُنُقِكَ"، فَطَرَحْتُهُ، فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَقْرَأُ سُورَةَ بَرَاءَةٍ، فَقَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾[التوبه: ٣١] حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا، فَقُلْتُ: إِنَّا لَسْنَا نَعْبُدُهُمْ، فَقَالَ: "أَلَيْسَ يُحَرِّمُونَ مَا أَحَلَّ اللَّهُ فَتُحَرِّمُونَهُ وَيُحِلُّونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ، فَتَسْتَحِلُّونَهُ؟"قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: "فَتِلْكَ عِبَادَتُهُمْ"[1] **ژباړه:** عدي بن حاتم رضي الله تعالى عنه وايي چې زه رسول الله صلى الله عليه

---

١ المعجم الكبير للطبراني - (١٢ / ٧)

وسلم ته راغلم او زما په غاړه کې له سرو زرو څخه جوړ شوی صلیب ځوړند و، رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: ای عدي! له غاړې څخه دې دغه بت ایسته کړه ما هغه بوت ایسته کړ، وروسته بیا زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم چې ده مبارک د براءت مبارک سورت تلاوت کاوه، نو دا آیت یې تلاوت کړ: ((دوی خپل عالمان او روحانیون له الله (ج) پرته خپل (خدایان) نیولي دي)) کله چې له تلاوت څخه فارغ شو، نو ما ورڅخه پوښتنه وکړه او ومې ویل: مورږ خو د دوی عبادت نه کولو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا دوی به د الله تعالی حرام کړي شیان نه حرامول، تاسو به هغه شیان حرام ګڼل؟ دوی به د الله تعالی حرام کړي شیان نه حلالول چې بیا به تاسو هغه حلال ګڼل؟ ما ورته وویل همداسې خو وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: همدا د دوی عبادت کول دي.

حدیث شریف: د الله تعالی د الوهیت په توحید باندې ډېر زیات شمېر مبارک احادیث دلالت کوي چې د هغو له جملې څخه مورږ دلته د جابر بن عبد الله ﷺ روایت شوی حدیث ذکر کوو: رسول الله ﷺ په حج کې تلبیه په لوړ آواز پیل کړه: « لَبَّيْكَ، اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ، وَالنِّعْمَةَ لَكَ، وَالْمُلْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ ». **ژباړه:** په طاعت ولاړ یم تاته، اې الله (ج) په هغه څه کې چې تا پر مورږ نازل کړي، ستا اطاعت کوو، ای هغه ذاته چې شریک او ساری نه لري ستا اطاعت کوو، یقیناً چې ټولې ستاینې او نعمتونه یوازې تا لره دي او پاچاهي هم یوازې ستا ده، نشته شریک او سیال تا لره.

په همدې حدیث شریف کې جابر بن عبد الله ﷺ وایي: کله چې رسول الله ﷺ د صفا غونډې ته وخوت، مخ یې کعبې ته کړ، داسې یې وفرمایل: «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ »[1] **ژباړه:** له الله تعالی پرته بل برحق معبود نشته، الله یو دی شریک نه لري، د عالم پاچاهي یوازې ده لره ده، غوره صفتونه ټول ده لره دي او دی په هر څه توانمن دی. له الله تعالی پرته بل برحق معبود نشته، هغه یو دی، خپله وعده یې پوره کړه (د مکې په فتحه کې، د کفارو په ماتولو او داسې نورو کې) یې د خپل بنده مرسته وکړه او په یوازې ذات یې کفري لښکرو ته ماتې ورکړه.

---

١ - صحیح مسلم.

عقلي دليل: هرهغه څوک چې د الله تعالی په ربوبیت باور لري او وایي چې یوازې الله تعالی د دې مخلوق پیدا کوونکی او تدبیر کوونکی دی، بل هیڅوک نه شي کولای چې څه شی پیدا کړي، یا چا ته ګټه او یا زیان ورسوي، نو لازمه ده چې په دې هم اقرار وکړي چې یوازې همدغه ذات د بندګۍ مستحق هم دی، باید یوازې د ده بندګي وشي او یوازې د ده شکر ادا شي، د شیانو په تحلیل او تحریم کې یوازې د ده اوامرو ته غاړه کښښودل شي.

فعالیت: زده کوونکي دې د الوهیت د توحید په هکله څو نور دلیلونه ذکر کړي.

د الوهیت د توحید حکم

د الله تعالی د الوهیت په توحید باندې ایمان او باور لرل فرض او منکر یې کافر دی.

پوښتنې

۱. الوهیت تعریف کړئ!
۲. د الوهیت توحید څه ته وایې؟
۳. د الله تعالی د الوهیت د توحید لپاره دلیلونه ذکر کړئ!
٤. طاغوت تعریف کړئ.
٥. د الله تعالی د الوهیت د توحید حکم څه دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الله تعالی د الوهیت د توحید په اړه یوه مقاله ولیکي.

پنځم لوست

د الله تعالی نومونه او صفات

الله تعالی د ښکلو نومونو خاوند دی، د الله تعالی په نومونو باندې په اجمالي توګه باور درلودل، د اسلامي عقیدې برخه ده او که څوک په تفصیلي توګه وربانديې وپوهیږي، الفاظ یې یاد کړي او په معنا یې ځان پوه کړي، نو د ستر اجر وړ ګرځي.

د نومونو او صفاتو تعریف

اسماء د اسم جمع ده، اسم نوم ته وایي، د الله تعالی اسماء هر هغه لفظ ته ویل کیږي چې په قرآن کریم او سنتو کې یې یادونه شوې وي او د الله تعالی په ذات دلالت وکړي، لکه: رحمان، رحیم، غفور، ودود او داسې نور.

صفات د صفت جمع ده، د الله تعالی صفات هغه د کمال معاني دي چې الله تعالی خپل ځان په قرآن کریم کې وربانديې ستایلی او د الله رسول په هغو، په خپلو ویناوو سره موصوف کړی وي، لکه: د علم، قدرت او ارادې صفتونه.

د نومونو ډولونه

د الله تعالی نومونه په دوه ډوله دي:

۱ـ ذاتي نوم چې یوازې د الله تعالی په ذات دلالت کوي، هغه د (الله) کلمه ده.

۲ـ صفتي نومونه چې د الله تعالی په ذات او صفت دواړو دلالت کوي، لکه: قادر، علیم، حکیم، سمیع او بصیر.

د صفتي نومونو او صفاتو تر منځ توپیر

د الله تعالی صفتي نومونه د هغه له صفاتو سره په معنا او شمېر کې توپیر لري:

لومړی: په معنا کې توپیر: لکه: پورته چې بیان شو صفتي نومونه د الله تعالی په ذات دلالت کوي سره له یو صفته، ځکه دا هر یو نوم د الله تعالی په ذات او په هغه پورې په قایم یو صفت دلالت کوي چې قادر په قدرت، علیم په علم، حکیم په حکمت، سمیع په سمع او بصیر په بصر د الله تعالی له ذات سره یو ځای دلالت کوي، نو صفتي نوم په ذات او صفت دواړو دلالت کوي او صفت په یو ځیزدلالت کوي.

دويم په شمېر کې توپير: د الله تعالى صفات د هغه له نومونو څخه زيات دي، ځکه هر صفتي نوم يو صفت په ځان کې لري، ځينې صفات د الله تعالى په افعالو پورې اړه لري، د افعالو نهايت او پای نشته، د بېلګې په توګه: اخذ (نيول)، تسخير (تابعدار ګرځول)، امساک (بندول) او بطش (راګيرول، او حمله کول) او داسې نور د الله تعالى صفتونه دي، ځکه دا افعال په قرآن کريم کې الله تعالى ته ثابت دي،[1] خو الله تعالى ته مورِ د دې صفاتو پر بنسټ د آخِذ، مُسَخِّرُ، مُمْسِکُ او باطِشُ نومونه نه شو ايښودلى، ځکه د الله تعالى اسماء توقيفي دي، له ځانه څوک نوم نه شي ورته ايښودلاى.

د الله تعالى د نومونو د اثبات دلايل

الله تعالى د ښو نومونو خاوند دى، د اثبات لپاره يې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې ډېر زيات دلايل شته چې په لنډ ډول دلته ځينې له هغو څخه ذکر کېږي.

قرآن کريم

الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [الأعراف: ١٨٠]

ژباړه: او د الله تعالى ډېر ښه نومونه دي، نو په هماغو يې و بولئ، هغه خلک پرېږدئ چې د ده په نومونو کې کږوالى کوي، دوى چې څه کوي د هغو بدله به مومي.

الله تعالى په بل مبارک آيت کې فرمايي: ﴿قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى﴾ [الإسراء: ١١٠] **ژباړه:** ورته ووايه: الله را وبولئ يا رحمان، هر يو چې رابولئ، نو د (الله) هغه ډېر ښه ښه نومونه دي.

دغه مبارک آيت دا په ډاګه کوي چې د الله تعالى نومونه ثابت دي او ټول په يوه الله تعالى دلالت کوي.

حديث شريف

په يوه مبارک حديث شريف کې داسې راغلي دي: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقَدْ سَأَلَ اللَّهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى وَإِذَا دُعِيَ

---

١ الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ﴾ (البقرة : ٦٣)، ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ﴾ (الحج : ٦٥)، ﴿يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ﴾ (الدخان: ١٦).

بِهِ أَجَابَ» (۱) **ژباړه:** رسول الله ﷺ له یوه سړي څخه واورېدل چې ویل یې: یا الله زه له تا څخه سوال کوم، ځکه ته الله یې، یو یې، بې نیازه یې، هغه ذات چې هېڅوک یې نه دي زېږولي، او نه خو له چا زېږېدلی او نه یې څوک سیال شته. د دې خبرو له اورېدو وروسته نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقیناً چې دغه سړي له الله تعالی څخه د ده په هغه لوی نامه سره سوال وکړ چې که په دغه نوم سره سوال ورڅخه وشي ورکوي یې او که غوښتنه تري وشي قبلوي یې.

فعالیت

زده کوونکي دې د قرآن کریم ځینې هغه آیتونه ذکر کړي چې د الله تعالی نومونه پکې ذکر شوي دي.

د الله تعالی د نومونو حکم

د الله تعالی په ټولو هغو نومونو چې په قرآن کریم او یا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مبارکو صحیحو احادیثو کې راغلي دي، ایمان راوړل فرض دي.

د الله تعالی د نومونو او صفاتو په هکله د اهل سنت او جماعت تګلاره

په دې هکله دوه مطلبونه د بیان وړ دي.

۱ـ اهل سنت والجماعت ټول هغه نومونه او صفات چې الله تعالی ځان ته ثابت کړي یا پیغمبر صلی الله علیه وسلم وربانديې ستایلی، الله تعالی ته ثابت ګڼي، هیڅ ډول تعطیل، تحریف، تمثیل او تکییف نه پکې کوي، په دې توګه چې معطل او بې معنا یې نه ګڼي، معناوې یې بل لور ته نه اړوي، مثالونه نه ورته بیانوي او له څرنګوالي څخه یې خبرې نه کوي.

الله تعالی فرمایي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ [الشورى: ۱۱] **ژباړه:** د هغه په څېر هېڅ شی نشته او هغه اورېدونکی او لیدونکی دی. د دې آیت په لومړۍ برخه کې تمثیل او تکییف او په دویمه برخه کې یې تعطیل او تحریف نفي شوی دی.

فعالیت: زده کوونکي دې د الله تعالی د نومونو او صفاتو په هکله د اهل سنت و الجماعت تګلاره بیان کړي او له پورتني آیت څخه دې د استدلال طریقه ذکر کړي.

---

۱ – رواه احمد في مسنده.

۲ـ د الله تعالی نومونه توقیفي دي، په دې توګه چې ټول له قرآن کریم او حدیثونو څخه اخیستل شوي، څوک نشي کولای چې الله تعالی ته له ځانه نوم کېږدي، البته د الله تعالی د نومونو ژباړه نورو ژبو ته علما د خلکو د پوهې لپاره روا بولي، لکه: رب ته چې په پښتو کې څښتن او په فارسي کې خدا ویل کېږي، نو په عقل سره الله تعالی ته نوم نشي اېښودل کېدای ځکه الله تعالی فرمایلي: ﴿ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَاناً وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لا تَعْلَمُونَ ﴾ [الأعراف: ۳۳]

ژباړه: ورته ووایه: زما رب خو ښکاره او پټ بې حیا کارونه حرام کړي، ګناه، په ناحقه تېری، دا چې له الله سره هغه څه شریک و ګڼئ چې د هغه په هکله یې څه سند نه دی را نازل کړی او دا چې په الله پورې داسې څه ووایئ چې تاسې پرې نه پوهیږئ.

د الله ﷻ پر نومونو او صفاتو ځان پوهول له بندګانو سره د الله ﷻ په پېژندلو کې مرسته کوي، او همدارنګه له الله ﷻ سره د مینې او تقوا د زیات والي لامل کېږي.

پوښتنې

۱. د نومونو او صفاتو تعریف بیان کړئ.
۲. د الله تعالی نومونه په څو ډوله دي؟
۳. آیا د الله تعالی د نومونو او صفاتو تر منځ توپیر شته؟
٤. د الله تعالی د نومونو د اثبات دلایل بیان کړئ.
٥. د الله تعالی د نومونو حکم بیان کړئ.
٦. د الله تعالی د نومونو په هکله د اهل سنت و الجماعت ټګلاره بیان کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د قرآن کریم ځینې هغه آیتونه ولیکي چې په هغې کې د الله تعالی نومونه ذکر شوي دي.

شپږم لوست

د الله تعالی د نومونو شمېر او د صفتونو ډولونه

په تېر لوست کې مو د الله تعالی د نومونو او صفاتو د تعریف او د اثبات د دلایلو په اړه یو څه زده کړل. په دې لوست کې د الله تعالی د نومونو د شمېر او صفاتو د ډولونو په اړه معلومات ترلاسه کوو.

د الله تعالی د نومونو شمېر

د الله تعالی د نومونو یادونه په قرآن کریم او نبوي حدیثونو کې شوې ده:

– **قرآن کریم:** الله تعالی فرمایي: ﴿هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ ۞ هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۞ هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ۞﴾ [الحشر: ٢٢ – ٢٤]

ژباړه: الله ﷻ هغه ذات دی چې له هغه پرته بل هېڅ معبود برحق نشته، په پټه او په ښکاره هر څه باندې پوهېدونکی، همغه رحمن او رحیم دی. الله هغه ذات دی چې له هغه پرته کوم معبود برحق نشته، هغه باچا دی، ډېر مقدس، له ټولو عیبونو څخه سالم، امان ورکوونکی، ساتونکی، په ټولو برلاسی. په زوره د خپل حکم نا فذوونکی او د لویی څښتن، لویې کوونکی، پاک دی الله له هغه شرک نه چې خلک یې کوي، الله هغه ذات دی چې د هستوونې پلان جوړوونکی د هغه نافذوونکی او د هغه سره سم صورت جوړوونکی دی، د هغه ډېر غوره نومونه دي هر څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، د هغه په پاکی سره ستاینه کوي او هغه برلاسی او حکمت والا دی.

فعالیت: په پورتنیو آیتونو کې د الله تعالی ذکر شوي نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

حديث شريف: په حديث شريف کې راغلي: **عن ابي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم قال:** (**إن لله تسعة وتسعين اسماً –مائة إلا واحداً– من أحصاها دخل الجنة**[1]) ژباړه: يقينا د الله تعالى (۹۹) نهه نوي نومونه دي، ـ يو کم سل ـ چا چې وشمارل (حفظ يې کړل) جنت ته به ننوزي.

ځينو پوهانو د قرآن کريم په مختلفو برخو کې د الله تعالى ذکر شوي نومونه سره راټول کړي او همدا نه نوي ورځخه جوړ شوي دي.

خو سمه وينا داده چې د الله تعالى نومونه په نه نوي کې منحصر نه دي، بلکې د الله تعالى نومونه له دې پرته نور هم ډېر دي.

په حديث شريف کې عبد الله بن مسعود ﷺله رسول الله ﷺڅخه روايت کړی: «**مَا قَالَ عَبْدٌ قَطُّ إِذَا أَصَابَهُ هَمٌّ وَحَزَنٌ اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَنُورَ صَدْرِي وَجِلَاءَ حُزْنِي وَذَهَابَ هَمِّي إِلَّا أَذْهَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمَّهُ وَأَبْدَلَهُ مَكَانَ حُزْنِهِ فَرَحًا**»[2]

ژباړه: هېڅکله يو بنده چې خواشينتوب يا غم ورته رسيدلی وي دا کلمات نه وايي مګر خفګان او غم يې الله تعالى لرې کوي او پر ځای يې خوښي ورکوي: اې الله زه ستا بنده او ستا د بنده او مينځې زوی يم، زما تندی ستا په لاس کې دی، زما په هکله ستا حکم نافذ اوقضا دې عادلانه ده، زه له تا ځخه ستا په هر هغه نامه سوال کوم چې ځان دې پرې نومولی، يا دې په خپل کتاب کې نازل کړی، يا دې خپل کوم مخلوق ته ورښودلی، يا دې د هغه پوهه يوازې له ځان سره په علم غيب کې ساتلې چې ته دا قرآن زما د زړه سپرلی، د سينې رڼا، د خواشينتوب لرې کوونکی او د خفګان له منځه وړونکی وګرځوي.

نو له دې وينا ځخه چې رسول الله فرمايي: (او يا دې د هغه پوهه يوازې له ځان سره په علم غيب کې ساتلې)، څرګندېږي چې الله تعالى نور نومونه هم لري چې له ده پرته بل څوک وربانديې نه پوهيږي.

---

۱ متفق عليه، بخاري: ۲۵۸۵ شمېره حديث، مسلم: ۲۶۷۷ شمېره حديث.

۲ د احمد مسند ۷ ټوک ۳۴۱ مخ

د الله تعالی په نومونو او صفاتو د ایمان ګټې

۱ـ د الله تعالی پېژندنه، هغه څوک چې د الله تعالی نومونه او صفات وپېژني، د الله تعالی په هکله یې معرفت زیاتیږي، په الله تعالی باندې یې ایمان پخیږي، او د توحید عقیده یې پیاوړې کیږي.

۲ـ په اسماء حسنی سره د الله تعالی ستاینه، په ذکر کې له غوره ډولونو څخه ده: الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ [الاحزاب: ۴۱] اې مؤمنانو! الله یاد کړئ په کثرت سره.

۳ـ له الله تعالی څخه د ده د نومونو په وسیله غوښتنه او دعا کول، الله تعالی فرمایي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا﴾ او الله تعالی لره غوره نومونه دي نو په هغو سره یې راوبولئ.

۴ـ د دنیا او آخرت نېکمرغي.

د الله تعالی د صفتونو ډولونه

د الله تعالی صفتونه په دوه ډوله دي: ۱- ذاتي صفتونه ۲- فعلي صفتونه

۱- ذاتي صفتونه هغو صفتونو ته ویل کیږي چې الله تعالی یې په ضد نه موصوفیږي، دغه صفتونه د الله تعالی له ذات سره لازمي دي او هېڅکله له الله تعالی څخه نه جلا کیږي. د الله تعالی ذاتي صفتونه له قدرت، ارادې، سمع، بصر، علم، حیات او کلام څخه عبارت دي.

۲- فعلي صفتونه: هغو صفتونو ته ویل کیږي چې الله تعالی یې په ضد موصوفیږي، لکه: رحمت چې ضد یې غضب دی.

د الله تعالی فعلي صفتونه ډېر زیات دي، خو مور دلته د بېلګې په ډول یو څو ذکر کوو: تخلیق (پیداکول)، ترزیق (رزق ورکول)، احیاء (ژوندي کول)، اعزاز (عزت ورکول) او داسې نور.

فعالیت: زده کوونکي دې د ذاتي او فعلي صفتونو تر منځ توپیر بیان کړي.

پوښتنې

۱. د الله تعالی د نومونو شمېر څومره دی؟
۲. د الله تعالی د نومونو په هکله د قرآن کریم څو مبارک آیتونه ذکر کړئ.
۳. د الله تعالی د نومونو په هکله د نبي کریم ﷺ یو مبارک حدیث ذکر کړئ.
٤. د الله تعالی په نومونو او صفاتو باندې د ایمان ګټې بیان کړئ.
٥. د الله تعالی صفات په څو ډوله دي؟
٦. د الله تعالی ذاتي صفات څو دي؟
۷. د الله تعالی فعلي صفات تعریف کړئ.
۸. د الله تعالی د فعلي صفاتو یو څو مثالونه بیان کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الله تعالی د نومونو او صفتونو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

د الله تعالى ذاتي صفتونه (۱)

قدرت او اراده

- قدرت او اراده د الله تعالى له کومو صفتونو څخه دي؟
- آيا الله تعالى د قدرت او ارادې په ضد سره موصوف کېدای شي؟

د قدرت تعريف

قدرت له هغه صفت څخه عبارت دی چې له امله يې يو څوک توانېږي چې د خپلې ارادې سره موافق کوم کار تر سره کړي او يا يې پرېږدي.[۱]

قدرت د الله تعالى ذاتي صفت دی، الله تعالى په هر څه باندې په خپل ازلي او قديمي قدرت سره چې د ده ازلي صفت دی، قادر دی. د ده لپاره نوی قدرت نه پيدا کېږي او په ضد سره يې چې عجز دی نه موصوفېږي.

د قدرت د اثبات دلايل

الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [البقرة: ۱۰۹]

ژباړه: يقيناً الله تعالى په هر څه قادر دی.

الله تعالى په يو بل مبارک آيت کې فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا﴾ [فاطر: ٤٤]

ژباړه: هېڅ شی د الله تعالى بېوسې کوونکی نه دی، نه په آسمانونو او نه په ځمکه کې، هغه پر هر څه پوهېږي او په هر څه باندې قدرت لري.

د الله تعالى د قدرت پر صفت د ايمان حکم

د الله تعالى د قدرت پر صفت باندې ايمان راوړل فرض دي.

فعاليت: زده کوونکي دې د الله تعالى د قدرت د صفت په اړه يو له بل سره خبرې وکړي.

۲ – د ارادې تعريف

د يو کار په پايلو کې له ښه غور او فکر کولو وروسته د هغه کار د کولو او يا پرېښودلو قوي عزم او قصد ته اراده ويل کېږي.[۲]

---

۱ – التعريفات – (۱ / ۲۲۱)

۲ – الفروق اللغوية – (۱ / ۳۵)

اراده او مشیت د الله تعالی ذاتي صفت دی، هېڅ شی د الله تعالی له ارادې پرته نه شي پیدا کېدای، بلکې هر شی که کوچنی وي او که لوی، که خیر وي او که شر، ګټه وي او که نقصان، ایمان وي او که کفر او داسې نور ټول د الله تعالی په ارادې سره پیدا کېږي، که ټول مخلوقات یو ډېر واړه شي ته د حرکت ورکولو لپاره را ټول شي، د الله تعالی له ارادې څخه پرته حرکت نشي ورکولای او الله تعالی د دې صفت په ضد سره چې مجبورتیا ده نه موصوفېږي.

د ارادې د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ﴾ [البروج: ١٦].

ژباړه: الله تعالی ښه سرته رسوونکی د هغه څه دی چې اراده یې وکړي.

الله تعالی په بل مبارک آیت کې فرمایي: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ١٨٥].

ژباړه: الله تعالی تاسې ته د آسانۍ اراده لري او په تاسې باندې د سختۍ اراده نه لري.

الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې فرمایي: ﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴾ [یس: ٨٢] **ژباړه:** هغه خو چې کله د یوه شي اراده کوي، نو د هغه کار همدومره دی چې ورته حکم وکړي چې شه او هغه کېږي.

عقلي دلیل

که چېرې الله تعالی د خپلې ارادې خاوند نه وای، نو بیا خو به د بل چا تر امر لاندې وای او د بل چا تر امر لاندې والی د الله تعالی په حق کې نقص دی او نقص د الله تعالی په حق کې باطل دی، همدارنګه که چېرې الله تعالی د بل چا تر امر لاندې شي، نو بیا په قدرت سره نه موصوفېږي، ځکه قدرت تر هغه شي پورې تعلق نیسي کوم پورې چې اراده تعلق نیسي، نو ثابته شوه چې الله تعالی مرید دی او اراده د الله تعالی ازلي صفت دی.

د الله تعالی د ارادې په صفت د ایمان حکم

د الله تعالی د ارادې په صفت باندې ایمان راوړل فرض دی.

د ارادې ډولونه

د اهل سنت و الجماعت علماوو اراده په دوه ډوله وېشلې ده.

لومړی: قدري او کوني اراده.

دویمه: امري او شرعي اراده.

١. **کوني اراده:** دا اراده د مشیت سره مرادفه ده، ټولو موجوداتو ته شاملېږي، نو هر هغه څه چې منځ ته راځي، ټول د الله تعالی په اراده سره پیدا کېږي. دا اراده د الله تعالی په دې قول

سره ثابته شوې ده چې فرمايي: ﴿فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ وَمَنْ يُرِدْ أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ﴾ [الأنعام: ١٢٥]

ژباړه: چا ته چې الله تعالى د لارښوونې اراده وکړي، د هغه سينه د اسلام لپاره پرانيزي او چا ته چې په ګمراهۍ کې د غورځولو اراده وکړي، د هغه سينه تنګوي او داسې فشار پرې راولي چې (څنګه د اسلام تصور په ذهن کې را ګرځوي نو) داسې ورته معلومېږي ته به وايې په سختۍ سره د آسمان لوري ته خېژي.

همدارنګه الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ﴾ [البقرة: ٢٥٣]

ژباړه: خو الله تعالى چې څه غواړي هغه کوي.

٢. **ديني او شرعي اراده:** له دې ارادې سره مينه او رضا لازمه ده، ځکه الله تعالى فرمايي: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ١٨٥]

ژباړه: الله تعالى پر تاسې آسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي.

همدارنګه الله تعالى فرمايي: ﴿مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ [المائدة: ٦]

ژباړه: الله تعالى نه غواړي چې ژوند درباندې تنګ کړي، هغه خو غواړي چې تاسې پاک او سوتره کړي او خپل نعمت پر تاسې پوره کړي، ښايې چې تاسې شکر ويستونکي شئ.

فعاليت: زده کوونکي دې د ارادې د ډولونو په هکله يو له بل سره خبرې وکړي.

پوښتنې

١- قدرت څه ته ويل کيږي؟
٢- د الله تعالى د قدرت د اثبات دلايل ذکر کړئ.
٣- د الله تعالى د قدرت په صفت د ايمان حکم څه دى؟
٤- اراده څه ته ويل کيږي؟
٥- د الله تعالى د ارادې د اثبات دلايل ذکر کړئ.
٦- د الله تعالى د ارادې په صفت د ايمان حکم بيان کړئ.
٧- د الله تعالى اراده په څو ډوله ده؟ بيان يې کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دوو صفتونو (قدرت او ارادې) په اړه يوه مقاله وليکي چې له لسوکرښو څخه کمه نه وي.

د الله تعالى ذاتي صفتونه (۲)

سمع، بصر، علم او حيات

- آيا تاسو پوهيږئ چې سمع، بصر، علم او حيات د الله تعالى صفتونه دي؟
- سمع، بصر، علم او حيات د الله تعالى له کومو صفتونو څخه دي؟
- آيا الله تعالى د نومورو صفتونو پر ضد ستايل کيږي؟

سمع

د سمع تعريف

سمع په عربي ژبه کې له هغه قوت څخه عبارت دی چې آوازونه پرې اوربدل کيږي، خو دلته له سمعې څخه د الله تعالى هغه ذاتي صفت مراد دی چې الله تعالى خپل ځان ته په قرآن کريم کې ثابت کړی او مورږ يې په کيفيت نه پوهيږو.

سمع د الله تعالى ذاتي صفت دی، الله تعالى ټول آوازونه، په خپلې ازلي سمعې سره چې دده ازلي صفت دی اوري، خو مورږ يې په کيفيت نه پوهيږو، ډېر خفي شی هم د الله تعالى له سمعې (اورېدلو) څخه نه شي پټېدلای، الله تعالى د دې صفت په ضد سره چې کونوالی دی نه موصوفيږي.

بصر

د بصر تعريف

بصر د ليدلو هغه قوت دی چې په سترګو کې وجود لري او په هغه سره شکلونه، رنګونه، روښنايی، تيارې او داسې نور ليدل کيږي، خو دلته له بصر څخه د الله تعالى له هغه ذاتي صفت څخه مراد دی چې الله تعالى په قرآن کريم کې د خپل ځان لپاره ثابت کړی او مورږ يې په کيفيت نه پوهيږو.

بصر د الله تعالى ذاتي صفت دی، الله تعالى په خپل ازلي او قديمي بصر سره چې د ده ازلي صفت دی ټول شکلونه او رنګونه وينې، خو مورږ يې په کيفيت نه پوهيږو، د الله تعالى له بصر (ليدلو) څخه ډېر کوچنی شی هم نشي پټېدلای او د دې صفت په ضد سره چې ړوندوالی دی نه ستايل کيږي.

د سمع او بصر د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایې: ﴿إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ [الحج: ۷۵] ژباړه: یقیناً الله تعالی اورېدونکی او لېدونکی دی.

همدارنګه الله تعالی په یو بل آیت کې فرمایې: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ [الشوری: ۱۱] ژباړه: «د کایناتو هېڅ شی هغه ته ورته نشته او هغه اورېدونکی او لېدونکی دی.»

علم.

د علم تعریف

علم هغې پوهې ته ویل کېږي چې له واقعیت سره مطابقت ولري.

علم د الله تعالی ذاتي صفت دی، الله تعالی په ټولو موجوداتو باندې عالم دی او د ده له علم څخه ډېر واړه شیان هم نشي پټېدلای، بلکې په ښکاره او پټو ټولو شیانو باندې په خپل علم چې د ده ازلي او قدیمي صفت دی عالم دی او د دې صفت په ضد سره چې ناپوهي ده، نه ستایل کېږي.

د علم د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾[لقمان: ۲۳]

ژباړه: په باوري ډول الله ﷻ د سینو په پټو رازونو پوهېږي. په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایې: ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ [الأنعام: ۵۹]

ژباړه: له هماغه سره د غیبو کلیګانې دي چې له هغه نه پرته بل څوک پرې نه پوهېږي، په وچه او لمده کې چې هر څه دي له ټولو څخه هغه خبر دی، له ونې څخه کومه رالوېدونکې پاڼه داسې نشته چې هغه پرې عالم نه وي. د ځمکې په تریږمې پردو کې کومه دانه داسې نشته چې هغه ورڅخه باخبر نه وي، وچ او لامده ټول په یو روښانه کتاب کې لیکل شویدي.

ژوند (حیات)

د ژوند تعریف

ژوند د مرګ ضد دی او حیات د الله تعالی ازلي او ذاتي صفت دی، الله تعالی په خپل ازلي ژوند سره حی (ژوندی) دی او د دې صفت په ضد سره چې مرګ دی نه موصوفېږي.

د حیات د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [البقرة: ٢٥٥] **ژباړه:** الله، له الله(ج) پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته، هغه الله(ج) چې ژوندی او د کارونو تنظیموونکی دی.

همدارنګه الله تعالی په یو بل آیت کې فرمایي: ﴿هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ [غافر: ٦٥] **ژباړه:** همغه تل تر تله ژوندی دی، له هغه پرته هېڅ معبود نشته، تاسې همغه وبولئ د هغه لپاره د خپل دین په خالص ګرځولو سره.

د پورتنیو صفتونو حکم

د الله تعالی د سمع، بصر، علم او ژوند په صفتونو باندې ایمان لرل فرض دي.

فعالیت: زده کوونکي دې د الله تعالی د ذاتي صفتونو په هکله په ډله یېزه توګه خبرې وکړي.

پوښتنې

١. سمع، بصر، علم او ژوند تعریف کړئ.
٢. د سمع، بصر، علم او ژوند د اثبات دلایل ذکر کړئ.
٣. د سمع، بصر، علم او ژوند د صفتونو حکم بیان کړئ.
٤. سمع، بصر، علم او ژوند د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دي؟
٥. آیا الله تعالی د نومورو صفتونو په ضد سره موصوف کېدای شي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دغو څلورو صفتونو په اړه چې په لوست کې ولوستل شول یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

نهم لوست

کلام د الله تعالی صفت دی

- آیا تاسو پوهیږئ چې کلام د الله تعالی صفت دی؟
- کلام د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دی؟
- آیا الله تعالی د کلام په ضد سره موصوفیږي؟

د دې پوښتنو ځوابونه به په لاندې لوست کې ولولو.

د کلام تعریف

کلام په عربي ژبه کې هغه څه ته ویل کیږي چې له حروفو او غږونو څخه مرکب شوی وي، خو دلته له کلام څخه د الله تعالی ذاتي صفت مراد دی چې هغه قدیم دی، په څرنګوالي باندې یې مور نه پوهیږو او نفسي کلام هم ورته ویل کیږي.

د تعریف شرح

کلام د الله تعالی په ذات پورې قائم دی، په ضد سره یې چې ګونګوالی دی، نه موصوفیږي.

د کلام د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ١٦٤].

ژباړه: او له موسی (علیه السلام) سره الله تعالی په ځانګړي ډول خبرې وکړې.

همدارنګه په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ﴾ [الشوری: ٥١] **ژباړه:** او هیڅ انسان ته دا نشته چې الله ورسره و غږیږي، پرته له دې چې وحي به وي، یا له پردې ها خوا، یا کوم رسول و لیږي او هغه د ده په حکم سره څه چې غواړي وحي کړي، یقیناً هغه لوړ مرتبه حکمت والا دی.

د کلام په صفت د ایمان حکم

د الله تعالی د کلام پر صفت باندې ایمان راوړل او باور کول فرض دي.

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره رالیږلی دی، قرآن کریم د ټولو آسماني کتابونو وروستنی کتاب دی. له دې کتاب څخه وروسته د قیامت تر ورځې پورې بل کتاب نه نازلیږي.

د قرآن کریم تعریف

قرآن د لغت له مخې د مصدر کلمه ده، د یو ځای کولو او تلاوت په معنا دی. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي:﴿إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وقُرْآنَهُۥ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾ [القيامة: -١٧- ١٨]

ژباړه: بې شکه د هغه جمع کول او پر تا لوستل یې زمونږ په ذمه دي، نو کله چې هغه مونږ ولوست، بیا یې ته ورپسې لوله.

په اصطلاح کې: قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې په عربي ژبه نازل شوی، په صحیفو کې لیکل شوی، مونږ ته په پرله پسې، پرته له کومې شبهې څخه را نقل شوی دی، تلاوت یې عبادت ګڼل کیږي، یو سل او څوارلس سورتونه لري.

په قران کریم باندې د ایمان حکم

په دې باندې یقین او باور کول فرض دي چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، د ده پر ذات پورې قایم دی، که څوک د قرآن کریم(د الله تعالی د کلام) له قدیم والي څخه منکر شي کافر کیږي.

د قرآن کریم نومونه

قرآن کریم په ډېرو نومونو یاد شوی دی چې ځینې یې په لاندې ډول بیانیږي:

قرآن: الله تعالی فرمایي:﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾[البقرة: ١٨٥] د روژې میاشت هغه ده چې قرآن پکې نازل کړی شوی.

الکتاب: الله تعالی فرمایي: ﴿ ذَلِكَ الكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ [البقرة: ١] **ژباړه:** دا هغه کتاب دی چې (هېڅ) شک پکې نشته، د متقیانو لپاره لارښوونه ده.

الحکیم: الله تعالی فرمایي: ﴿ تِلْكَ آيَاتُ الكِتَابِ الحَكِيمِ ﴾ [يونس: ١] **ژباړه:** دا له حکمتونو څخه د یوه ډک کتاب آیتونه دي.

نـور: الله تعـالى فرمـايي: ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُوراً مُّبِينًا﴾ [النساء: ١٧٤]. **ژبـاړه:** او تاسـو تـه مـو څرګنده رڼا نازله کړې (چې قرآن دی).

الفرقان: الله تعالى فرمايي: ﴿تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً﴾ [الفرقان ١ آيت] **ژباړه:** هغه ذات برکتناک دی چې فرقان يې د دې لپاره نازل کړ، تـر څـو د ټولـو خلکو لپاره د وېرې خبر ورکوونکی وي.

الروح: الله تعالى فرمايي: ﴿وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحاً مِّنْ أَمْرِنَا﴾ [الشورى: ٥٢].

ژباړه: او په همدې توګه موږ تاته هم په خپل امر سره روح راولېږلو.

فعالیت: زده کوونکي دې د قرآن کریم نور نومونه هم ذکر کړي.

پوښتنې

١. کلام تعریف کړئ.
٢. د کلام د اثبات دلایل ذکر کړئ.
٣. د کلام پر صفت باندې د ایمان حکم بیان کړئ.
٤. قرآن کریم تعریف کړئ.
٥. د قرآن کریم د قِدم په هکله د اهل سنتو نظر بیان کړئ
٦. پر قرآن کریم باندې د ایمان حکم بیان کړئ.
٧. د قرآن کریم نومونه له دلیلونو سره ذکر کړئ.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د قرآن کریم په اړه یوه مفصله مقاله ولیکي.

لسم لوست

پر ملائکو ایمان

په تېرو درسونو کې مونږ د الله تعالی پر وجود، وحدانیت، نومونو او صفاتو باندې د ایمان په اړه پوره معلومات تر لاسه کړل، په دې لوست کې په ملائکو، باندې د ایمان په اړه بحث کوو.

د ملائکو تعریف

ملائکه د ملک جمع ده، په لغت کې استازي ته ویل کېږي.

د عقایدو د علم په اصطلاح کې ملایکې د الله ﷻ هغه نوراني او لطیف مخلوق دی چې د الله ﷻ له اوامرو څخه سرغړونه نه کوي.

د تعریف شرح

ملایکې د الله تعالی له غوره مخلوقاتو څخه دي، له نور څخه پیدا شوې دي، په سترګو نه لیدل کېږي، له ټولو ګناهونو څخه پاکې او معصومې دي، په هېڅ صورت د الله تعالی له اوامرو څخه سر غړونه نه کوي، بلکې هر کار چې الله تعالی ورته وفرمایې، هغه تر سره کوي، د نارینه یا ښځینه نسبت نه ورته کېږي، په هر ډول ښکلو شکلونو سره ځانونه جوړولای کولای شي، د اوسپدلو ځای یې آسمانونه دي، له نفسي غوښتنو او شهواتو څخه پاکې دي، خوراک، څښاک او خوب نه کوي.

د ملایکو د وجود د اثبات دلایل

د ملایکو وجود او خلقت د قرآن کریم په مبارکو آیتونو او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر مبارکو احادیثو ثابت دی:

۱. قرآن کریم: الله تعالی د قرآن کریم په مختلفو آیتونو کې د ملایکو یادونه کړې ده، لکه څرنګه چې د النجم سورت کې فرمایې: ﴿إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَى﴾ [النجم: ۲۷] **ژباړه:** یقیناً کوم کسان چې آخرت نه مني هغوی په پرښتو باندې د ښځینه معبودانو نومونه ږدي.

الله تعالی په یوه بل مبارک آیت کې فرمایې: ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [فاطر: ۱] **ژباړه:** ثنا ستاینه د الله لپاره ده چې د آسمانونو او ځمکې جوړوونکی او د پیغام رسوونکو، پرښتو ټاکونکی دی. (داسې پرښتې) چې د هغو دوه دوه، درې درې او څلور څلور وزرونه دي، د هغه چې څنګه خوښه وي دخپل مخلوق په جوړښت کې زیاتوالی راولي، بېشکه هغه پر هر څه قادر دی. همدارنګه الله تعالی د النحل سورت په دویم آیت

کې فرمايي: ﴿يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ﴾ [النحل: ٢]. **ژباړه:** الله ﷻ دغه ملايکې او روح چې په خپل کوم بنده يې وغواړي د خپل حکم سره يې نازلوي.

٢. حديث شريف

له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه د ملايکو په اړه زيات احاديث روايت شوي دي چې دلته په لنډ ډول يو حديث بيانوو: «عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ»[1] **ژباړه:** له حضرت عايشې رضي الله تعالى عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: جبرائيل عليه السلام به ما ته تل د ګاونډي په هکله توصيه کوله تر دې چې ما ته دا ګومان پيدا شو چې يو ګاونډی به له خپل ګاونډي څخه ميراث وړي.

په ملايکو باندې د ايمان حکم

په ملائکو باندې ايمان راوړل، باور او يقين کول فرض دي، منکر يې د اسلام له کړۍ څخه وتلی ګڼل کيږي.

ملايکې له ټولو ګناهونو څخه معصومې دي

د قرآن کريم زيات شمېر آيتونه د ملايکو پر عصمت دلالت کوي، لکه: څرنګه چې الله تعالى فرمايي: ﴿لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾ [التحريم: ٦] **ژباړه:** په هغه څه کې چې الله تعالى امر ورته کوي نافرماني يې نه کوي او هغه څه سرته رسوي چې امر ورته کيږي.

همدارنګه په يوه بل آيت کې فرمايي: ﴿يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ﴾ [الأنبياء: ٢٠] **ژباړه:** شپه او ورځ تسبيح وايي لټي نه کوي.

همدارنګه نور ډېر آيتونه شته چې د ملايکو په عصمت باندې دلالت کوي چې دلته په همدې ذکر شويو آيتونو بسنه کوو.[2]

د ملايکو صفتونه

په قرآن کريم او نبوي سنتونو کې د ملايکو ډېر زيات صفتونه ذکر شوي دي چې په لنډ ډول يې ذکر کوو.

١. ملايکې له نور څخه پيدا شوي دي.

---

١ - صحيح البخاري ت - (١٥ / ١٩٨)

٢ - المواقف للامام عضد الدين عبد الرحمن بن أحمد الإيجي، (٣ / ٤٥٣).

٢. ملايکې په سترګو نه ليدل کېږي، خو که چېرې دوی چاته د خرګندېدو اراده وکړي نو ليدل يې شوني دي.
٣. ملايکې خپل ځانونه په ښو او ښکلو شکلونو سره جوړولای شي.
٤. الله تعالی ملائکې انبياؤ ته د وحې او داسې نورو ارزښتناکو کارونو په سرته رسولو ګمارلې دي.
٥. پرته له ستونزې څخه د ځمکې او آسمان تر منځ تګ او راتګ کولای شي.
٦. ځينې ملايکې د دوو، ځينې د دريو، ځينې د څلورو او ځينې له دې څخه د زياتو وزرونو خاوندانې دي.
٧. الله تعالی له انسانانو څخه مخکې ملايکې پيدا کړې دي.
٨. ملائکې سره له دې چې معصومې دي او تل د الله تعالی عبادت کوي، خو بيا هم له الله تعالی څخه ډېرې وېرېږي.
٩. الله تعالی ته ملايکې ډېرې نژدې او مقربې دي.
١٠. ملائکې د خارق العادة توان خاوندانې دي.

د ملايکو دندې

ملايکو ته الله تعالی ډېر لوی لوی کارونه او دندې ورسپارلې دي، دوی ته الله تعالی دا توان ورکړی چې ورسپارل شوې دندې په ښه توګه سرته ورسوي، د ملايکو د دندو ډولونه په لاندې ډول بيانېږي.

١. الله تعالی پېغمبرانو ته د وحې په رسولو باندې جبرائيل عليه السلام مکلف کړی دی جبرائيل عليه السلام د ټولو ملايکو څخه غوره او د الله تعالی په وړاندې معزز دی چې د (الروح الامين) په نامه سره يې ياد کړی دی.
٢. ميکائيل عليه السلام ته د اورښتونو او نباتاتو د پالنې دنده ور سپارل شوې ده. ميکائيل عليه السلام هم د الله تعالی په وړاندې لوړه مرتبه او لوی مقام لري، ځکه الله تعالی د جبرائيل په څنګ کې ذکر کړی دی.
٣. اسرافيل عليه السلام ته د قيامت لپاره د شپېلۍ وهلو دنده ورسپارل شوې ده.
٤. ملك الموت (عزرائيل) او د ده ملګرو ته د ارواحو د قبض کولو دنده ورسپارل شوې ده.

۵. کرام کاتبین ته د خلکو د عملونو د لیکلو دنده ورسپارل شوې ده.

٦. نکیر او منکر ته په قبر کې له مړو څخه د پوښتنو کولو دنده ورسپارل شوې ده.

په ملایکو باندې د ایمان ګټې

۱. د الله تعالی په عظمت پوهېدل.

۲. له مخلوق څخه د الله تعالی غنا، (که مور له الله تعالی څخه سرغړونه وکړو، نو د الله تعالی نور مخلوقات شته چې د هغه عبادت وکړي او الله تعالی له دې ټولو څخه بې پروا او غني دی.

۳. له مؤمنانو سره د الله تعالی له مینه څخه خبرتیا چې دا د دې لامل کیږي چې بنده ګان د الله تعالی ډېر اطاعت او پیروي وکړي.

٤. د الله تعالی له قدرت او د ده د لښکر له قوت څخه خبرتیا، د ده په نصرت او مرسته ایمان راوړل چې دا په جهاد او دعوت کې د ثبات لامل کیږي.

فعالیت: زده کوونکي دې د ملایکو د عصمت او صفتونو په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱. ملایکې تعریف کړئ.

۲. ملایکې له څه شي څخه پیدا شوې دي.

۳. د ملایکو د اثبات په اړه یو څو دلیلونه ذکر کړئ.

٤. په ملایکو باندې د ایمان حکم بیان کړئ.

۵. په لنډ ډول د ملایکو صفات ذکر کړئ.

٦. په لنډ ډول د ملایکو دندې ذکر کړئ.

۷. په ملائکو باندې د ایمان څو ګټې بیان کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ملایکو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

د حدیثو برخه

د احاديثو اهميت

په تېرو ټولګيو کې مو ولوستل چې حديث د پيغمبر ﷺ د اقوالو، افعالو، او تقريراتو څخه عبارت دي. په دې لوست کې غواړو چې د احاديثو اهميت وپېژنو.

۱ــ حديث د الله ﷻ وحي ده

وحي په دوه ډوله ده

يوه جلي وحي چې له قرآن کريم څخه عبارت ده، اوبله خفي وحي چې دپيغمبر ﷺ له احاديثو څخه عبارت ده، ځکه چې پيغمبر ﷺ به خپل اقوال او افعال د جبرائيل عليه السلام په لارښوونو ترسره کول. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى﴾ [النجم: ۳، ٤].

ژباړه: او هغه {پيغمبر ﷺ} له نفسي خواهش څخه تاسې ته خبرې نه کوي، بلکې دا وحي ده چې پر هغه نازليږي، نو حديث چې د پيغمبر ﷺ خبرې دي او هم د الله ﷻ له طرفه پر خپل پيغمبر نازله شوې وحي ده، لکه: چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «أَلاَ إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ».[1]

ژباړه: ځان پوه کړئ! بيشکه ماته کتاب (قران کريم) راکړل شوی، د هغه په څېر نورځه هم راکړل شوي دي (يعنې احاديث) په همدې بناء دپيغمبر ﷺ احاديث دالله ﷻ خفي وحي ده.

۲ـ دپيغمبر ﷺ پيروي.

لکه: څرنګه چې دقرآن کريم د لارښوونو پيروي پرمسلمانانو فرض ده، همداسې دپيغمبر ﷺ د سنتونو، او احاديثو پيروي هم پرمسلمانانو لازمه ده، ځکه د الله ﷻ پيروي د رسول الله ﷺ په پيروۍ کې نغښتې ده، لکه: څرنګه چې د الله ﷻ مينه دپيغمبر ﷺ په مينه پورې تړلې ده. نو څوک چې دپيغمبر ﷺ تابعداري اوپيروي نه کوي او د الله ﷻ نژدېوالی په بله لاره کې لټوي، هېڅکله خپل مرام ته نه شي رسيدای. الله ﷻ فرمايي: ﴿قُلْ إِن كُنْتُم تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ. . . ﴾ [آل عمران: ۳۱]

ژباړه: ورته ووايه اې پيغمبره! که چېرې په رښتيا د الله ﷻ سره مينه کوئ، نو زما پيروي وکړئ، الله به هم درسره مينه وکړي.

۱- ۱ سنن أبي داود

همداراز پیغمبرﷺ فرمایې: «مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ عَصَانِي فقد عصى اللهَ» [1]

ژباړه: چاچې زما پیروي وکړه په حقیقت کې یې الله ﷻ پیروي وکړه، اوچاچې زما نافرماني وکړه هغه د الله ﷻ نافرماني وکړه.

دپیغمبرﷺ داقوالو، افعالو، اوکړنوڅخه سرغړونه لویه بد مرغي، اوګمراهي ده.

الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾ [النساء: ١١٥]

ژباړه: اوڅوک چې د رسولﷺ څخه سر غړونه کوي، وروسته له هغې چې سمه لار ورته څرګنده شي، د مؤمنانو له لارې څخه پرته بله لاره خوښه کړي، نو هماغه لوري ته به یې وروګرځوو چې ده ورته مخه کړې ده، دوزخ ته به یې ورننباسو او هغه دورتلو بد ځای دی.

همدا راز پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ» [2]

ژباړه: ما ستاسې لپاره دوه اساسه پریښي دي چې هیڅکله به ګمراه نه شئ، څو پورې چې تاسې پر هغې منګولې لګولې وي چې یو د الله ﷻ کتاب او بل د الله ﷻ د رسول سنت دي.

د پیغمبرﷺ پیروي دا ده چې د هغه ویناوې ومنل شي، لارښوونې یې عملي شي، د ژوند په ټولو برخوکې د هغه دسیرت پیروي وکړل شي او د هغه پر ویناوو د هیڅا وینا غوره ونه ګڼل شي.

۳ـ حدیث دقرآن کریم شرحه ده

پیغمبرﷺ په خپلو اقوالو، افعالو او تقریراتو سره قرآن کریم تفسیر اوشرحه کړی دی.

الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ. . .﴾ [النحل: ٤٤]

ژباړه: اونازل کړی مو دی تاته ذکر{ قرآن کریم} د دې لپاره چې ته بیان کړې خلکوته هغه لارښوونې چې دوی ته رالیږل شوي دي.

---

١ – البخاری.

٢ – موطأ امام مالک

له همدې امله که چېرې دقرآن کریم په ځینو آیتونوکې اجمال پروت و د پیغمبرﷺ په احادیثو کې د هغې توضیح او تفسیر بیان شوی دی، لکه: چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ [البقرة: ٨٣]

ژباړه: لمونځ قایم کړئ. پیغمبرﷺ په خپلو احادیثو سره د لمانځه د درولو طریقه، د رکعتونو شمېر، او د لمانځه وختونه په ځانګړې ډول بیان کړي دي.

۴ـ احادیث دشریعت دویم اصل اومصدر دی

په شریعت کې ځینې حکمونه له قرآن کریم څخه ثابت دي، خوځینې نور یې د پیغمبرﷺ په احادیثو ثابت شوي دي، لکه: په میراث کې دجدې (نیا) شپږمه برخه، دکافر او مسلمان ترمنځ له یوبل څخه د میراث د نه ورلو حکم، دکورنیو خرو د غوښو خوړلوحرمت، د سرسایې وجوب، د ځینو وحشي ژوو حرمت او داسې نور.

کوم احکام چې په احادیثو ثابت دي دهغو حیثیت دقرآن کریم دحکمونو په څېر دی الله ﷻ فرمایې: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾ [الحشر: ٧]

ژباړه: او څه چې پیغمبر تاسې ته درکړي هغه واخلئ، او له کوم شي څخه چې یې منعه کړي یاستئ مه یې کوئ. د پیغمبرﷺ احادیث د بې شمېره ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، اخلاقي، اوحقوقي مسایلو دویم مصدر دی.

۵ـ داحادیثو یادول

حدیث یادول خورا لوی فضیلت لري، پیغمبرﷺ هغه چاته چې احادیث په یادو یادوي، ورباندې عمل کوي، د عزت او لوی مقام دعا کړې ده او فرمایلي یې دي: «نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا فَحَفِظَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ...» [1]

ژباړه: الله ﷻ دې تر او تازه لري هغه شخص چې زموږ حدیث واوري، بیا یې یاد کړي او هم یې نورو ته ورسوي.

فعالیت:

زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه ځینې هغه احادیث له یادو ووایې چې په تېرو ټولګیو کې یې یاد کړي وو.

---

۱ – سنن أبی داود

پوښتنې

۱. د خفي وحي په اړه دقرآن کريم دليل ذکرکړئ.
۲. احاديث د قرآن کريم شرحه ده دا څه معنالري؟ څرګند يې کړئ.
۳. دشريعت اصول او مصادر کوم کوم دي؟ نومونه يې واخلئ.
٤. داحاديثو يادول څه فضيلت لري؟

کورنۍ دنده

د لوست د مهمو ټکو په نظر کې نيولو سره په خپلو کتابچو کې د حديثو د اهميت پـه اړه يوه مقاله وليکئ.

دوولسم لوست

په چارو کې تدبير

عن أنس رضى الله عنه أن رجلا قال للنبي ﷺ: أوصني يا رسول الله ! فقال له النبي ﷺ: (خُذِ الأَمْرَ بالتَّدْبِيرِ فإِنْ رَأَيْتَ في عاقِبَتِهِ خَيْراً فأَمْضِ وإِنْ خِفْتَ غَياً فأمسِكْ). [شعب الإيمان للبيهقي]

د راوي پېژندنه

انس بن مالك بن نضر ابوحمزه انصاري خزرجي ﷺپوره لس کاله د رسول الله ﷺ په خدمت کې تېرکړي وو او په کوچنيوالي کې د بدر په غزا کې شريک شوی. په لمانځه کولو کې رسول الله ﷺ ته ډېر ورته و. انس بن مالك يو له هغو صحابه وو څخه دی چې زيات شمېر حديث يې روايت کړي دي. له ده څخه د روايت شويو احاديثو شمېر څه دپاسه دوه زره اودوه سوو احاديثو ته رسېږي. دپيغمبر ﷺله وفات څخه وروسته دجهاد او فتوحاتو په دوره کې په بصره کې استوګن شو او په بصره کې وروستی صحابي و چې د هجرت په سلم کا ل څه د پاسه د سلو کلونو په عمر وفات شو.

د ځينوکلومعنا

١_**أوصني:** د امر لفظ دی: ماته نصيحت وکړه.

٢_**خُذ:** دامر لفظ دی: واخله، ونيسه، وکړه.

٣_**الأَمْرَ:** چاره، کار.

٤_**التَّدْبِير:** پايلوته په پام لرنې سره چارې سرته رسول.

٥_**فأَمْضِ:** د امر لفظ دی: پس ترسره يې کړه، سرته يې ورسوه.

٦_**غَياً:** د خير ضد، ضلالت او بې لاري.

٧_**فأمسِكْ:** د امر لفظ دی: ځان ترې وساته، مه يې کوه.

د حديث ژباړه

له انس ﷺڅخه روايت دی چې يوه سړي پيغمبر ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله! ماته نصيحت وکړه، نو رسول الله ﷺورته وويل: کارونه په پوره غور او تدبير سره کوه، که دې د کار په پايلو کې خير او ښېګڼه ليده، نو وړاندې ځه او تر سره کوه يې، او که خرابي په نظر درتله، نو ځان ترې وساته.

د حديث حكمت

داسلام سپېڅلی دين تل د انسان د هوسا ژوند په هڅه کې دی. او ځای په ځای انسان ته په دې هکله لازمې او اړينې لارښوونې کوي.

تدبير يا په کارونو کې سوچ، د چارو پر پايلو نظر لرل، احتمالي ګټې او زيانونه سره پرتله کول، هدفونه ياد ساتل او په دې توګه د چارو د لړۍ ژوره څارنه او وخت په وخت د هغو ارزونه هغه څه دي چې انسان ته د ژوند په چارو کې برى او موفقيت په برخه کوي، ګټې يې خوندي او تر ممکنه حده پورې د زيانونو مخه نيسي.

فعاليت:

د رسول الله ﷺ له سيرت څخه د هغه له کارونو څو بيلګې په ګروپي توګه په ګوته کړئ او د پلان او تدبير نښې په کې وښایاست.

د حديث شريف ګټې

۱ــ په نصيحت دصحابه وو ټينګار

صحابه کرام خپلو ځانونو او خپلو چارو ته متوجه وو او تل به د کمال په لټه کې وو. دوی به له پيغمبر ﷺڅخه د ځانګړو توصيو او نصيحتونو غوښتنه کوله به او رسول الله ﷺبه هغوی ته هر اړخيز نصيحتونه کول چې وروسته په صحابه کرامو او تابعيينو کې دغه کار يو نېک سنت وګرځيد او چې کله به سره جلا کېدل او يا به پر سفر روانيدل نو يو بل ته به يې ويل: ماته نصيحت وکړه! او هغوی به د مينې او لورښې نه په ډک زړه ورته د خير او نېکمرغۍ نصيحتونه کول.

۲ــد تدبير غوښتنې

په چارو کې د تدبير غوښتنه دا ده چې انسان مخکې له دې چې په کوم کار لاس پورې کړي لومړی دې د هغه کار په اړه پوره غور وکړي، له خپلو نږدې دوستانو او تجربه لرونکو کسانو سره دې مشوره وکړي، خپل نيت دې جوړ کړي، شرعي اصول او معيارونه دې په نظر کې ونيسي، موخې دې په ګوته کړي، دهغه کار په وسايلو او امکاناتو دې هم غور وکړي او له هغه وروسته دې په پاک الله ﷻ دې توکل وکړي او په قوي هوډ سره دې په کار پيل وکړي. چې دغې عملېې ته (کرښنده)، (خطه) او (پلان) ويل کيږي.

۳ــ چارې په غور او تدبير سره سرته رسول او له تلوار څخه ځان ژغورل.

د بېړې، او وارخطايۍ په خلاف کارونه په تدبير، آرام فکر، سړې سينې، پيل او پايلوته په پام لرنې سره سرته رسول ستره هوښياري ده چې رسول الله ﷺ پرې امرکړی دی، لکه: چې

ابوذر ﷺته په خطاب کې فرمايې: (اې ابوذره! د تدبير په خبر هوښياري نشته!). د همدې لپاره اسلام د تدبير او غور نسبت د الله لوري ته کړی او هغه يې د نبوت اوپيغمبرۍ يوه برخه ګرځولې او بيړه يې د شيطان له لوري ګڼلې: رسول الله ﷺفرمايې: (تانئ تأمل، د رنګ او فکر کول د الله ﷻ له لوري دي او بيړه د شيطان له لوري ده). په بل حديث شريف کې فرمايي: ښه رويه، په چارو کې غور او اعتدال د نبوت څلورويشتمه برخه ده.[1]

٤ـ د کاري جريان څارنه او ارزونه او له موخو سره د هغه تطبيقول.

دحديث شريف د وروستۍ جملې غوښتنه داده چې د کار په اوږدو کې انسان بايد وخت په وخت د کار جريان وڅاري چې خومره په خپل مطلوب مسير باندې روان دی، که کار له پلان سره سم روان و او له خپلو موخو سره تړلی او نژدې و، نو کار بايد دوام وکړي څو بشپړ شي او که داسې نه و، بلکې د وخت، مال او وسائلو ضياع وه او ټاکل شوي هدفونه ورڅخه نه ترلاسه کېدل، نو بايد کار ودرول شي.

٥ـ تدبير او توکل.

توکل يو شرعي امر دی او مسلمان ته ښايې چې تل په الله ﷻ توکل وکړي. د توکل رښتينی او شرعي مفهوم دادی چې يو مسلمان بايد د کار ټول شرايط، اسباب، وسايل برابر کړي، په کار کې زړه نازړه نشي او په پوره عزم سره په کار پيل وکړي او سر ته يې ورسوي.

پوښتنې

١ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

آ ـ التدبير، ب ـ أمض، ج ـ غيا، د ـ أمسك،

٢ـ د لوست حديث شريف په لنډه توګه وژباړئ.

٣ـ په چارو کې د تدبير غوښتنې څه دي؟

کورنی دنده

د تدبير په هکله يوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

---

١ - مسند أحمد بن حنبل

د سولې اهمیت

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلاَةِ وَالصَّدَقَةِ»؟. قَالُوا: بَلَى. قَالَ: « إِصْلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ. وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ ». [سنن ابی داود]

د راوي پیژندنه

نوم یې عویمر دعامر زوی د خزرج له قبیلې څخه ؤ او په ابودرداء یې شهرت درلود. ډېر لوی فقیه صحابي و. پیغمبرﷺ ورته دحکیم الامة لقب ورکړی و. کله چې مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت وکړ، نو پیغمبرﷺ دده او سلمان فارسيؓ ترمنځ د مواخات (ورورګلوی) ترون وتاړه. په ټولو غزاګانو کې له رسول اللهﷺ سره ملګری و. حضرت عثمانؓ ددمشق قاضي مقرر کړی و. نوموړی دهجرت په(۳۲)کال دحضرت عثمانؓ دخلافت په دور کې په دمشق کې وفات شو.

د ځینو کلمو معناوې

١. أَلاَ أُخْبِرُكُمْ: آیا تاسو خبر نه کړم؟
٢. بِأَفْضَلَ: په غوره عمل.
٣. إِصْلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ: دخلکو ترمنځ سوله راوستل.
٤. الْحَالِقَةُ: ددین له منځه وړونکې.

د حدیث ژباړه

له حضرت ابودرداءؓ څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺوفرمایل: آیا تاسې دداسې عمل څخه خبر نه کړم چې له روژې، لمانځه او صدقې څخه یې درجه لوړه ده ؟ صحابه کرامو وویل: بلې(هوکې) یارسول الله !بیا پیغمبرﷺ وفرمایل: هغه عمل دخلکو ترمنځ سوله روغه راوستل دي، خپل منځي فساد اواختلاف دین له منځه وړي.

د حدیث حکمت

داسلام له ځانګړنو څخه یوهم دکورنیو، پرګنو، قومونو، او نژادونو ترمنځ اتفاق، ورورګلوي، او یو له بل سره په کړنوکې د همغږۍ رامنځ ته کول او ټینګول دي، هرهغه عمل چې دغه وحدت ته زیان رسوي او یا یې کمزوری کوي، داسلام سپېڅلی دین دهغه د له منځه وړلو ټولې لارې په ډېر دقت سره په ګوته کړي دي، ترڅو مسلمانان د وروڼو او خویندو په څېر د مینې او اتفاق تر سیوري لاندې د خوشحالۍ شېبې او ورځې تېرې کړي، یو له هغو اسبابو څخه چې ټولنیز وحدت ته ګوابښ دی د دوو یا زیاتوکسانو تر منځ اختلاف دی پیغمبرﷺ په پورتني حدیث شریف کې د اختلاف له منځه وړل د ډېروعباداتوپه پرتله غوره او بهترعمل ګڼلی دی.

فعالیت

زده کوونکي دې د سولې دګټو په هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړي.

د حدیث شریف ګټې

۱ـدسولې ارزښت داسلام له نظره

داسلام له نظره دسولې ارزښت له نفلي روژې، نفلي لمونځ اونفلي صدقې څخه غوره دی، ځکه چې په روژه او لمانځه کې یوازې فردي مصلحت پروت دی، خو په سوله کې فردي او ټولنیز دواړه مصلحتونه پراته دي او هم په ټولنه کې د فساد د مخنیوي لار ده.

۲ـ سوله یووالی رامنځ ته کوي

په دې حدیث شریف کې مسلمانان سولې ته هڅول شوي دي، د دې لپاره چې سوله هم ملي یووالی تمثیلوي او هم د الله ﷻ په رسۍ (قرآن کریم) باندې دمنګولو لګولو مقصد ترسره کېږي. خپلمنځي اختلافات په دین کې ډېره لویه نیمګړتیا ده، نو څوک چې د خلکو له منځ څخه د فساد او دښمنۍ د ورکولو هڅه کوي، دومره لوړه مرتبه لري چې د نفلي لمونځ کوونکو، روژې او خیرات ورکوونکو له مرتبې څخه لوړه ده.

۳_خپلمنځي اختلافات دیني اړتیاوې

د اختلاف دوام د خپلو خپلوانو سره د صله رحمی پرې کېدلو، د متقابل درناوې له منځه وړلو، د نېکو عملونو د نه قبلیدلو، د ظلم د دوام، په زړونوکې دکرکې او نفرت زیاتېدلو، او د مقابل لوري په هکله د دسیسو په کار اچولو لامل ګرځي چې دا ټول د اسلام له نظره ناروا کارونه دي او له دین او دینداری سره په ټکر کې دي.

فعالیت

یو شمېر زده کوونکي دې د دوو کسانو ترمنځ د سولې راوستلو تمثیل وکړي.



۱ـ لاندې کلمې معنا کړئ.

آ_أَفْضَل.

ب_إِصْلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ.

ج_الْخَالِقَةُ.

۲ـ په پورتني حدیث شریف کې ولې پر سولې دومره زیات ټینګار شوی دی؟

۳_ خپلمنځي اختلافات څه زیانونه لري؟



کورنۍ دنده

د لوست د مهمو ټکو په پام کې نیولو سره د سولې د ارزښت اهمیت په اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ.

په کارونو کې آسانتیا

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ: مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ قَطُّ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا، فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ، وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللَّهِ فَيَنْتَقِمَ بِهَا لِلَّهِ عزوجل). [متفق عليه]

د راوي پیژندنه

حضرت عایشه رضي الله عنها د حضرت ابوبکر صدیقﷺ لور، د پیغمبرﷺ مېرمن او د مسلمانانو مور ده د هجرت په دویم کال پیغمبرﷺ ور سره واده وکړ، خورا فقیهه او عالمه ښځه وه، په ځانګړي ډول د پیغمبرﷺ د ژوندانه په هکله یې پوره معلومات درلودل، له پیغمبرﷺ څخه یې (۲۲۱۰) دوه زره دوه سوه لس حدیثونه روایت کړي دي او د هجرت په ۵۸ کال کې وفات شوه.

د ځینو کلمو معناوې

۱. **مَا خُيِّرَ:** واک اواختیار نه دی ورکړل شوی.
۲. **بَيْنَ أَمْرَيْنِ** په دوه کارونو کې.
۳. **قَطُّ:** هېڅکله.
٤. **إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا:** مګرداچې د هغو اسان به یې غوره کاوه.
٥. **أَبْعَدَ:** ابعد د بعد له مادې څخه اخیستل شوی، دلرې والي معنا لري.
٦. **وَمَا انْتَقَمَ:** انتقام اوبدله یې نه ده اخیستې.
۷. **تُنْتَهَكَ:** دانتهاک له مادې څخه اخیستل شوی چې: دپښولاندې کولومعنا ترې نه مراد ده.
۸. **حُرْمَةُ اللَّهِ:** دالله ﷻ اوامر، نواهي، او احکام.

د حدیث ژباړه

حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایي چې هېڅکله رسول الله ﷺ ته په دوو کارونو کې دیوه د خوښولو اختیار نه دی ورکړل شوی، مګر ده ﷺبه آسانه عمل ترې غوره کاوه، که چېرې ګناه به پکې نه وه، خو که هغه به ګناه وه، نو تر ټولو خلکو نه زیات به یې ځان ترې لرې ساته او پیغمبرﷺ هېڅکله د خپل ځان لپاره له چا څخه غچ نه دی اخیستی، مګر دا چې د الله ﷻ حقوق به تر پښو لاندې کېدل بیا به یې یوازې د الله ﷻ د رضا په خاطر انتقام اخیسته.

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د اسلام په سپېڅلې دین کې د آسانۍ څو بېلګې ووایي.

د حدیث حکمت

رسول الله ﷺ خورا ډېر غوره صفات درلودل، لکه: عفوه، صبر او زغم، استقامت، پراخه سینه، په کړو وړو کې آساني کول، د جفا کوونکو سره په غوره توګه چلند کول او داسې نور چې ځینې یې په دې حدیث کې ذکر شوي دي.

د حدیث ګټې

۱ـ د اسلام سپېڅلې دین د اسانۍ دین دی

اسلامي تعلیمات او ټول تکلیفي احکام د آسانۍ او له مشقت څخه د لرېوالي پر اساس بنا دي چې په هر وخت او هر حالت کې پرې عمل کېدای شي. الله ﷻ خپل بندګان په داسې څه نه دي مکلف کړي چې له کولو یې ناتوانه وي، لکه: چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ [الحج: ۷۸]

ژباړه: او الله ﷻ په دین کې پر تاسې څه سختي نه ده راوستې.

په بل آیت کې الله ﷻ فرمایي: ﴿يُرِيدُ اللهُ أَن يُخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الإِنسانُ ضَعِيفاً﴾ [النساء: ۲۸]

ژباړه: الله ﷻ غواړي چې له تاسې څخه درانه بارونه سپک کړي، ځکه چې انسان له بیوسۍ او کمزورۍ پیدا کړ شوی دی. پیغمبر ﷺ پر دې اساس خپل امت ته په عملي بڼه ورښودلي دي چې دیني او دنیوي کارونه په داسې توګه سرته ورسوي چې سختي پکې نه وي.

۲ـ په ژوند کې د پیغمبر ﷺ پیروي

لکه: چې پیغمبر ﷺ دشریعت د آسانتیا اصل او قانون په خپلو عملي کړنوکې پلی کړی و، نو هرمسلمان ته ښایي چې د پیغمبر ﷺ پیروي وکړي او په دیني او دنیوي کارونوکې آسانه او هغه چې تل یې د سرته رسولو وس ولري ځانته غوره کړي.

۳ـ د حلم، عفوې او صبر مقام

صبر او تېرېدنه د یوه ریښتني مسلمان له غوره اخلاقي صفتونو څخه دوه صفتونه دي. هغه څوک چې د قدرت په وخت کې عفوه غوره او له انتقام اخیستلو څخه لاس واخلي او د نورو له ظلم او تېري څخه تېر شي په حقیقت کې یې د نبي کریم ﷺ د لارې او سنتو پیروي کړې ده.

الله تعالى عفوه كوونكي داسې ستايلي دي: ﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ [آل عمران: ١٣٤]

ژباړه: اوپرهېزګاران هغه کسان دي چې غوسه زغمونکي او د خلکو له (بدۍ) تېرېدونکي وي او الله (داسې) احسان کوونکي خوښوي.

٤ـ د الله ﷻ احکامو ته په درنه سترګه کتل او د بې حرمتۍ څخه ډډه کول ژغورل

قهر او غوسه ګڼ شمېر اسباب لري چې ځینې یې ناسم او ځینې یې په دین کې ستایل شوي دي چې په غیرت هم ورځخه تعبیرکېږي، غیرت هغه وخت د ستاینې وړ دی چې د الله ﷻ د اوامرو، حدود، او حکمونو تر پښو لاندې کېدلو په وړاندې عکس العمل وي، نو پر داسې مهال سستي کول د ایمان دکمزورۍ څخه پرته بل مفهوم نه لري، که څوک د الله ﷻ او د رسول ﷺ حکمونو او دیني اساساتو او مقدساتو ته د سپکاوي او بې احترامۍ د جرم مرتکب شي، باید هغه ته سزا ورکړل شي، ځکه د داسې چا په حق کې بې پروایي لویه ګناه ده.

فعالیت: زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته پر هغو مواردو چې غوسه پکې ستایل شوې ده په خپلو منځونو کې دې خبرې وکړي.

پوښتنې

١. لاندې کلمې معنا کړئ:

الف: خُيِّر:

ب: بَيْنَ أَمْرَيْنِ:

ج: أَيْسَرَهُمَا:

د: قَطُّ:

٢. د ښو اخلاقو څو مثالونه ذکرکړئ.

٣. د حرمة الله څخه څه مراد دی؟ واضح یې کړئ.

کورنۍ دنده

د ښېنې په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

د ظلم مخنیوی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ –رَضِيَ اللهُ عَنْهُ– عَنِ النَّبِيِّ –صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ– قَالَ: **اُنْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا، فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْصُرُهُ إِذَا كَانَ مَظْلُومًا أَفَرَأَيْتَ إِذَا كَانَ ظَالِمًا كَيْفَ أَنْصُرُهُ قَالَ تَحْجُزُهُ أَوْ تَمْنَعُهُ مِنْ الظُّلْمِ فَإِنَّ ذَلِكَ نَصْرُهُ.** {رواه البخاری}

د ځینو عبارتونو معناوې

۱ـ **انْصُرْ أَخَاكَ:** دخپل (مسلمان) ورورمرسته وکړه.

۲ـ **تَحْجُزُهُ أَوْ تَمْنَعُهُ مِنْ الظُّلْمِ:** له ظلم څخه یې راوګرځوه.

۳ـ **فَإِنَّ ذَلِكَ نَصْرُهُ :** بې له شکه دغه کار له هغه سره مرسته ده.

د حدیث ژباړه

د انس ﷺ څخه روایت دی چې نبي اکرم ﷺ فرمایلي: د خپل ورور سره مرسته وکړه، که هغه ظالم وي او که مظلوم. یوه سړي ورته وویل: ای د الله رسوله! که چېرې مظلوم وي مرسته به یې وکړم، مګرکه ظالم وي بیا یې څرنګه مرسته وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: له ظلم څخه یې راوګرځوه، بې له شکه دا مرسته ده، له هغه سره.

د حدیث سبب ورود

په مسلم شریف کې له جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چې د پیغمبر اکرم ﷺ په زمانه کې دوه کسان سره په جنګ شول یو یې مهاجر او بل یې انصاري و. مهاجر غږ وکړ چې اې مهاجرو! د مهاجر مرسته وکړئ، انصاري هم غږ وکړ چې اې انصارو! د انصاري مرستې ته راورسېرئ. پیغمبر ﷺ راووت او ویې وویل: داڅه د جاهلیت د زمانې خبرې کوئ؟! اصحابو وویل: په الله ﷻ قسم چې داسې نه ده. دې دوو کسانو یو بل سره ووهل، پیغمبر ﷺ وفرمایل: دا پروا نه لري، باید هر یو له تاسو څخه د خپل ورور سره که هغه ظالم او یا مظلوم وي مرسته کړې وای.

د حدیث حکمت

د ظلم او تېري ټول ډولونه حرام دي او له منځه وړل يې د هر مسلمان دنده ده، اسلام خلکو ته په عدل او انصاف امر کړی دی، له مسلمان څخه په کلکه غوښتنه کوي چې په نیکو اخلاقو باندې ځان سمبال کړي، دا ځکه چې د هر ډول پرمختګ او قانونیت د پلي کیدلو اساس عدل او انصاف دی، څرنګه چې ظلم او تېری د ټولو بدمرغیو لامل دی، نو ځکه پیغمبرﷺ په دې حدیث شریف کې د هر ډول ظلم مخنیوی لازم بللی دی.

د دې حدیث له مخې له ظلم سره مبارزه یوه شرعي وجیبه ده، مسلمان مکلف دی چې له مظلوم سره مرسته وکړي، حق يې ورته واخلي او ظالم له ظلم کولو څخه منع کړي.

فعالیت

په ډله ییزه توګه د فردي او اجتماعي ظلمونو څومثالونه ووایئ.

د حدیث شریف ګټې

۱ـ د ظلم او ظالم مخنیوی اړینه ده

په هره ټولنه کې زورور اوکمزوری ژوند کوي، ظلم چې عموماً د زورورو له خوا د کمزورو په مقابل کې ترسره کیږي یو ناوړه خصلت دی.

ظلم ټول انسانیت له منځه وړي، نو باید د مخنیوي لپاره يې ټول انسانان یو موټی شي، که چېرې خلک د ظلم په وړاندې یو له بل سره مرسته ونه کړي، د ظالم لاس له ظلم څخه لنډ نه کړي، مظلوم د ظالم له پنجو ونه ژغورل شي، نوظلم به دومره پراخه شي چې د ځمکې پرمخ به ژوندي انسانان تر خاورو لاندې او ولاړې آبادۍ به رانسکورې شي، نو مسلمان مکلف دی چې د ظلم په وړاندې ودرېږي او د ظالم مخنیوی وکړي.

۲ـ له مظلوم سره مرسته لازمه ده

د هغو حقوقو له جملې څخه چې یو مسلمان يې پر بل لري له مظلوم سره مرسته کول دي، که چېرې داسې څوک ولیدل شي چې پر هغه ظلم او تېری کېږي، نو پر نورو مسلمانانو لازم دي چې له هغه سره د هرې ممکنې وسیلې له لارې مرسته وکړي او له ظلم څخه يې وژغوري، دا هغه حق دی چې داسلام سپېڅلي دین ټول مؤمنان يې پرې مامور کړي دي.

۳_ له ظالم سره مرسته يعنې څه؟

کله چې د ظالم لفظ ذکر شي فکر کيږي چې ظالم هغه څوک دی چې يوازې پر نورو تېری کوي، خو داسې نه ده، ځکه ظالم هغه چاته هم ويل کيږي چې پرخپل ځان ظلم کوي، لکه: شرک، کفر، ځان وژنه، صغيره اوکبيره ګناهونه چې دا پر خپل ځان او نفس يو ډول ظلم دی، نو لازمه ده چې د هر ډول ظالم لاس له ظلم څخه ونيول شي، ترڅو د دنيوي او اخروي سزاګانو څخه وژغورل شي، له ګناه څخه د ظالم ژغورنه په حقيقت کې له ظالم سره مرسته کول دي.

فعاليت

له ظلم څخه لاس نيونه څرنګه کيږي؟ د ښوونکي په مرسته په ډله ييزه توګه يې لاړې چارې په ګوته کړئ.

پوښتنې

۱ـ د حديث راوي معرفي کړئ.

۲ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

أ – اُنْصُرْ أَخَاكَ

ب – تَحْجُزُهُ أَوْ تَمْنَعُهُ مِنْ الظُّلْمِ

ج – فَإِنَّ ذَلِكَ نَصْرُهُ

۳_ظالم چاته ويل کيږي؟

کورنی دنده

پورتنی حديث په يادو زده کړئ او هم لوست په خپلو کتابچو کې وليکئ.

د غضب درملنه

عن عطية قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ وَإِنَّمَا تُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ». [سنن ابي داود]

د راوي پيژندنه

عطية د عروة زوی د بنو سعد له قبيلې څخه د رسول الله ﷺ يو جليل القدر صحابی و، له رواياتو څخه وروسته يې له پيغمبر ﷺ سره ملاقات کړی او له هغه مبارک څخه يې ځينې احاديث هم روايت کړي، په شام کې يې هستوګنه غوره کړه او اولادونه يې په بلقاء سيمه کې اوسېدل.

په ځينو رواياتو کې د **عطية** بن سعد او په ځينو نورو کې د **عطية** بن عمرو په نامه ياد شوی. د ده لمسی عروة د محمد بن **عطية** زوی د عمر بن عبدالعزيز له خوا د يمن والي ټاکل شوی و.

د ځينو کلمو معنا

۱ـ **الْغَضَبُ مِنَ الشَّيْطَانِ:** قهراوغوسه د شيطان له خوا وي.

۲ـ **خُلِقَ مِنَ النَّارِ:** له اور څخه پيداشوی.

۳ـ **تُطْفَأُ:** مړ کيږي

۴ـ **فَلْيَتَوَضَّأْ:** اودس دې وکړي.

د حديث ژباړه

د عطيه عوفي ﷺ څخه روايت دی چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: بې له شکه غوسه د شيطان له طرفه وي او شيطان له اور څخه پيدا شوی دی او اور په اوبو مړ کيږي هرکله چې له تاسو څخه څوک په غوسه شي، نو اودس دې وکړي.

د حديث حکمت

د غوره اخلاقو له جملې څخه يو هم د قهر او غوسې څخه ځان ساتل دي، ځکه قهر او غوسه د شيطان له وسوسو څخه پيدا کيږي او شيطان د انسان ازلي دښمن دی، پيغمبر ﷺ مور ته د شيطان له دسيسو څخه د خلاصون او ژغورنې ټولې لارې راپه ګوته کړې دي چې له هغو څخه يو له غوسې څخه ډډه کول دي، ځکه غوسه انسان ډبرو ناوړو کارونو ته اړ باسي چې په انسان کې دده د ناکامۍ لامل کيږي.

فعاليت

زده کوونکي دې د غوسې د اړتياو په هکله يو بل ته معلومات ورکړي.

د حدیث ګټې او احکام

۱ـ غضب کمزوري او زغم قوت دی

ډېر ژر غوسه کېدل د انسان د کمزورتیا نښه ده، لکه: چې د غضب په مقابل کې زغم د قوت نښه ده، دا ځکه چې د غوسې پر وخت انسان پر خپلو حواسو کنټرول له لاسه ورکوي، که دا حالت دوام ومومي ډېرې ناخوالې رامنځ ته کوي، هغه څوک چې د غضب په حساسه لحظه کې خپل ځان اداره کړي، یقیناً ځان یې د بدیو څخه وژغوره او هم یې دغضب په مقابل کې خپل قوت څرګند کړ.

۲ـ د غوسې پروخت خپل ځان اداره کول بریالیتوب دی

کله چې انسان په غوسه شي، نو حیواني طبیعت پرې غالب شي، د انسان په باطن کې د شر قوه برلاسی مومي چې په نتیجه کې بشري نفس د خپلو غوښتنو تابع کوي، د الله ﷻ د اوامرو مخالفت ته یې اړ باسي او له نېکیو څخه یې منع کوي، نو په داسې حالت کې انسان ته په کار ده چې له خپل نفس سره مبارزه وکړي، د خپل نفس د کنټرولولو په نیت اودس وکړي چې همدا د نفس د کنټرول تر ټولو غوره لار ده.

۳ـ د غوسې بدې پایلې

غوسه دبد اخلاقۍ سرچینه اویوه وژونکې وسله ده، که چېرې په ژوند کې د غوسې لار تعقیب کړای شي، نو ګڼې فردي اوټولنیزې ستونزې ورڅخه راولاړېږي.

ا ـ د غوسې فردي زیانونه

غوسه ډېر مادي، معنوي، روحي او ديني ضررونه لري، دا هغه مها ل په ډاګه کېږي چې کله د غوسه ناک شخص حالت ته وکتل شي: رنګ یې بدلېږي، د بدن وینه یې په جوش راځي، د وجود غړي یې بې واکه کېږي، په خبرو کې یې ګډوډي رامنځ ته کېږي، ژبه یې په سپکو ویناوو پیل کوي، کله کله ورڅخه د فسق او کفر الفاظ هم صادرېږي دا ټول هغه څه دي چې دده دین او بدن دواړه زیانمنوي.

ب ـ د غوسې ټولنیز زیانونه

غوسه د خلکو په زړونو کې کرکه او نفرت پیدا کوي چې په پایله کې د وګړو ترمنځ اختلافات راپاروي، مسلمانان یوله بل څخه جلا کوي، دښمني زیاتوي، ژوند تریخوي او د ټولنو د بربادۍ سبب ګرځي.

۴ـ د غوسې لاملونه

په دې حدیث شریف کې د غوسې لامل شیطان ښودل شوی دی، دا په دې معنا چې د کوم انسان زړه د الله ﷻ له ذکر او یاد څخه خالي وي، نو په هغه زړه کې شیطان ځای نیسي، شیطان دده پر زړه او ټول جسم باندې مسلط کېږي، آن تردې پورې چې د انسان زړه او ټول بدن د شیطان د وسوسو تابع شي بیا کبر، په خلکو ټوکې او مسخرې کول، په مال، ځان، نسب او څوکۍ غرور کول او داسې نور خویونه د انسان په زړه کې ځای ونیسي، او تل د خلکو د هرې کړنې په مقابل کې ډېر ژر په قهر کېږي، نو هر مسلمان ته

په کار ده چې تل خپله رابطه له خپل رب سره کلکه او خپل زړه د الله ﷻ په یادولو ژوندی وساتي، څو د شیطان د دسیسو او وسوسو شکار نشي.

۵ـ د غوسې مخنیوی او درملنه

غوسه د نورو ناروغیو په څیر یو ډول ناروغي ده، د اسلام سپیڅلی دین ددغې خطرناکې ناروغۍ د درملنې او مخنیوي لارې راښودلې دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

۱ـ پرهر چا لازمه ده چې ځان په ښو اخلاقو سمبال کړي، غوره صفتونه خپل عادت وګرځوي، لکه: صبر، زغم، په ژوند کې ثبات، په ویناوو او کړنو کې فکر کول او داسې نور.

۲ـ د غوسې پر وخت د(اعوذبالله من الشیطن الرجیم) ویل.

۳ـ خپل حالت بدلول: که چېرې د غوسې پر وخت انسان ولاړ وي باید کښې اوکه ناست وي ډډه دې ووهي، ځکه چې په ولاړه کې انسان انتقام او اقدام ته تیار وي او کله چې کښې او یا ډډه ووهي، د غوسې جوش یې کمیږي.

۴ـ اودس کول: دا هغه درملنه ده چې په دې حدیث کې یې ذکر شوی دی، دا ځکه چې غوسه د انسان په وجود کې حرارت او ګرمي پیدا کوي او وینه په جوش راولي، خو اودس یا غسل په جسم کې سوړوالی راولي او د وینې حرارت راټیټوي.

همدا راز اودس د عبادت هغه برخه ده چې په کې د الله ﷻ ذکر او یاد ترسره کېږي، دا هرڅه شیطان سپکوي او تېښتې ته یې اړ باسي.

فعالیت

زده کوونکي دې د غوسې د له منځه وړلو په هکله یو بل ته معلومات ورکړي.

پوښتنې

۱ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

- **الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ:**
- **خُلِقَ مِنَ النَّارِ:**
- **تُطْفَأُ:**
- **فَلْيَتَوَضَّأْ:**

۲ـ د غضب اسباب په لنډه توګه بیان کړئ.

۳ـ د غضب درملنه اوعلاج څه دی؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

کورنۍ دنده

لوست په خپلو کتابچوکې ولیکئ او حدیث په یادو زده کړئ.

غوره خلک

عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: «خَيْرُ النَّاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ»

[مسند الشهاب القضاعي]

د راوي پيژندنه

نوم يې جابر او د پلار نوم يې عبد الله، د مدينې منورې د خزرج له قبيلې څخه و، پلار او زوی دواړه جليل القدره صحابه وو، پيغمبرﷺ ورته په يوه شپه کې پنځه ويشت ځله د مغفرت دعاء کړې وه، د بدر او اُحد څخه پرته يې په ۱۹غزاګانو کې له رسول اللهﷺ سره يې برخه اخيستې ده، په خپل وخت کې د مدينې منورې لوی مجتهد او مفتي و، د هجرت په (۷۸) کال يې له فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې.

د ځينو کلمو معناوې

۱ـ خيرالناس: غوره له خلکو څخه.

۲ـ انفعهم: زيات خير رسوونکې له دوی څخه.

۳ـ للناس: دخلکو لپاره.

د حديث ژباړه

جابرﷺ فرمايې چې رسو ل اللهﷺ فرمايلي دي: په انسانانو کې غوره هغه څوک دی چې نورو خلکو ته زيات خير او ګټه رسوي.

د حديث حکمت

د ځينو خلکو په آند ښه او غوره کس هغه دی چې د ښه نسب، ډېر ثروت او قدرت څښتن وي، خو پيغمبرﷺ له نورو خلکو سره نېکي کول، خلکو ته مادي او معنوي ګټې رسول د غوره والي معيار ګڼلی دی، دا څکه چې د اسلام سپېڅلی دين د خير او ښېګڼې دين دی.

فعاليت

زده کوونکي دې په ډله ييزه توګه له خلکو سره د نېکۍ کولو يو څو مثالونه ووايې.

د حديث شريف ګټې

۱ـ د الله تعالى مرسته

د اللهﷻ پر وړاندې خلک په يو ډول نه دي، هغه څوک چې د خلکو سره په روا کارونو کې مرسته کوي د هغه سره د اللهﷻ مرسته مل وي او مينه يې ورسره زياته وي، نو بايد مور له خلکو سره په نيکو کارونو کې مرسته وکړو، څو د اللهﷻ مرسته او مينه مو په برخه شي.

۲ـ ښېګڼه څه ته وايي؟

پيغمبرﷺ انسانان دې ته هڅوي چې له نورو سره نېکي وکړي، هغوی ته خير ورسوي، خوښي وروښيي او له هغوی څخه غمونه او تکليفونه لرې کړي. مثلاً که چېرې څوک وږی وي ډوډۍ دې ورته ورکړي، که څوک پوروړی وي د پور په ادا کولو کې دې ورسره مرسته وکړي، له ناروغ سره دې د علاج په برخه کې همکاري وکړي او ناپوهانو ته دې د زده کړې لاره هواره کړي. پيغمبرﷺ د داسې خويونو څښتنانو ته د الله ﷻ دمرستې او مينه زيری ورکړی دی.

فعاليت

زده کوونکي دې په ډله ييزه توګه ښه او بد خويونه په ګوته کړي.

پوښتنې

۱ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

- خيرالناس:
- انفعهم:
- للناس:

۲ـ د حديث لنډه معنا ووياست.

۳ـ غوره خلک څوک دي؟

کورنۍ دنده

۱ـ حديث شريف له معنا سره په يادو زده کړئ.

۲ـ (په ښوونځي کې د خير او ګټې کارونو) تر عنوان لاندې يوه لنډه مقاله وليکئ.

د ايمان خصلتونه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ ». [متفق عليه]

د راوي پيژندنه

عبدالرحمن بن صخرالدوسي چې پر ابو هريره يې شهرت درلود، د هجرت په اووم کال د خيبر له غزا څخه مخکې د دېرشوکالو په عمر د اسلام په مبارک دين مشرف شو، په همدغه غزا کې يې برخه هم واخيسته، کله چې مدينې منورې ته ورسېد، په نبوي جومات کې يې د علم د زده کړې په غرض په اصحاب صفه کې شامل شو، له همدې امله يې له رسول الله ﷺ څخه (٥٣٧٤) حديثونه روايت کړي دي.

دغه جليل القدر صحابي په تقوى او پرهېزګارۍ کې مشهور او د قوي ذکاوت خاوند و چې د هجرت په اته پنځوسم (٥٨) کال کې وفات شو.

د ځينوکلمو معناوې

١_الإِيمَانُ: باور او د زړه کلک تصديق.

٢_بِضْعٌ: په عربي ژبه کې له دريو څخه تر نهو پورې عدد ته وايي.

٣_شُعْبَةً: برخه.

٤_أَفْضَلُهَا: غوره يې.

٥_اَدْنَاهَا: کوچنۍ، او ټيټه يې.

٦_ إِمَاطَةُ: لرې کول

٧_الأَذَى: زيان رسوونکي شيان.

د حديث ژباړه

له حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: ايمان د څه د پاسه اويا خويونو څخه عبارت دی چې غوره يې د (لااله الا الله) کلمه ويل دي، ټيټه درجه يې له لارې څخه د زيان رسوونکو شيانو لرې کول دي او حياء د ايمان يوه برخه ده.

فعالیت

زده کوونکي دي په ډله ییزه توګه په لارو کې د ضرري شیانو مثالونه وښیي.

د حدیث ګټې

۱ـ دایمان خصلتونه

پیغمبر ﷺ ایمان له داسې ونې سره تشبیه کړې چې ډېر ښاخونه ولري، ځینې یې اوچت، ځینې یې متوسط، او څه یې ټیټ وي، دا په دې معنا چې ایمان له ډېرو خصلتونو او خویونو څخه عبارت دی چې د ژوند له اوچتې سطحې څخه پیل او د ژوند تر ټیټې سطحې پورې ځانګړي احکام او سپیڅلي لارښوونې لري چې د بېلګې په ډول یې په دې حدیث کې د عقیدې په برخه کې کلمه طیبه، د ټولنیز ژوند په برخه کې د لارې پاکول، او د اخلاقو په برخه کې د حیاء ذکر راغلی دی.

۲ـ د توحید کلمه

د توحید کلمه د (لا إله إلا الله محمد رسول الله)څخه عبارت ده چې د الله ﷻ په الوهیت او وحدانیت دلالت کوي، د ټولو ادیانو او پیغمبرانو د دعوت اساس او بنسټ په دې مبارکه کلمه ولاړ دی، نو پر هر مسلمان لازم دي چې د دې کلمې په معنا ځان پوه کړي، پر غوښتنو یې عمل وکړي او تر سیوري لاندې یې ژوند تېرکړي. (لا إله إلا الله) یوازې د ژبې کلمه نه ده او نه یوازې مفکوره ده، بلکې په الله ﷻ د ایمان عنوان دی، علم او عمل دی، د عقیدې، شریعت او د ټولنې د هوسا ژوند د متضمن نظام نوم دی.

۳ـ د لااله الا الله فضیلت

(لااله الا الله) داسې ستره کلمه ده چې په ویلو یې انسان د اسلام په مبارک دین کې داخلېږي، له تېرو ګناهونو څخه داسې پاکېږي، لکه: چې له مور څخه نوی زېږېدلی وي او له هلاکېدو څخه ژغورل کېږي. پیغمبر ﷺ فرمایي: « مَنْ كَانَ آخِرُ كَلاَمِهِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ ».[۱]

ژباړه: د چا چې اخرنۍ وینا (لااله الا الله) وي جنت ته به داخل شي.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «لو أنَّ السماوات السَبعَ والأرضين السبعَ، وضْعنَ فِي كفةٍ ووضعت لا إله إلا الله فِي كفة مالت بهن لا إله إلا الله»[۲]

---

۱ – سنن أبي داود.

۲– الدعاء للطبراني

ژباړه: که چېرې اووه اسمانونه او اووه طبقې ځمکه دتلې په یوه پله کې واچول شي او د (لااله الاالله) کلمه د تلې په بله پله کې واچول شي، نو هرومرو به کلمه طیبه پرې درنه وي.

٤_ د (لااله الا الله) غوښتنه:

د دې کلمې غوښتنه په الله ﷻ، د هغه پر ملایکو، د هغه په رسولانو او د هغه ﷻ پر کتابونو ایمان درلودل دي. همدا راز د الله ﷻ او د هغه دلېږل شوي پیغمبر ﷺ اتباع او پیروي کول، یوازې د الله ﷻ څخه وېره او د هغه سره مینه، د مافوق الاسباب امید یوازې د الله ﷻ څخه کول، له الله ﷻ څخه د حاجتونو غوښتل، یوازې الله ﷻ ته عاجزي او سر ټیټول، د هغه د نعمتونو شکر اداکول او د مصیبت پر وخت یوازې له هغه څخه مرسته غوښتل دي.

٥_ له لارو او سرکونو څخه د زیان رسوونکو شیانو لرې کول

په نظافت او پاکوالي د اسلام سپېڅلي دین ډېر ټینګار کړی او هغه یې د ایمان نیمایې برخه ګڼلې ده. د دې لوست په حدیث شریف کې د لارو پاک ساتلو ته د ایمان یوه برخه ویل شوې ده چې دا د چاپېریال د پاک ساتلو په ارزښت دلالت کوي.

د دې حدیث شریف په بنسټ د هر مسلمان دا دنده ده چې د لارو په پاک ساتلو کې هڅه وکړي او له هر هغه څه څخه چې لارویانو ته د زیان رسولو او د لارې د ککړتیا لامل ګرځي ځانونه وساتي.

٦_ حیاء د ایمان یوه برخه ده

حیاء له داسې خصلت څخه عبارت ده چې انسان له ناوړو کارونو، سپکو عادتونو او پوچو ویناوو څخه ژغوري، حیاء، ځکه د ایمان برخه ګڼل شوې چې د حق لوري ته بلنه کوي او د خیر خوا ته انسانان هڅوي.

حیا ټوله خیر ده پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «الْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ»

ژباړه: حیا ټوله خیر ده.

خوکه چېرې حیا د زده کړې مانع وګرځي، یا د خپل حق د غوښتلو په لاره کې خنډ شي او یا هم د حق ویلو مانع وګرځي، نو بیا دا حیا نه، بلکې د انسان په کمزورۍ دلالت کوي.

پوښتنې

۱ـ ابوهریره ﷺ څوک و؟

۲ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

- **الإِيمَانُ:**
- **بِضْعٌ:**
- **شُعْبَةً:**
- **إِمَاطَةُ:**
- **الأَذَى:**

۳ـ د توحید غوښتنې څه دي؟

۴ـ له لارې څخه د زیان رسوونکو توکو لرې کول څه اهمیت لري؟ په اړه یې لنډ معلومات ورکړئ.

کورنۍ دنده

د حیا په اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ.

تعصب

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -ﷺ- قَالَ: « لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ ». [سنن أبي داود]

د راوي پېژندنه

نوم يې جبيراو د پلار نوم يې مطعم د قريشو له قبيلې څخه و، ډېر حليم او په علم الانساب کې يې خورا زياته پوهه درلوده. يو له هغو کسانو څخه و چې هغه پاڼه يې خبرې کړه کومه چې د بنو هاشم او بنو مطلب د مقاطعې په غرض قريشو ليکلې وه، هغه شخص و چې قريشو د بدر د بنديانو په سر د خبرو لپاره د استازي په توګه د پيغمبرﷺ حضور ته ليږلی و، کله چې د پيغمبرﷺ حضور ته راغی او د (الطور) سورت تلاوت يې واورېده، نوده په زړه يې زياته اغېزه وکړه، هماغه و چې د حديبې له سولې څخه وروسته يې اسلام ومانه. نومورې د هجرت په (۵۸) کال کې وفات شو.

د ځينو کلمو معناوې

۱-لَيسَ مِنَّا: زمونږ له ډلې (دين) څخه نه دی.

۲_ مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ: څوک چې قوم پرستی، نژاد پرستی. . . ته بلنه کوي.

۳_مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ: څوک چې د قوم پرستی، نژاد پرستی. . . لپاره جنګيږي.

٤_مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ: څوک چې د قوم پرستی، نژاد پرستی په لاره کې مړشي.

د حديث شريف ژباړه

له جبير بن مطعمؓ څخه روايت دی چې پيغمبرﷺ فرمايلي دي: زمونږ له ډلې څخه نه دی هغه څوک چې تعصب ته بلنه کوي، زمونږ له ډلې څخه نه دی، هغه څوک چې د عصبيت په خاطر جګړه کوي او زمونږ له ډلې څخه نه دی هغه څوک چې د عصبيت په فکر مړشي.

د حديث حکمت

عصبيت (تعصب کول له قبيلې، قوم، ژبې، نژاد، سيمې او داسې نورو سره) هم دجاهليت دزمانې راپاتې ميراث دی چې تل بشريت ګواښوي او آرامې ټولنې ړنګوي، له همدې امله پيغمبرﷺ په کلکو الفاظو سره عصبيت ناروا او حرامه پديده ګڼلې ده، نو په هر مسلمان باندې لازمه ده چې د ايمان له غوښتنې سره سم د جاهليت له دې ناولې پديدې سره په هر شکل کې چې وي مبارزه وکړي.

د حدیث شریف ګټې

۱ـ تعصب د جاهلیت شعار

له خپلې کورنۍ، قبیلې، نژاد، ژبې او سیمې څخه په ناحقه دفاع او ملاتړ کولو ته تعصب ویل کیږي.

له اسلام څخه مخکې به خلکو له خپلو خپلوانو، کورنیو او قبیلو څخه په حق او باطل دواړو حالتونو کې دفاع کوله، دا کار لوی زړورتوب او شجاعت ګڼل کېده، کله چې د اسلام مبارک دین څرک وواهه، نو د نورو ظالمانه او جاهلانو رسمونو په څېر یې د قوم پرستۍ، او نژاد پرستۍ لمنه هم ور ټوله کړه، عصبیت یې کلک وغنده، خلکو ته یې امر وکړ چې په اسلام کې یو له بل سره د مرستې اساس یوازې پر عدالت او تقوی ولاړ دی. الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾[المائدة:۲]

ژباړه: او یو له بل سره په نېکۍ او تقوی کې مرسته وکړئ، د ګناه او ظلم په کارونوکې یوله بل سره مرسته مه کوئ.

۲ـ په اسلام کې د برترۍ معیار

د جاهلیت په دوره کې به خلکو د عصبیت په خاطر په پټو سترګو جنګونه کول، یو د بل پرخلاف به یې دسیسې جوړولې، په قوم، نسب او حسب به فخر کول لوی ویاړ بلل کېده، خو د اسلام سپېڅلي دین تواضع او د ژوندانه په چارو کې یوله بل سره مرسته او نېک عملونه د برترۍ معیار وټاکه او خلکو ته یې په ډاګه کړه چې په مسلمانانوکې هغه څوک غوره دی چې له الله ﷻ څخه ویریږي او د تقوی خاوند وي. الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُم عِندَ اللهِ أَتْقَاكُم﴾ [الحجرات: ۱۳]

ژباړه: بېشکه د الله ﷻ په وړاندې په تاسو کې هغه څوک ډېر غوره دی چې له الله ﷻ څخه ډېر ویریږي.

له تقوی څخه پرته په مال، نسب، حسب او د پلرونو او نیکونو په میړانو ویاړ کول هېڅ ارزښت نه لري.

۳ـ عصبیت ته بلنه حرام عمل دی

اسلام عصبیت ته بلنه په بشپړه توګه حرامه کړې ده، که هغه بلنه قبیلوي رنګ ولري، که اقلیمي، سمتي او یا ژبنۍ بڼه ولري، ځکه چې عصبیت ته بلنه د نژادونو، قومونو او پرګنو ترمنځ کرکه او نفرت پیدا کوي، اسلامي وروړګلوي له منځه وړي، او انساني ټولنه چې بنیاد یې په یووالي ولاړ دی بربادوي، خلک د ځان غوښتنې په بد مرض اخته کوي.

د عصبیت د ریښو په ویستلو سره له ټولنې څخه ظلم او د نورو په حقوقو تجاوز کمیږي او د انسانانو ترمنځ د مرستې مینې اړیکې لا پیاوړې کیږي. الله ﷻ دجاهلیت د زمانې د ناخوالو او بې اتفاقۍ لرې کولو په هکله فرمایي:

﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾[آل عمران: ١٠٣].

ژباړه: اود الله ﷻ هغه نعمت یاد کړئ کله چې تاسې په خپلو کې دښمنان وئ، بیایې ستاسو د زړونو ترمنځ مینه واچوله، نوددې د نعمت په برکت سره وروڼه شوئ.

٤ـ د عصبیت لپاره جګړه

پیغمبر ﷺ جاهلیت له بیخه ویستلی، د هغه زهرجنه ماده یې له منځه وړې، لکه: څرنګه چې عصبیت ته د بلنې ټول ډولونه یې حرام کړي، همدا راز د عصبیت په بناء جګړه کول یې هم حرام کړي دي.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «ومن قُتِلَ تحت راية عمية، يغضب للعصبية، ويقاتل للعصبية فليس من أمتي»[1]

ژباړه: څوک چې د عصبیت د بیرغ لاندې مړ شي، څوک چې د عصبیت په خاطر په غوسه کیږي او څوک چې د عصبیت په لاره کې جنګیږي زما له امت څخه نه دی.

٥ـ د جاهلیت مرګ

څوک چې په پټو سترګو د عصبیت په خاطر په ژبه، لاس او نورو وسیلو سره مبارزه او جګړه کوي، په دې لاره کې مړ شو، نو د ده مرګ د جاهلیت د زمانې د مړو په څیر ناوړه مرګ دی.

٦ – د جاهلیت له عصبیتونو سره مبارزه.

د دې لوست د حدیث شریف او د قرآن کریم او د پیغمبر اکرم ﷺ د سنتونو د نورو نصوصو په بنسټ، له هر ډول عصبیتونو سره (که هغه قومي، سیمه ییز، ژبنې، نژادي او داسې نور وي) جهاد او مبارزه کول د هر مسلمان دنده او شرعي رسالت دی، ځکه عصبیت ډېره خطرناکه او وژونکې ناروغي ده چې په ټولنه کې د امنیت ټینګښت او اسلامي وروګلوي کمزورې کوي او د خلکو تر منځ د دښمنیو او کړکیچ پیدا کېدلو لامل ګرځي.

---

١ – رواه مسلم

فعالیت

د ښوونکي په مرسته دې زده کوونکي د جاهلیت د زمانې د شـخړو او جنګونـو پـه هکلـه معلومات سره شریک کړي.

پوښتنې

۱. د حدیث راوي څوک دی معرفي یې کړئ.

۲. لاندې کلمې معنا کړئ:

ا_ لَيْسَ مِنَّا:

ب_مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ:

ج _ مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ:

د _ مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ:

۳. قوم پرستي د اسلام له نظره څه حکم لري؟

٤. که څوک د عصبیت په خاطر جنګېږي او پـه دې لاره کـې مـړ شـي، د ده مـرګ د اسلامي شریعت له مخې څه حکم لري؟

کورنۍ دنده

د لوست حدیث په یادو زده کړئ.

(په اسلام کې د برترۍ معیار) تر عنوان لاندې لس کرښې مقاله ولیکئ.

د مؤمن شان (حالت)

عن صهيب بن سنانٍ – ﷺ –، قَالَ: قَالَ رسولُ الله – ﷺ – «عَجَباً لأمْرِ المُؤمنِ إنَّ أمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خيرٌ وليسَ ذلِكَ لأَحَدٍ إلا للمُؤْمِن: إنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكانَ خَيراً لَهُ، وإنْ أصَابَتْهُ ضرَاءُ صَبَرَ فَكانَ خَيْراً لَهُ ». [رواه مسلم]

د راوي پيژندنه

نوم يې صهيب الرومي د پلار نوم يې سنان بن مالک دی، لاکوچنی و چې رومیانو د موصل په ځینو برخو حمله وکړه او دی يې له ځانه سره په اسارت بوت، د رومیانو په منځ کې رالوی شو، له دې کبله په رومي مشهور و. له لومړنیو مؤمنانو څخه و.

په ټولو غزاګانو کې يې له رسول الله ﷺ سره ونډه اخیستې وه. د هجرت په اته دېرشم (۳۸) کال په مدینه منوره کې وفات شو.

د ځینو کلمو معناوې

۱. عَجَباً: تعجب دی (یعنې زه تعجب کوم)
۲. لأمْرِ المُؤمنِ: دمؤمن حالت(ژوند) ته.
۳. إنَّ أمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خيرٌ: دده ټول ژوند دده لپاره خیر دی.
٤. إنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ: که ورته خوشحالي ورسیږي.
٥. إنْ أصَابَتْهُ ضرَّاءُ: که ورته زیان اوتکلیف ورسیږي،
٦. فَكانَ خَيْراً لَهُ: نودده لپاره خیر دی.

د حدیث شریف ژباړه

له صهیب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د مؤمن حالت د تعجب وړ دی! دده ټول ژوند دده لپاره خیر دی چې دا خیر د هیچا لپاره نشته خو یوازې د مؤمن لپاره دی. که خوشحالي ورته ورسیږي شکر باسي، نو دا ورته خیر دی اوکه ضرر او یا کوم تکلیف ورته ورسیږي، نو صبر پرې کوي چې دې کې هم د ده لپاره خیر دی.

د حدیث شریف حکمت

هر انسان په ورځني ژوند کې له مختلفو حالاتو سره مخ کیږي، کله خوښي او سوکالي، کله پرېشاني او تکلیفونه چې دا دواړه حالته اکثره د انسان په عادي ژوند مستقیماً منفي اغیز لري او په ډېرو وختونو کې د باطني ناروغیو لامل ګرځي، لکه ځان لوی ګڼل، غرور او داسې نور همدا راز ځینې وخت ناهیلي، اندېښنې، د زړه نا آرامي او داسې نور حالات ورته پیښیږي.

پیغمبرﷺ په دې حدیث کې د دغو دواړو ډولو ناروغیو د درملنې لپاره دوه مهم بنسټونه ښودلي دي: یو دا چې د خوښۍ او نعمت پر مهال د اللهﷻ شکر پرځای کول او دویم د ستونزو او پریشانۍ پر مهال له صبر او زغم څخه کار اخیستل دي. کله چېرې انسان دغه دوه لوی خویونه په خپل ژوند کې پلي کړي، نو نه یوازې دا چې د ژوند هره شېبه به یې په راحت او ډاډ تېرېږي، بلکې د ژوندانه په هر ډګرکې به تل بریالی وي.

د حدیث شریف ګټې

۱ـ انسان ازمویل کېږي

انسان د ژوند په هره شیبه کې تر آزمېښت لاندې وي، کله د خیر او راحت په آزموینه کې وي، لکه: ښه روغتیا، مال، اولاد. . . او نور، او کله دکړاوونو، لکه مرګ، مرض، بېوزلي او داسې نورو ستونزو سره مخ وي. اللهﷻ فرمایي: ﴿وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً﴾ [الأنبياء: ۳۵]

ژباړه: او موږ په بدو، او ښو (حالاتو کې) ستاسې آزمېښت کوو نوځوک چې په اللهﷻ ایمان نه لري ارو مرو په دغه آزموینه کې له ناکامۍ او بد مرغۍ سره مخ کېږي، یوازې مؤمن دی چې په اللهﷻ د کلک ایمان له برکته په دغه ازمېښت کې بریالي کېږي، دا ځکه چې مؤمن په دې کلک باور لري چې خیر او شر یوازې د اللهﷻ له لوري دي، په هر حالت کې خپل کارونه اللهﷻ ته سپاري او له هغه څخه مرسته غواړي.

۲ـ د نعمت او خوښۍ حالت

ښه ژوند د اللهﷻ هغه ستر نعمت دی چې له کبله یې د بنده ژوه خوشحالیږي. خوشحاله ژوند یوازې په شتمني او مالدارۍ پورې تړلی نه دی، بلکې د اللهﷻ نور معنوي نعمتونه هم شته چې انسان ورته اړتیا لري، لکه امنیت، روغتیا، وخت او داسې نور. بنده ته ښایي چې ورباندې خوښي ښکاره کړي او د اللهﷻ شکر پرځای کړي.

ا ـ مال او دولت

د اللهﷻ له نعمتونو څخه یو نعمت سرمایه او شتمني ده، لکه: نقدې پیسې، د کر او کښت ځمکه، سوداګري، صنعت او داسې نور.

د مال او دولت له لارې انسان خپل دیني او دنیوي هدفونه ترلاسه کوي او هم د دنیا ښکلا او ښایست دی. اللهﷻ فرمایي: ﴿الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ [الكهف: ٤٦]

ژباړه: مال او اولاد د دنیایې ژوند ښکلاده.

ب ـ روغتيا

روغتيا هم د نورو نعمتونو په څېر ارزښتناک نعمت دی، روغ بنده په ډېره آسانۍ سره خپل دنيوي او اخروي کارونه سرته رسوي، خورا زيات فضيلتونه يې په برخه کېږي، د نورو نعمتونو ښه احساس کوي او ورځخه خوند اخلي بالعکس ناروغ انسان د هر ډول نعمت له احساس څخه محروم وي. پيغمبرﷺ يوه سړي ته داسې نصيحت وکړ: «اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ, شَبَابَك قَبْلَ هَرَمِك, وَصِحَّتَك قَبْلَ سَقَمِك. . . . »[1]

ژباړه: پنځه شيان د پنځو نورو د راتلو څخه مخکې غنيمت وګڼه: خپله ځواني د خپل زړښت له راتلو څخه مخکې غنيمت وګڼه، خپله روغتيا له ناروغۍ څخه مخکې غنيمت وګڼه. . . . او داسې نور.

ج ـ امنيت

امن او امنيت د الله ﷻ له ارزښتناکو نعمتونو څخه داسې نعمت دی چې د انسان ژوند، کورنۍ، مال او عزت مادي او معنوي مصالح په کې له ګواښونو څخه خوندي وي.

نور نعمتونه د دې نعمت تر سيوري لاندې پايښت لري، که چېرې امنيت نه وي، نو انسان له هېڅ ډول نعمت څخه ګټه نه شي اخيستلای. الله ﷻ د مکې پر خلکو د خپلو پېرزوينو په لړکې يوه پېرزوينه د امنيت مسأله هم شمېرلې ده او فرمايلي يې دي: ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ۞الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ﴾ [قريش: ٣، ٤]

ژباړه: نو په کار ده (قريشو ته)چې د دې کور د پروردګار عبادت وکړي د هغه ذات چې دوی ته يې خوراک ورکړ پس له لوږې څخه، او امنيت يې ور په برخه کړ پس له وېرې څخه.

يعنې پر دوی لازم وو چې د امنيت د نعمت شکر يې ادا کړی وای او يوازې د يوه الله ﷻ عبادت يې کولای.

د ـ فارغ وخت

فارغ وخت هم د نورو نعمتونو په څېر خورا ستر نعمت دی، خو خلک ورځخه غافل دي، په عبث تېرېدو يې هېڅ پروا نه کوي، حال دا چې د انسان او وخت ترمنځ يوه چوپه مسابقه

١- المستدرک للحاکم

روا نه ده. تاواني او بدمرغه انسان هغه دی چې د ځان او نورو لپاره له وخت څخه ګټه پورته نه کړي.

۳ـ پر نعمتونو شکر ویستل

شکر د عربي ژبې لفظ دی، د نعمت تصور او د هغه څرګندونې ته وایې. ضد یې کفران دی چې له نعمت څخه سترګو پټولو او هېرولو ته ویل کیږي.

کله چې بنده ته کومه خوشحالي او خیر ورسیږي او په زړه کې په دې کلکه عقیده ولري چې دا هرڅه د الله ﷻ له خوا دي، بل څوک د خیر او شر مالک نه دی او دغه حقیقت په ژبه او عمل کې څرګند کړي همدا شکر بلل کېږي، خو دا د شکر تېټه مرتبه ده او لوړه مرتبه یې کومه ټاکلې اندازه نه لري. د الله ﷻ پر نعمتونو شکر ویستل واجب دي.

۴ـ د شکر ډولونه

سره له دې چې د شکر ادا کول کومه ټاکلې اندازه نه لري، خو بیا هم ځینې ډولونه یې په لاندې ډول بیانیږي.

آ ـ په زړه کې د شکر ادا کول

په زړه کې د نعمت تصور او یادونه داده چې د نعمت لوروونکي ذات سره د هغه د رالیږلي کتاب او پیغمبر ﷺ سره د زړه له کومې مینه ولري او دغه مینه په عمل کې ثابته کړي، نو همدې ته په زړه کې د شکر ادا کول ویل کیږي.

ب ـ په ژبه شکر ادا کول

د نعمتونو په مقابل کې د الله ﷻ ثنا او صفت بیانول د ژبې شکر بلل کیږي، په ژبه د شکر ادا کول د زړه هغه احساسات بیانوي چې د بنده په زړه کې پراته دي. په ژبه د الله ﷻ د احسانونو شکر ادا کول، ځکه اړین دي چې له یوې خوا د احسانونو د حقیقي مالک حق پرځای کول دي او له بلې خوا نورو ته د خپل ښه حالت ښکاره کول دي دا په دې معنا چې د ټولو احسانونو او نعمتونو ښونکی او مالک یوازې یو الله ﷻ دی، له الله ﷻ پرته بل هېڅوک د خیر یا شر واک نه لري، همدا راز د نعمتونو په لاس ته راوړلو کې بنده هېڅ واک نه لري، دا یوازې د الله ﷻ پېرزوینه ده او بس داسې نه، لکه: چې قارون ویلي وو: ﴿قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ عِنْدِي﴾ [القصص: ۷۸]

ژباړه: قارون وویل: دا خو ماته د هغې پوهې له کبله راکړل شوي چې زه یې لرم.

ج ـ په اندامونو د شکر ادا کول

په اندامونو، شکر ادا کول د الله ﷻ د نعمتونو قدرداني کول دي. د نورو شکرونو په پرتله دا ډول شکر ډېر ارزښتاک دی، ځکه د بدن په اندامونو شکر ویستل د شکر عملي بڼه ده او په شریعت کې زیات احکام داسې دي چې که عملي بڼه ونه لري، نو کوم اهمیت نه لري لکه: لمونځ چې د اندامونو صدقه او شکر تمثیلوي، که عملاً ادا نه شي، په زړه کې یې دکولو اراده هیڅ ارزښت نه لري.

۵ـ د شکر ګټې

شکر د الله ﷻ پر احسانونو له اعتراف څخه عبارت دی چې بنده یې له پوره ادا کولو څخه ناتوانه دی. شکر ویستل د شکر کوونکي لپاره ډېرې ګټې او ښې پایلې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

ا ـ شکر د قیامت په ورځ د الله ﷻ د دیدار سبب دی

له هرڅه لومړی شاکر بنده ته د قیامت پر ورځ د الله ﷻ دیدار په برخه کېږي. دا هغه لاسته راوړنه ده چې مسلمان یې تل هیله لري.

ب ـ الله ﷻ ته د نژدېوالي احساس

شاکر انسان د دې خبرې احساس کوي چې الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه په ده احسان او مهرباني کړې ده، نو همدا شان هیله ده چې ده ته به دده د ګناهونو بښنه هم وکړي او توبه او عبادات به یې قبول کړي.

ج ـ شکرمسلمان ته ډاډ اوروحي راحت وربښي

د الله ﷻ پر نعمت شکر ویستل مسلمان ته تل پاتې ډاډ وربښي. کله چې بنده په دې خبره عقیده ولري چې د هرډول خیر او نعمت حقیقي مالک یوازې یو الله ﷻ دی، انسان یې یوازې د دې لپاره د دغه نعمت مجازي مالک ګرځولی چې د الله ﷻ له نعمت څخه په هغه شان ګټه واخلي، څرنګه چې الله ﷻ یې غوښتنه کړې.

پوښتنې

۱ـ د حدیث راوي څوک دی؟ معرفي یې کړئ.

۲ـ شکر څه ته وایې، او په څو ډوله دی؟

۳ـ شکر ویستل څه ګټې لري؟

کورنۍ دنده

د لوست په هکله په خپلو کتابچوکې یوه لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

يو ويشتم لوست

پر تکليفونو صبر

(د تير لوست دوام)

«. . . . . وإنْ أصَابَتْهُ ضرَّاءُ صَبَرَ فَكانَ خَيْراً لَهُ »

دا يوخرګند حقيقت دی چې انسان په ژوند کې له ستونزو سره مخ کيږي، مالي او بدنی زيانونه ورته اوړي، خو مسلمان دا ټول د الله ﷻ له لوري آزموينه بولي او په صبر او زغم سره يې مقابله کوي، د نن ورځې لوست مو د صبر په هکله دی.

د صبرحقيقت

که چېرې مؤمن ته کوم ضرر، تکليف او غم ورسيږي، نو پرې صبر کوي، ژړا، چيغې او شکايت نه کوي، بلکې د مصيبت او غم اجر له الله ﷻ څخه غواړي، تل د ځان لپاره په مصيبت کې د استقامت دعا کوي چې په پايله کې الله ﷻ ورته اجر ورکوي.

دصبر اهميت

په قرآن کريم او احاديثوکې مسلمان صبر او زغم ته هڅول شوی دی، لکه: چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَاسْتَعِينوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلاةِ﴾ [البقرة: ٤٥] **ژباړه:** او مرسته وغواړئ له (الله ﷻ څخه) په صبر او لمانځه سره.

په بل ځای کې فرمايي: ﴿إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [البقرة: ١٥٣] **ژباړه:** بې شکه الله ﷻ (په مرسته کې) له صابرينو سره ملګری دی. په بل ځای کې فرمايي: ﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾ [البقرة: ١٥٥] **ژباړه:** او زېرى ورکړه صبرکوونکو ته. صبر د انسان له دوامداره مبارزې څخه عبارت دی، انسان تل د ډول ډول دښمنانو سره په مبارزه کې ښکيل وي. په دغه مبارزه کې د انسان بريالیتوب په صبر پورې تړلې دی، يوازې صبر دی چې انسان پرې خپل هدف ته رسيږي، صبر او زغم د دښمن په مقابل کې د قوي ډال حيثيت لري، نو مؤمنانو ته ښايې چې د کړاوونو پر وخت صبر وکړي، او له بې صبرۍ څخه ځان وژغوري، ځکه چې الله ﷻ مسلمانان په صبرازمايي. الله ﷻ او پيغمبر ﷺ مؤمنانو ته په صبر امر کړی اوصبرکوونکي يې ستايلي دي:

﴿وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ﴾ [البقرة: ١٧٧]

ژباړه: او مؤمنان هغه کسان دي چې په کړاوونو، رنځونو او د جګړې پر مهال صبر کوونکي وي.

۷ـ د صبر ډولونه

صبر په درې ډوله دی.

۱- صبر د الله ﷻ په طاعت.

۲ – صبر په مصیبت.

۳- صبر له معصیت څخه.

۱ـ صبر په طاعت

د الله ﷻ د اوامرو په پرځای کولو او له نواهیو څخه یې په ځان ژغورلو کې تکلیف او په بشري نفس باندې یوډول سختي راوستل دي. له دغې سختۍ سره باید داسې مقابله وشي، څو انسان پرخپل لوی دښمن برلاسی شي چې هغه نفس او شیطان دي. الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ﴾ [یوسف: ۵۳] **ژباړه:** بیشکه نفس حتماً (انسان ته) په بدۍ امرکوي. همدا راز فرمایي: ﴿وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾ [ص: ۲۶] **ژباړه:** اوپه هوس پسې مه ځه چې بیا به دې د الله له لارې څخه واړوي.

د شیطان په اړه فرمایي: ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾ [فاطر: ٦] **ژباړه:** بې شکه شیطان ستاسې دښمن دی، نو په دښمنۍ یې ونیسئ.

دا درې واړه انسان ته ګمراهي او نفسي غوښتنې ښایسته کوي او د الله ﷻ له اطاعت څخه یې لرې کوي نو مسلمان ته لازم دي چې د مبارزې لپاره یې خپله ملا کلکه وټړي، ترڅو وربانديې غالب شي، نفس دې ته وادار کړي چې د الله ﷻ اوامرو ته غاړه کېږدي او هم خپل خواهشات د شریعت تابع کړي. په دې کار کې صبر، زغم او د سختیو ګاللو ته اړتیا ده، نو څوک چې خپل نفس د الله ﷻ د حکمونو تابع کړي او له ګناهونو څخه یې وژغوري، نو په حقیقت کې په خپل پټ دښمن برلاسی شو.

۲ـ په مصیبتونو صبرکول

په مصیبتونو صبر د الله ﷻ پربکړو او فیصلو ته غاړه له ایښودلو او د مصیبت په هکله مخلوق ته د شکایت نه کولو څخه عبارت دی. کوم مصیبتونه چې انسا ن ته رسیږي ډېر زیات دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

د خپلوانو او دوستانو پر مړينې صبر

تر ټولو ډېر سخت غم او مصيبت د اولاد، مور، پلار او دوستانو مړينه ده، د دې خلکو د مرګ پر وخت صبر او زغم، ځکه ضروري دی چې په دې کې له خپل رب سره د انسان د اړيکو قوت او نژديوالی څرګندیږي.

د خلکو په اذيتونو صبر

دا شونې ده چې که چېرې انسان د داسې خلکو له ضرر سره مخ شي چې د شريعت او اخلاقو له حدودو څخه د باندې وي، په دې صورت او تر هغه ځايه چې له شرعي اصولو څخه مخالفت نه وي شوی هغه چا ته چې زيان او ضرر ورته رسېدلی وي بايد صبر وکړي او د هر راز ضرر په وړاندې د انتقام غوښتنه ونه کړي، خو دا بايد په ياد ولرو چې دلته صبر د تل لپاره د ظلم او ضرر منلو په معنا نه ده، بلکې له صبر څخه مراد د حلم او برده باری له دايرې څخه نه وتل دي.

د ناروغۍ په صورت کې صبر

ناروغي داسې مصيبت دی چې هر انسان ورسره مخ کېږي، صبر کول پرې د مؤمن د ګناهونو د رژيدو لامل ګرځي. پيغمبرﷺ چې د ام العلاء پوښتنې ته ورغی او ورته يې وويل: «أبْشِرِي يا أم العَلاء، فإن مَرَضَ المُسلِمِ يُذهبُ اللهُ به خَطَايَاهُ، كما تُذهب النار خَبَثَ الذهبِ وَالفِضةِ»[1]

ژباړه: خوشحاله شه اې ام العلاء! کله چې مسلمان ناروغ شي الله ﷻ د ده ګناهونه داسې پاکوي، لکه: اور چې د سرو او سپينو زرو خيری پاکوي.

۳ـ صبر له معصيت څخه

له الله ﷻ څخه د وېرې او د هغه د لويۍ په خاطر، د هغه پاک ذات څخه د حيا په نيت له ګناهونو څخه د ځان ژغورل ، د هرډول ناروا او سرکشۍ څخه ځان ساتل له معصيت څخه صبر بلل کېږي.

---

۱ – أبو داود

له معصیت څخه صبر ځکه ضروري دی چې له ګناهونو څخه ځان ساتل په هر مسلمان فرض دي، نو په دې ډول په صبر سره مؤمن د خپل ایمان قوت ساتي، ځکه په ګناهونو او نا فرمانیو سره د مؤمن ایمان کمزوری کیږي.

مسلمان باید د حرامو، شهوتونو او ګناهونو په وړاندې مقاومت وکړي او د نفس او شیطان غوښتنو ته تسلیم نه شي، همدغه مقاومت د ګناهونو په وړاندې له صبر او زغم څخه پرته بل څه نه دي.

پوښتنې

۱ـ صبر تعریف کړئ.

۲ـ د صبر اهمیت ووایاست.

۳ـ په ناروغتیا کې صبر او زغم کول څه ګټه لري؟

۴ـ له ګناهونو څخه د صبر کولو څو مثالونه ووایاست.

کورنۍ دنده

د لوست مهم موضوعات په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د مسلمان حقوقونه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: « حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ». قِيلَ: مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: « إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَشَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ ». [رَوَاهُ مُسْلِمٌ]

د ځینو عبارتونو معناوي:

١. لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ:	چې ورسره مخامخ شوې، نو سلام پرې واچوه.
٢. دَعَاكَ فَأَجِبْهُ:	چې یې دمبلمستیا بلنه درکړه، نو قبوله یې کړه.
٣. اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ:	چې درڅخه د نصیحت غوښتنه وکړي، نصیحت ورته وکړه.
٤. عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ:	چې وپرنجېده او (الحمدلله) یې وویل.
٥. فَشَمِّتْهُ:	نوورته په (یرحمک الله) دعا وکړه.
٦. مَرِضَ فَعُدْهُ:	چې ناروغ شو، نو پوښتنه یې وکړه.
٧. مَاتَ فَاتَّبِعْهُ:	چې مړشو، نو د جنازې لمانځه ته یې ورشه.

د حدیث ژباړه

له حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: د یوه مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقونه دي. پوښتنه وشوه چې اې د الله رسوله! هغه کوم حقونه دي؟ پیغمبرﷺ وفرمایل: کله چې ورسره مخامخ شوې، نو سلام پرې واچوه، کله چې د مبلمستیا بلنه درکړي، نو هغه قبوله کړه، کله چې درڅخه د نصیحت غوښتنه وکړي، نو نصیحت ورته ورکړه او چې کله وپرنجیږي او الحمدلله ووایې، نو ورته په (یرحمک الله) دعا وکړه چې کله ناروغه شي پوښتنې ته یې ورشه او چې کله مړشو، نو د جنازې لمانځه ته یې ورشه.

د حدیث حکمت

دغه حدیث شریف د مسلمانانو یو پر بل باندې ځینې حقونه بیانوي چې د دې حقونو مراعاتول د ټولنې د وګړو تر منځ د ورورګلوۍ او مینې د اړیکو په ټینګښت کولو کې اساسي رول لوبوي، په هر مسلمان باندې لازمه ده چې د نورو خلکو حقونه وپېژني او په مراعاتولو سره یې په ټولنه کې د یووالي او وحدت د ټینګښت لامل و ګرځي.

د حديث ګټې اوحکمونه

۱- دمسلمان د حق پېژندنه

له حق څخه مراد او مقصد هغه څه دي چې سرته رسول يې فرض، واجب، سنت او يا مستحب وي. دلته ورڅخه مطلب د مسلمانانو تر منځ د خواخوږۍ هغه اخلاقي نظام دی چې يو مسلمان د بل مسلمان د متقابل درناوي په بنا پرې مکلف دی.

۲ـ د سلام اچولو حق

له ښو اخلاقو څخه يوه سلام اچول دي، کله چې يو مسلمان د بل مسلمان سره مخ شي بايد په سلام ويلو سره خپله ليدنه پيل کړي.

غوره مسلمان هغه دی چې د سلام په اچولو کې لومړی شي. سلام اچول د اسلام خصوصيت، د پيغمبرﷺ سنت او ځواب ورکول يې واجب دي.

۳ـ هغه ځايونه چې سلام پکې نه اچول کېږي

په سلام اچولو کې سنت طريقه دا ده چې وړوکی به پر لوی سلام اچوي، پر لاره تېرېدونکی به پر ناست سلام اچوي، لږ خلک به په ډېرو سلام اچوي، خو ځينې داسې حالات شته چې سلام اچول پکې غوره نه دي لکه:

- پر لمونځ کوونکي.
- د قرآنکريم پر لوستونکي.
- د علم د زده کړې پر حلقه.
- پر واعظ او خطيب باندې.
- پرمؤذن چې په آذان مصروف وي.
- پر هغه چا چې په قضاء حاجت ناست وي، يا په حمام کې وي.
- د ډوډۍ خوړلو يا اوبو څښلو پر وخت، که چېرې سلام اچوونکی په خوراک کې ورسره ګډون نه غواړي.
- هغه څوک چې په ګناه يا په بې ګټې کارونوکې بوخت وي.

٤ـ د بلنې (ميلمستيا) منل

که يو مسلمان بل مسلمان ته د کوم مناسبت په بنا لکه: واده، عقيقه او يا بې له کوم مناسبته د ميلمستيا بلنه ورکړي، نو پر بلل شوي لازم دي چې دعوت يې ومني، ځکه پيغمبرﷺ فرمايي: "مَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ". **ژباړه:** که څوک مو ميلمستيا ته دعوت کړي بلنه يې ومنئ.

دا ځکه چې د دعوت په منلو سره د مناسبت خوشحالي زياتيږي، که مناسبت نه وي، نو د بلنې شکريه ترسره کېږي، که بلنې ته ځواب ور نه کړای شي د زړه د بدوالي لامل

گرځي او نېکو اړيکو ته زيان رسېږي، خو که چېرې په مېلمستيا کې ناروا عمل ترسره کېده، نو مسلمان بايد له داسې دعوت څخه ډډه وکړي او له ګناه څخه ځان وساتي.

٥ـ نېکه مشوره ورکول

که څوک له چا څخه په کارونو کې مشوره وغواړي، نو لازم دي چې ورته نېکه مشوره ورکړي. که چېرې په کولو کې يې ګټه وه بايد ورته وهڅول شي او که پکې د ضرر ويره وه بايد ورڅخه وژغورل شي. د مشورې ورکولو پر مهال بايد داسې مشوره ورکړي چې د هغه دنيوي او اخروي سرلوړي پکې نغښتې وي. په کار ده چې په مشورې ورکولوکې د هر ډول غولونې، دوکه او غوړه مالۍ څخه ډډه وشي، ځکه چې دا په مشوره ورکولو کې خيانت دی.

٦ـ عطسې (پرنجي) ته ځواب ورکول

د پرنجي په ذريعه الله ﷻ د انسان له مغزو څخه زيان رسوونکي مواد بهر ته راوباسي چې دا په بنده باندې د الله ﷻ لوی احسان دی، بنده ته ښايي چې د الله ﷻ د دغه نعمت شکر ادا کړي او پر ژبه (الْحَمْدُ لِلَّهِ) ووايي. بل مسلمان ورور بايد له اوريدلو سره سم ورته دعا وکړي، او ووايي: (يَرْحَمُكَ اللَّهُ) الله ﷻ دې پرتا ورحميږي. له دې څخه وروسته پر پرنجي کوونکي لازم دي چې د خپل مسلمان ورور ځواب په (يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ) سره ورکړي، نوځوک چې د پرنجي پر وخت د الله ﷻ ستاينه ونه کړي، نو د دعا مستحق هم نه دی، ځکه چې ده له دوو نعمتونو څخه ځان بې برخې کړ، يو د الله ﷻ د ستاينې (الْحَمْدُ لِلَّهِ) ويلو څخه او بل د مسلمان ورور له دعا (يَرْحَمُكَ اللَّهُ) څخه .

٧ـ د ناروغ پوښتنه

د مسلمان له حقونو څخه يو هم د ناروغۍ په حالت کې د ناروغ انسان پوښتنه ده خصوصاً که ناروغ د خپلوانو يا دوستانو څخه وي چې د دوی د ناروغۍ پوښتنه د نورو په نسبت ډېره ضروري ده.

د ناروغ ليدل او د هغه د حال پوښتنه ډېر لوی فضيلت لري. که څوک د ناروغ تر څنګ کيناست، پر ده د الله ﷻ خاص رحمت رانازليږي او ملايکې ورته د مغفرت دعا کوي. که څوک د ناروغ پوښتنې ته ځي بايد هغه ته تسلي او ډاډ ورکړي، هغه ته د روغتيا دعا وکړي او ورته پر مرض د صبر توصيه وکړي.

٨ـ د مسلمان په جنازه کې برخه اخيستل

يو له هغو وجايبو څخه چې مسلمان يې پر غاړه لري داده چې د بل مسلمان د نېکبختۍ په فکر کې اوسي. کله چې يو مسلمان مړشي، نو د هغه د اعمالو دروازه وتړل شي او د نورو دعاوو ته ډېر اړ شي، نو له دې امله پر نورو مسلمانانو د ده حق دی چې په اړه يې الله ﷻ ته سوال او زاری وکړي چې د ده ګناهونه ور وبښي او راتلونکی ژوند يې ښايسته کړ ي. د

مسلمان په جنازه کې په ګډون کولو سره د مړي او د مړي د خپلوانو حقوق ادا کېږي او هم په جنازه کې ګډون کوونکي ته لوی اجر په برخه کېږي. پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «مَنْ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا فَإِنَّه يَرْجِعُ مِنْ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ»[1]

ژباړه: څوک چې د ایمان په بناء او د ثواب په نیت د مسلمان په جنازې پسې روان شي، تر هغې ورسره وي چې د جنازې لمونځ پرې وکړي او هم یې له دفن کولو څخه فارغ شي، نو بې شکه ده ته د سرو زرو د دوو دیناروونو په اندازه ثواب په برخه شو چې د هر دینار وزن د احد د غره په اندازه دی او چاچې ورباندې د جنازې لمونځ وکړ، بیا ورڅخه له دفن کولو مخکې راستون شو، نو د یوه دینار په اندازه ثواب ورکول کېږي.

فعالیت

که یو مسلمان مړشي، پس له مرګه دکومو کارونو ثواب ورته رسېږي؟ زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه سوال ځواب کړي.

پوښتنې

۱ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

۱ ـ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ:

ب ـ فَشَمِّتْهُ:

ج ـ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ:

د ـ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ:

۲ـ د سلام اچولو ګټې وواياست.

۳ـ د ناروغ عیادت کوونکی باید کوم کارونه وکړي؟

۳ـ د جنازې لمونځ څه حکم لري؟

کورنۍ دنده

د لوست حدیث په یادو زده کړئ او د لوست ګټې په کتابچو کې ولیکئ.

---

۱ - صحيح البخاري

دوه مخی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ فَخِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا وَتَجِدُونَ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ فِي هَذَا الْأَمْرِ أَكْرَهُهُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ فِيهِ وَتَجِدُونَ مِنْ شِرَارِ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ. [متفق عليه]

د ځينو کلمو معناوې

١ــ **مَعَادِنَ:** د معدن جمع ده، کانونه.

٢ــ **خِيَار:** غوره کسان.

٣ــ **الْجَاهِلِيَّةِ:** له اسلام څخه مخکې زمانه.

٤ــ **إِذَا فَقِهُوا:** چې پوهه او فقاهت تر لاسه کړي.

٥ــ **أَكْرَهُهُمْ:** تر ټولو بد ګڼونکی.

٦ــ **شِرَارِ:** د شرير جمع ده، د خيار ضد دی، بد خلک.

٧ــ **ذَا الْوَجْهَيْنِ:** دوه مخی.

٨ــ **هَؤُلَاءِ:** هغوی.

د حديث ژباړه

له ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: تاسو به خلک د کانونو او معدنونو د زېرمو په څېر وومئ، نو څوک چې له هغوی څخه له اسلام نه دمخه په جاهليت کې غوره وو هغوی به په اسلام کې هم غوره وي، په دې شرط چې پوهه او فقاهت تر لاسه کړي. تاسو به د منصبونو او مسؤوليتونو په اړه غوره خلک هغه وومئ چې ځان منصب او مقام ته رسول ډېر بد ګڼي، خو دا چې منصب او مقام ورته وسپارل شي او ده نه وي غوښتی. تاسو به تر ټولو شرير او بد خلک دوه مخي وومئ چې ځينو خلکو ته په يو مخ ورځي او ځينو نورو ته په بل مخ.

د حديث حكمت

په دې مبارک حديث کې رسول الله ﷺ لومړی هغه انساني لوړ ارزښتونه په ګوته کړي چې په هر وخت کې د انسانيت په خير، د ټولنې په ګټه او د ټولو په وړاندې غوره او مطلوب دي، بيايې هغه ناوړه صفات ذکر کړي چې د انساني لوړو ارزښتونو پر خلاف د انسانيت په زيان او دټولنې په ضرر دي، هر څوک يې بد او ناوړه ګڼي.

د حديث شريف ګټې

۱ــ انسانان داسې دي لکه طبيعي زېرمې

رسول الله ﷺ انساني پرګنې له طبيعي زېرمو او کانونو سره ورته بللې دي، فرمايي: «تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ» خلک به د طبيعي زېرمو په څير وموميۀ چې ځينې يې اصيل او ځينې يې کم اصله وي، ځينې يې ډېر ارزښتناک او ډېر قيمتي وي، ځينې يې بيا ارزښتت او قيمت نه لري، ځينې کانونه د سرو زرو وي، ځينې د سپينو زرو وي.

انسانان که چېرې په سمه توګه وروزل شي او په ګټورو لارو کې استخدام شي، نو په ټولنه کې به تر ټولو غوره اوبا ارزښته بڼه پيداکړي.

۲ــ که څوک له اسلام څخه مخکې هم د نېکو اخلاقو او انساني فضايلو خاوند وي او له اسلام راوړلو څخه وروسته هم دغه غوره خويونه په هغه کې موجود وي، نو د دې حديث شريف له مخې دغه انسان له غوره خلکو څخه شمېرل کېږي، د اسلام سپېڅلی دين هغو انساني غوره او نېکو خويونو ته چې د بشري فطرت له مخې په انسان کې پيدا شوي وي وده او پراختيا ورکوي.

۳ــهغه څوک چې ديني پوهه ولري

د اسلام له نظره غوره والی هغه مهال بشپړ دی چې ديني پوهه ورسره ملګرې وي يعنې ديني پوهه د غوره والي اساسي برخه ده.

پيغمبرﷺ فرمايلي: «مَنْ يُرِدْ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ»[۱]

ژباړه: چاته چې الله ﷻ دخير اراده وکړي، نو فقاهت او په دين کې پوهه ور په برخه کړي.

---

۱ - صحيح البخاري

٤_د منصب په اړه غوره خلک

پیغمبرﷺ فرمایي چې د منصبونو او مسؤولیتونو په اړه غوره خلک هغه دي چې ځان منصب او مقام ته رسول تر ټولو بد ګڼي، ځکه چې یوخو په طبیعي توګه عهده او منصب تکلیف او کړاو لري. خو تر ټولو غوره خلک هغه دي چې عهده او منصب یو امانت او مسؤولیت ګڼي، د هغه دحق اداکولو څخه په ویره کې وي او اندېښنه ورسره وي چې هسې نه دغه امانت ترې ضایع شي. خو که چاته له غوښتنې او تمې پرته منصب او مقام ور وسپارل شي، نو په دې صورت کې منصب په غاړه اخیستل د غوره والي خلاف نه دی، نه په کې کوم ډول کراهت شته، بلکې ملا به ورته کلکه ټرې او له خلکو سره په مشوره او دالله تعالی په توکل به یې پر مخ بیایې، یقینا چې الله تعالی به ورسره مرسته کوي رسول اللهﷺ فرمایي: «مَنْ ابْتَغَى الْقَضَاءَ وَسَأَلَ فِيهِ شُفَعَاءَ وُكِلَ إِلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أُكْرِهَ عَلَيْهِ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْهِ مَلَكًا يُسَدِّدُه»[1]

ژباړه: چاچې قضا او منصب وغوښت، په واسطو او سپارښتونو یې ترلاسه کړ، نو خپل ځان ته به وسپارل شي، د اللهﷻ لخوا به مرسته ورسره نه کېږي، که څوک دمنصب منلوته اړ کړای شو او د مسلمانانو لخوا ور وسپارل شو، نو اللهﷻ به یې مرستې ته پرښتې راولیږي.

د اسلام له سیاسي او حکومتي اخلاقو څخه دادي چې باید د اهلیت او کفایت له مخې منصب او عهدې ته وړاندې کړای شي، نه داچې خلک خپله ورته په دروغو او رښتیاوو کمپاین وچلوي. که چاته منصب او څوکۍ د مسلمانانو د اعتماد پر اساس ورکړل شوه، نو الله ﷻ به ورسره مرسته وکړي.

٥_دوه مخی انسان

ذوالوجهین هغه چاته وایي چې هرې ډلې ته د هغوی دخوښۍ او خوشحالۍ خبرې کوي، ځان داسې ورته څرګندوي چې دی ددوی خواخوږی او له مخالفینو سره یې وران دی. چې دغه تعامل او چلند د منافقت، دروغو او غوړه مالۍ زېږنده ده.

د انسان په زړه او سینه کې چې نېک نیتونه او پخې ارادې وي، نو چلند او سلوک یې په عمومي توګه له ټولو سره اصولي، متوازن او یو شان وي.

---

١ – رواه الترمذي

دوه مخي ډېر بد صفت دی، دوه مخی انسان سربېره پردې چې په ټولنه کې د نفاق، کرکې او دښمنی تخم کري، په خپله د ځان لپاره هم ډېرې نورې ناخوالې رامنځته کوي، خپل عزت له لاسه ورکوي او د نورو په وړاندې بې عزته او بې آبرو کېږي.

د اسلام مبارک دین دغه ناوړه صفت په کلکه غندلی او مسلمانان يې ترې په ټینګه منع کړي دي.

٦_د دوه مخي انسان سزا

امام بخاري (رح) له ابوهريره ﷺ څخه د رسول الله ﷺ دغه حديث هم نقل کړی.

«لا يَنبَغِي لِذي الوَجهينِ أنْ يَكونَ أَمِينَاً» (١)

ژباړه: دا شونې نه ده چې له دوه مخي څخه امين شخص جوړ شي.

په همدې توګه د عمار بن ياسر څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په دنيا کې دوه مخونه ولري د قيامت په ورځ به د اور دوه ژبې ولري.

فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او د دوه مخی د بدو پايلو په اړه دې سره خبرې وکړي.

پوښتنې

١. د حديث ژباړه ووياست.
٢. د منصب په اړه غوره خلک څوک دي؟
٣. ذوالوجهين څوک دی؟
٤. د ذوالوجهين سزا بيان کړئ.

کورنۍ دنده

د سيرت له معتبر کتاب څخه د عمر بن عبد العزيز (رح) دخلافت منلو کيسه ولولئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

١ – الأدب المفرد للبخاري

د خوب آداب

عن الْبَرَاء بْن عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وَضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ وَقُلْ: اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَهْبَةً وَرَغْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ فَإِنْ مُتَّ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ. [صحيح البخاري]

د راوي پيژندنه

نوم يې براء، د پلار نوم يې عازب او د انصارو د اوس له قبيلې څخه و. پلار او زوی دواړه جليل القدره صحابه وو. د بدر د غزا پر مهال د عمر د کموالي له کبله ورته پيغمبرﷺ په غزا کې د ګډون اجازه ورنه کړه، خو د هجرت په دريم کال يې د اُحد په غزا کې برخه واخيسته، د دې غزا په شمول يې د پيغمبرﷺ سره په څوارلسو غزاګانو کې برخه اخيستې وه. د هجرت په دوه اويايم (۷۲) کال د عبدالله ابن الزبيرؓ د خلافت پر وخت په کوفه کې وفات شو.

د ځينو کلمو معناوې

۱. مَضْجَعَكَ: ستا د خوب ځای.
۲. اضْطَجِعْ: ډډه ولګوه.
۳. عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ: په ښي اړخ باندې.
٤. أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ: سپارلی مې دی خپل ځان تاته.
٥. وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ: او پربښی مې دی خپل کار تاته.
٦. وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ: او تکيه کړې مې ده خپله ملا تاته. (يعنې پرتا مې خپل ځان سپارلی).
۷. رَهْبَةً وَرَغْبَةً إِلَيْكَ: ستا له وېرې او ستا په هيله تاته مخه کوم.
۸. لَا مَلْجَأَ: د تېښتې ځای نشته.
۹. وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ: ستا له عذابه د پناه اخيستو ځای نشته، خو يوازې ته يې.
۱۰. الْفِطْرَةِ: د اسلام په دين.

د حدیث ژباړه

د حضرت براء بن عازبﷺ څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ راته وویل: کله چې دې د خوب ځای ته د تللو اراده وکړه، نو د لمانځه د اوداسه په څېر اودس وکړه، بیا په ښي اړخ پډه ووهه او دا دعا ووایه: اې اللهﷻ خپل ځان مې تا ته تسلیم کړی دی او خپل کار مې تاته سپارلی دی (یعنې پر تا مې توکل کړی دی) او خپله ملا مې ستا ساتنې او حفاظت ته تکیه کړه په داسې حال کې چې ستا له عذابه وېرېږم او ستا د رضامندۍ امید لرم. نشته ځای د تېښتې، نشته دی خلاصون ستا له عذابه، مګر یوازې ته یې. ایمان مې راوړی په هغه کتاب چې تا نازل کړی دی، ایمان مې راوړی په هغه پیغمبر چې تا رالېږلی دی، که چېرې (په همدې شپه کې) مړ شوې، نو خاتمه به دې د اسلام په دین وي.

د حدیث حکمت

په دې حدیث شریف کې نبي کریمﷺ د خوب ځینې اداب بیان کړي دي، اسلام د ژوند کولو لپاره بشپړ او هر اړخیز نظام او قانون دی، د بشر لپاره د ژوند په ټولو برخو کې ښکاره او ځانګړې لارښوونې لري، نو له دې املې دا د حیرانتیا خبره نه ده چې پیغمبر اکرمﷺ مسلمانانو ته د خوب په اړه لارښوونې کړې دي.

د حدیث شریف ګټې او احکام

۱ـ خوب ته د بدن اړتیا

انسانان د ورځې له خوا کارکوي او د کار له املې یې بدن ستړی او ستومانه کېږي، جسم یې آرامۍ ته اړتیا پیداکوي، اللهﷻ د خپلو بندګانو د راحت لپاره شپه رالېږلې ده چې په کې ویده شي، ترڅو ستړتیا یې ختمه او بدن یې د سبا دکار لپاره چمتو وي. اللهﷻ فرمایي: ﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ﴾ [یونس: ٦٧]

ژباړه: اللهﷻ هغه ذات دی چې پیدا کړې یې ده، شپه ستاسې لپاره چې آرام پکې وکړئ.

خوب د اللهﷻ نعمت دی، پکار ده چې د دې نعمت شکر پرځای کړو د دې نعمت د شکر ادا کول، په دې کې دي چې مسلمان د خوب پر وخت د خوب آداب مراعات کړي.

۲ـ خوب هم عبادت کېدای شي

سره له دې چې خوب انساني مهمه اړتیا ده، خو که چېرې مسلمان په دې نیت ویده شي چې د اللهﷻ عبادت او بندګۍ لپاره یې بیا ذهن اوجسم تازه والی پیداکړي، ترڅو د

الله ﷻ عبادت په ښه شان ترسره کړي، په مسنونه طريقه ويده او بيا راپاڅيږي، نو په دې صورت کې خوب چې يو عادت دی، په عبادت بدليږي.

۳ـ له ويده کېدو څخه مخکې اودس کول

خوب ډېر آداب لري چې ځينې يې په دې حديث شريف کې ذکر شوي دي چې يو يې له خوب څخه مخکې اودس کول دي. مسلمان ته په کار ده چې په طهارت او اوداسه ويده شي، ترڅو په خوب کې د شيطان له شر او وسوسو څخه په امن کې وي.

۴ـ په ښي اړخ ويده کېدل

د خوب له آدابو څخه دا هم دي چې بايد بنده په ښي اړخ ويده شي او پر مخې ويده کېدل مکروه دي.

۵ـ د ويده کېدو پر وخت مسنون اذکار لوستل

کله چې مسلمان د ويده کېدو اراده وکړي، بايد مسنون اذکار ولولي، لکه: د **آية الكرسي** لوستل، د اخلاص سورت او د معوذتينو لوستل او داسې نور صحيح اذکار چې د احاديثو په کتابونو کې ذکر شوي دي، کله چې له خوبه را پاڅيږي، نوبايد له خوب څخه د راپاڅېدو دعا ووايي، لکه: «الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذي رَدَّ عَلَيّ رُوحِي، وَعافانِي في جَسَدِي، وأذِن لي بذِكْرِهِ » [۱]

. ژباړه: ثنا او ستاينه ده هغه ذات لره چې زما روح يې بيا ماته راوګرځاوه، زما بدن يې روغ وساته اوماته يې د خپل ذکر فرصت راپه برخه کړ دا ځکه چې خوب د مرګ په څېر دی، هرکله چې الله ﷻ له بنده څخه نيم روح واخلي، هغه ورته بيا وروبخښي، بنده لره ښايي چې شکر پرې وباسي.

۶ـ پر وخت ويده کيدل

د خوب له آدابو څخه دا هم دي چې انسان بايد پر وخت ويده شي او له بې خوبۍ څخه ځان وژغوري.

پيغمبر ﷺ د ماسخوتن له لمانځه څخه مخکې ويده کېدل او د ماسخوتن له لمانځه څخه وروسته مجلس کول بد ګڼل. البته که چېرې ناسته او مجلس د علماوو، نېکانو او اړو کسانو سره وي، يا د علمي مطالعې په خاطر وي، بيا کوم باک نه لري، په دې شرط چې د سهار لمانځه ته په پاڅېدو کې کوم خنډ رامنځ ته نه شي. پر وخت ويده کېدل ډېرې

---

۱ – الأذكار النووية

ګټې لري، يوه داچې په وخت ويده کېدلو کې د پيغمبرﷺ پيروي عملي کېږي بل دا چې د شپې په خوب سره ذهن او د بدن غړي پوره راحت مومي چې د ورځې خوب دغه خاصيت نه لري. همدا راز که څوک پر وخت ويده شي سهار له خوبه د پاڅېدو پر مهال بنده تر او تازه وي او لمانځه ته په مينه او آسانۍ سره تللای شي.

پوښتنې

۱ـ د حديث راوي څوک دی معرفي يې کړئ.

۲ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

- **أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ:**
- **وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ:**
- **لَا مَلْجَأَ:**
- **وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ:**
- **الْفِطْرَةِ:**

۳ـ پيغمبرﷺ صحابي ته د خوب کوم آداب ور ښودلي وو ؟

۴ـ پر وخت ويده کېدل څه ګټې لري؟

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د خوب د آدابو په برخه کې لس کرښې مقاله وليکئ.

د فقهي برخه

اسلام د ژوندانه نظام

هر مسلمان پر دې باور لري چې الله تعالى زمونږ پيدا کوونکى او څښتن دى، د بشر د لارښوونې لپاره يې وخت پر وخت پيغمبران استولي چې جناب حضرت محمد ﷺ تر ټولو وروستى پېغمبر دى، د اسلام بشپړ دين يې راوړى، څو خلکو ته سمه عقيده، غوره اخلاق او د ژوندانه د هرې برخې لارې چارې وښيي او حلال او حرام ورته بيان کړي.

اسلام د ژوندانه ټولو برخو ته ورشامل دى، لکه: څرنګه چې يې باورونه، خويونه او عبادات بيان کړي، همدا ډول د کورنۍ ژوند، سياست، اقتصاد، امنيت، تعليم او د ژوند د ټولو برخو لپاره ځانګړى نظام لري.

په هر مسلمان لازمه ده چې د اسلام ټولې برخې وپېژني، باور پرې ولري او عمل ورباندې وکړي.

فعاليت

د قرآنکريم او سنتونو لاندينى هر يو عبارت د وګړو د ژوندانه په کومې برخې پورې اړه لري؟ ويې لولئ او په نوبت پکې خبرې وکړئ.

١ - الله تعالى فرمايي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ [النور:٥٦] لمونځ بر پا کړئ او زکات ورکړئ.

٢ - ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ﴾ [النحل:٩٠] بيشکه الله تعالى په عدل امر کوي.

٣ - ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ [انفال :٦٠] د دوى (سره د جنګ) لپاره هغه پياوړتيا چې په توان کې مو وي برابره کړئ.

٤ - ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ﴾ [الشورى:٣٨] او د مسلمانانو چارې په خپل منځ کې په مشوره وي.

٥ - رسول الله ﷺفرمايي: «الحكمة ضالةُ المؤمن أينما وجدها فهو أحق بها» حکمت د مؤمن ورکه ده، هر چيرې يې چې بيامومي، دى تر نورو د هغې په لاس ته راوړلو ډېر حقدار دى.

ګرانو زده کوونکو ! مونږ او تاسو د توحيد د کلمې په منلو له الله تعالى سره دا ټرون کړى چې د بندګۍ او د ژوند نظام به يې ستا منو او د بل چا نظريات او طرحې به چې د دين پر خلاف وي نه منو.

په قرآن کريم کې راغلي: ﴿أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى﴾ [القيامة:٣٦] آيا انسان گومان کوي چې سريله (بې واګو) دې خوشې کړای شي.

نو انسان د علم د کم والي له امله د الله تعالى له لوري لارښوونو ته اړتيا لري.

خرنګه چې الله تعالى په هر څه پوره علم لري او ټول انسانان د ده بندګان دي، نو هغه قوانين چې الله ﷻ مور ته رالېږلي دي له نيمګړتيا او تېروي څخه پاک دي او په هغو کې هېڅ ډول نيمګړتيا او تېروی نشته.

پوښتنې

١. د اسلام دين درې ستړي برخې لري: عقيده، اخلاق او احکام، يو يو مثال د هر يوه لپاره بيان کړئ.

٢. ((د اسلام دين د ژوند د هرې برخې لپاره احکام لري)) دا عبارت شرحه کړئ.

٣. له کلمې طيبې سره د لوست اړيکه بيان کړئ.

٤. آيا له تاريخي پېښو څخه د انسانانو يو پر بل د ظلمونو مثالونه بيانولی شئ؟

د اسلام اقتصادي نظام

د دې لپاره چې د اسلام اقتصادي نظام وپېژنو، نو باید د هغه تعریف او بنسټیزې ځانګړتیاوې بیان کړو.

تعریف:

د اسلام اقتصادي نظام د قرآنکریم او سنتونو له لارښوونو او د اسلام پوهانو له نظریاتو څخه عبارت دی چې د وګړو لپاره د مال د لاس ته راوړلو او مصرفولو لارې چارې بیانوي.

په قرآن کریم کې راغلي: ﴿لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ [النساء: ٢٩] په خپل منځ کې یو د بل مال په ناروا مه خورئ.

له پورتني آیت څخه جوتیږي چې وګړي مال درلودلی شي، په نورو لازمه ده، څو د هغه درناوی وکړي اوپه ناروا یې ورڅخه وانخلي.

همدا راز په قرآنکریم او سنتونو کې سود، قمار، رشوت او ټګي حرام ښودل شوي او د بیعې (پلورلو پېردولو) اجارې، شرکتونو او نورو معاملاتو لپاره احکام او شرطونه ټاکل شوي، د زکات، صدقاتو، بیت المال او میراث په هکله په تفصیل سره احکام ښودل شوي، د امت علماوو د قرآنکریم او سنتونو دا لارښوونې شرحه کړې او د نورو مالي معاملاتو احکام یې هم د قرآنکریم او سنتونو په رڼا کې بیان کړي چې دا ټولې لارښوونې او احکام د اسلام اقتصادي نظام تشکیلوي.

په اوسنۍ نړۍ کې مطرح اقتصادي نظامونه:

په اوسنۍ نړۍ کې د اسلام پر اقتصادي نظام سربېره دوه نور اقتصادي نظامونه هم مطرح دي چې خلک یې پیروي کوي: کاپیتالیزم او سوسیالیزم.

کاپیتالیزم

چې پانګوالي نظام او آزاد بازار هم ورته وایې د غربي کلتور اقتصادي اړخ دی چې وګړو ته په اقتصادي ډګر کې په زیاته آزادۍ ورکولو ولاړ دی او په دې هکله د دولت

چاړې محدودې ګڼي، د دې نظام پر بنسټ سود او قمار جواز لري او خلک کولای شي چې له ډېرو لارو زیاته پانګه لاس ته راوړي.

سوسیالیزم (ټولنیز اقتصاد)

دا نظام له وګړو څخه د آزاد کاروبار کولو حق اخلي، د تولید وسایل یوازې دولتي ګڼي، وګړو ته د خصوصي ملکیت درلودلو حق نه ورکوي، ټول خلک باید دولت ته کار وکړي او له دولت څخه د خپل زیار په اندازه مال تر لاسه کړي، د وګړو یو له بل سره مزدوري کولو ته اجازه نه ورکوي.

فعالیت

زده کوونکي دې د پورتنیو معلوماتو په رڼا کې په لاندې صورتونو کې د درې واړو اقتصادي نظامونو نظر بیان کړي او څلور صورتونه دې نور هم په ټولګي کې مطرح کړي.

عمل	د اسلام له نظره	د کاپیتالیزم له نظره	د سوسیالیزم له نظره
۱ – سود خوړل			
۲ – له فرد سره ډېروري کول			
۳ – دولتي ماموریت			
٤ – زکات ورکول			

پوښتنې

۱. د اسلام اقتصادي نظام تعریف کړئ.

۲. دکاپیتالیزم او سوسیالیزم مهم عناصر راوپېژنئ.

کورنۍ دنده

د ښوونکي او د کلي د امام په مرسته د قرآن کریم درې اقتصادي توصیې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د اسلامي اقتصاد ځانګړتياوې

څرنګه چې په اوسنۍ نړۍ کې دري ډوله اقتصادي نظامونه مطرح دي، پانګوالي، سوسیالستي او د اسلام اقتصادي نظام، نو مور باید د دې نظامونو سترې ځانګړتیاوې وپیژنو، ترڅو یې یو له بل څخه ښه کړای شو، دا ځانګړتیاوې په لاندې توګه بیانیږي:

۱ – د اسلام اقتصادي نظام د اسلامي دین یوه برخه ده، خو سرمایه داري او سوسیالستي نظامونه د بشر له فکر څخه راوتلي، په هغو کې ديني لارښوونو ته ځانګړې پاملرنه نه ده شوې.

۲ – دوه ډوله ملکیت

په اسلامي اقتصاد کې ملکیت په دوه ډوله دی، خصوصي ملکیت او ټولنیز ملکیت، هر وګړی کولای شي په روا لارو چارو د مال خاوند شي، همدا راز دولت هم ملکیت لري چې د بیت المال په نامه یادیږي، په اسلام کې نه په فرد باندې پر روا اقتصادي کړو وړو څه بندیز شته او نه پر دولت، په دې توګه که د خلکو مصلحت غواړي چې دولت باید په اقتصادي چارو کې شریک شي دا کار کولای شي، خو په سرمایه داري نظام کې اصل دا دی چې دولت باید یوازې امنیت راولي او اقتصادی کړنې ونه لري، سوداګري، تولید، ترانسپورټ، آبادي، تعلیم او کرنه باید ټول خصوصي وي.

په سوسیالیزم کې د دې پر خلاف پورتنۍ ټولې چارې باید دولت سرته ورسوي او وګړي باید یوازې له دولت سره په تعامل کې وي، هېڅوک باید خصوصي ملکیت ونه لري.

فعالیت

د کتابونو او د مضمون د ښوونکي په مرسته د رسول الله ﷺ او راشدو خلفاوو د زمانې د بیت المال په هکله نور معلومات تر لاسه کړئ.

۳ – اقتصادي مقیده آزادي

د اسلام سپېڅلي دین کې هر وګړی اختیار لري، کوم کاروبار چې وغواړي، هغه سر ته ورسوي، په عامو حالاتو کې له دولت څخه اجازې اخیستلو ته اړ نه دی، نو په اقتصادي چارو کې آزادي لري.

خو دا آزادي مطلقه او بې واګو نه ده پرېښودل شوې، بلکې نورو ته د ضرر د نه رسولو او له نورو سره د مرستې لپاره څه بندیزونه او مکلفیتونه وربانديې لګېدلي، لکه: د سود، قمار او ټګۍ حراموالی او د زکات، عشر او مالیاتو لزوم خو په سرمایه داري نظام کې فرد ته په اقتصادي چارو کې مطلقه آزادي ورکړل شوې په سوسیالیستي نظام کې له فرد څخه آزادي اخیستل شوې ده.

٤ – ټولنیز خوندي توب

په اسلام کې دولت د ټولنې په استازیتوب دنده لري چې د وګړو لپاره دومره کارونه پیدا کړي چې د هغوی د خوندي توب لپاره بسنه وکړي، که یو څوک د مرض، معیوبیت، ماشومتوب او یا د زړښت له کبله د کار کولو توان ونه لري، نو دولت باید د هغوی د خوندي توب لپاره دومره څه ورکړي چې لږ تر لږه پې ژوند وربانديې روان شي.

که څه هم په سوسیاسستي نظام کې د ټولنیز خوندیتوب اصل شته، خو په کاپیتالستي نظام کې دا مسأله د یوه اصل په ډول شتون نه لري، ځکه په دې نظام کې هېڅوک له بل سره په مرسته کولو ملکف نه دي.

پوښتنې

۱ – د اسلامي، سرمایه داري او سوسیالستي اقتصادي نظامونو اړېکې رابطه له دین سره بیان کړئ.

۲ – د غبرګوني (خصوصي او دولتي) ملکیت په هکله د درې ډوله مطرحو نظامونو نظر بیان کړئ.

۳ – اقتصادي مقیده آزادي څه ته وایې ؟

٤ – ټولنیز خوندي توب تشریح او د درې واړو اقتصادي نظامونو نظر د هغه په هکله بیان کړئ.

د اسلامي اقتصاد ښیګنې

دا منل شوې خبره ده چې په اسلامي اقتصادي نظامونو کې هغه غوره دی چې وګړو ته زیاته ښیرازي او پرمختګ ورپه برخه کړي، له کړاوونو، ناخوالو او ظلمونو څخه یې وژغوري، ولسونه په ښه توګه له خپلو وسایلو (ځمکې، معدنونو، اوبو) څخه ګټه واخلي او خپل عایدات په عادلانه توګه په لومړیتوبونو کې ولګوي.

هغه اقتصادي نظام ناسم دی چې د پرمختګ مخه ونیسي او یا هم پانګې د محدودو خلکو په لاس کې وغورځوي چې عام ولسونه په خوښه او ناخوښه بیا د هغوی غلامان وګرځي، په پایله کې د وګړو تر منځ دښمنۍ راوپاروي او د ټولنې د وګړو تر منځ د حسد او بېلتون لامل وګرځي.

که څه هم د کاپیتالیزم لومړنی شعار چې د فرد آزادي ده په ظاهره ښه بریښي، خو په عمل کې یې نتیجه دا شوه چې د وګړو تر منځ یې په پانګو کې واټن زیات کړ، ځینې خلک د سود، قمار او نورو ناروا معاملو له کبله شتمن شول او ځینې نور د ډېرې بې وزلۍ له امله د مجبورۍ په حالت کې د هغوی تر اغېز لاندې راغلل، ځرنګه چې په دې نظام کې د زکات او صدقاتو قانون نشته، د دولت واک هم محدود دی او د مالدارو او شتمنو خلکو مالونو کې تصرف نشي کولی، نو د پانګه والو او بېوزلو خلکو تر منځ واټن پیدا کېږي او په پای کې نا امني او دښمني خپریږي.

فعالیت

شتمني د لږو خلکو لاس ته په ورتلو سره، عام خلک د هغوی په وړاندې څنګه ځان مجبور ګڼي ؟ خبرې پرې وکړئ.

په سوسیالیستي نظام کې ځرنګه چې خصوصي ملکیت نشته او هر څوک دولت ته کار کوي، هیڅا ته د هغه د عمل عوض نه ورکول کېږي، که لږ کار وکړي او که ډېر، که ښه کار وکړي، نوښت پکې راولي او که بې کاره، یوازې د کار په اندازه ورته امتیاز ورکول کېږي، نو خلک کوښښ نه کوي او پر مختګ منځ ته نه راځي.

په اسلام کې د پورتنیو دواړو نظامونو عیبونه نشته، ناروا کارونه چې په لږ وخت کې د ډېرې سرمایې د لاسته راوړلو سبب ګرځي لکه سود اخیستل او قمار حرام ګڼل شوي دي، نو که یو څوک ډېر مال په روا توګه تر لاسه کړي، د هغه په مرګ د ده مال د

میراث د قانون پر بنسټ ووېشل شي هر چا ته لږ لږ ورسېږي، نو که دا نظام په سمه توګه عملي شي د پانګه والو او بې وزلو تر منځ واټن کمېږي، د زکات او صدقاتو له املـه د دوی تر منځ خوا خوږي او همدردي پیدا کیږي او په ټولنه کې د دښمنۍ پر ځای مینه ټینګیږي.

فعالیت

په قرآن کریم کې راغلي ﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ﴾ [الحشر : ٧] د دې لپاره چې (دا مال یوازې) ستاسو د غنیانو تر منځ لاس په لاس نه وي. د دې آیت په هکله په خپلو منځونو کې پرې خبرې وکړئ.

همدا راز په اسلام کې خصوصي ملکیت د پولو دننه شتون لري، خلک د خپل کار ګټې په خپله تر لاسه کوي، نو په کار کې کوښښ او ابتکار کوي په دې توګه ټولنه د پرمختګ په لوري روانیږي له همدې کبله په نړۍ کې د سوسیالستي اقتصاد سترې بېلګې په شوروي اتحاد کې دوه لسیزې وړاندې سقوط وکړ. له ۲۰۰۷ میلادي کال څخه را په دې خوا سرمایه داري اقتصاد هم له سختو ستونزو سره مخ دی. سره له دې چې دا دواړه نظامونه اوس له خپلو بنسټیزو ځانګړتیاوو څخه تېر شوي او د اسلامي اقتصاد لور ته د تجربو په کولو نژدې شوي، سوسیالیستانو خصوصي ملکیت ومانه، کاپیتالیستانو دولتي ملکیت او په اقتصادي چارو کې یې د دولت فعال رول ومانه.

پوښتنې

۱. د اقتصاد کوم ډول نظامونه بریالي او غوره دي او کوم ډول نظامونه ناکاره ګڼل کیږي؟
۲. په سرمایه داري نظام کې سترې ستونزې دا دې چې دولت په اقتصادي چارو کې له مداخلې څخه منع شوی، د دې اصل ناوړه پایلې څه دي او اسلام په دې هکله څه حکم کوي ؟
۳. په اسلامي اقتصاد کې تر ډېرې اندازې پورې داسې تدابیر نیول شوي چې د وګړو تر منځ پانګه عادلانه توزیع شي، په دې تدابیرو کې د ځینو نومونه واخلئ.

د میراث د علم اساسات

د میراث تعریف

د میراث علم هغه اصول او قواعد دي چې د هغو په وسیله د میت (مړي) له متروکې څخه د هر وارث حقونه پیژندل کیږي.

موضوع: د میراث د علم موضوع د میت متروکه ده.

غرض: د دې علم غرض په متروکه کې د مستحقینو د حقونو پېژندل دي، ترڅو د متروکې هرمستحق د مړي له متروکې څخه خپله برخه واخلي او یو پر بل باندې ظلم و نه کړي.

د میراث د علم غوره والی

د میراث علم ته نیم علم ویل شوی دی، رسول الله ﷺ فرمایي: «تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوه فَإِنَّهُ نِصْفُ الْعِلْمِ...» [1]

ژباړه: د فرایضو علم (میراث) زده کړئ او هغه نورو ته ور زده کړئ، ځکه هغه نیم علم دی.

د میراث ارکان

میراث درې ارکان لري چې له مورث، وارث او موروث څخه عبارت دي.

مورِث: هغه مړي ته ویل کیږي چې مال یا حق پریږدي.

وارِث: هغه څوک دی چې د میراث مستحق وي.

موروث: پاتې مال یا ترکې ته ویل کیږي.

د میراث شرطونه: میراث لاندې شرطونه لري.

۱ – د مورِث مړینه.

۲ – د وارِث ژوند وروسته د مورث له مړینې څخه.

---

[1] – دغه حدیث حاکم په خپل مستدرک کې ذکر کړی دی.

په اسلام کې میراث

له اسلام څخه مخکې عربانو، میراث هغه چاته ورکاوه چې وسله یې پورته کولی شوای او په جګړو کې یې ګډون کولای شوای، ښځو او ماشومانو ته میراث نه ورکول کېده، ښځې نه یوازې دا چې له میراث څخه بې برخې وې، بلکې دوی په خپله هم په میراث وړل کېدې او له خپلو ټولو حقونو څخه محرومې وې.

د اسلام د مبارک دین په راتلو سره، عدالت تامین شو، د ټولنې د خلکو تر منځ اړیکې د دوستۍ او ورورولۍ پربنسټ بنا شوې.

په اسلام کې میراث خپلوانو ته د نژدیوالي او اړتیا له مخې ورکول کېږي، نو په هغه صورت کې چې نژدې خپل موجود وي، لېرې خپل له میراث څخه محرومېږي، لکه لمسی چې د زوی د شتون په صورت کې له میراث څخه بې برخې وي.

د نارینه وو برخه، ځکه په میراث کې د ښځو له برخې څخه زیاته وي چې د نارینه وو اړتیاهم زیاته وي، هغوی د اولادونو او ښځونفقه په غاړه لري.

د متروکې متعلق حقوق

مخکې یاده شوه چې د میراث د علم موضوع د مړي متروکه ده، د مړي په متروکې پورې لاندې څلور حقونه تړلي دي:

۱- د مړي تکفین او تجهیز:

تکفین یوازې کفن ورکولو ته وایې او تجهیز عام دی، ځکه تجهیز هر هغه څه ته ویل کېږي چې د مړي په ښخولو پورې اړه لري لکه کفن ورکول، قبر کندل، ښخول او داسې نور.

۲- د مړي پورونه:

که له تکفین او تجهیز څخه څه پاتې شي، د مړي پورونه به ورڅخه ادا کوي.

۳- د مړي وصیت:

که مړي وصیت کړی وي، نو د هغه وصیت به د قرض له ادا کولو څخه وروسته د پاتې متروکې په دریمې برخې کې جاري کېږي.

۴- د وارثانو حق:

له تکفین اوتجهیز، دین او وصیت څخه وروسته پاتې مال پر وارثانوباندې وېشل کېږي او وارثان په لاندې ډلو وېشل شوي:

ذوي الفروض(د فرض خاوندان): ذوي الفروض هغه کسان دي چې په قرآن عظيم الشان کې ټاکلې برخې لري.

عصبه: عصبه هغه خپلوان دي چې مړي ته يې دپلار له لوري نسبت کېږي او له ذوی الفروضو څخه پاتې مال دوی ته ورکول کېږي.

ذوی الارحام: هغه خپلوان دي چې ذوی الفروض اوعصبه نه وي، لکه: ماما.

دپورتنيو مستحقينو د نشتوالي په صورت کې د مړي مال، ذوي الارحاموته ورکول کېږي.

موصی له: چې په ټول مال ورته وصيت شوی وي او له پخوانيو وارثانو څخه يو هم موجود نه وي، نو ترکه ده ته ورکول کېږي.

بيت المال: د پورته ذکر شوو اشخاصو د نشتوالي په صورت کې د مړي مال بيت المال ته ورکول کېږي.

پوښتنې

۱- د ميراث د علم تعريف، غرض او موضوع ووایاست.

۲- د مړي متروکې پورې څو حقونه ترلو لري، بيان يې کړئ.

۳- له اسلام څخه پخوا په عربو کې د ښځو او ماشومانو د ميراث حالت څه و؟

۴- که چيرې څوک د خپل ټول مال وصيت وکړي او مړ شي، په دې اړه څه ډول عمل ترسره کېږي؟

۵- د مړي وارثان په ترتيب سره بيان کړئ.

د ميراث په هکله قرآني لارښوونې (۱)

په قرآن کريم کې ډېر احکام په اجمالي ډول ذکر شوي او ځينې په تفصيل سره راغلي، له هغې جملې څخه د ميراث احکام دي، الله ﷻ په خپل مبارک کتاب قرآن عظيم الشان کې د ميراث احکام په پوره تفصيل سره په دريو آيتونو کې بيان کړي چې موږ يې دلته په دريو لوستونو کې له ژباړې او تفصيل سره بيانوو.

﴿يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ فَإِن كُنَّ نِسَاء فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلأُمِّهِ السُّدُسُ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَآؤُكُمْ وَأَبناؤُكُمْ لاَ تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعاً فَرِيضَةً مِّنَ اللهِ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيما حَكِيمًا﴾ [النساء: ۱۱]

ژباړه: ستاسې د اولادونو په باب الله تعالى تاسې ته لارښوونه کوي چې د يوه نارينه برخه د دوو ښځو په اندازه ده، که (د مړي وارثان) له دوو څخه زياتې لونې وي، نو هغوی ته دې د ترکې له دريو نه دوه برخې ورکړای شي او که يوازې يوه لور وارثه وي، نو نيمايي ترکه د هغې ده.

که د مړي اولادونه وي، نو د هغه مور او پلار هر يو ته دې د ترکې شپږمه برخه ورکړل شي او که يې اولاد نه وي، وارثان همدا مور او پلار وي، نو مور ته دې دريمه برخه ورکړل شي.

که د مړي وروڼه او خويندې وي، نو مور به د شپږمې برخې حقداره وي (دا ټولې برخې به) هغه وخت ښايږي چې د مړي وصيت پلي او پور يې ادا شي. تاسې نه پوهيږئ چې ستاسې د مور او پلار او ستاسې له اولاد څخه کوم يو د ګټې له پلوه درته ډېر نژدې دي، دا برخې الله ټاکلې دي، په يقيني توګه الله عالم او د حکمت څښتن دی.

فعاليت

د پورتني آيت ژباړه په دقيق ډول وګورئ چې د چا ميراث پکې ټاکل شوي دي، د کومو شرطونو په اساس د خپلو ټاکلو برخو مستحق ګرځي.

پورتنی آیت د لاندې کسانو برخې بیانوي:

۱_ د نارینه اولاد برخه د ښځینه اولاد په پرتله دوه برابره ده.

۲_ له زامنو څخه پرته ځانته د لونې برخه:

الف: نیمایې: که لور یوه وي.

ب: دوه دریمې: که لونې له یوې څخه ډېرې وي.

کتنه: که د لونې پر ځای ځانته خور یا خویندې وي، همدا برخې ورکول کېږي.

۳_ د مور او پلار لپاره ټاکلې برخه:

الف: شپږمه: مور او پلار هر یو ته دمړي د اولاد (کـه نارینـه وي یـا ښـځینه) د شـتون پـه صورت کې.

ب: د مړي د اولاد د نه لرلو په صورت کې مور ته درېمـه برخـه ورکـول کېـږي او پـلار عصبه ګرځي.

ج: د ورونو د موجودیت په صورت کې مور شپږمه برخـه اخلـي کـه پـلار وي او کـه نـه وي.[1]

فعالیت

پورتنۍ لیکنې ته وګورئ او د هر یو صورت لپاره د آیت برخه ذکر کړئ.

پوښتنې

۱- مور په کوم حالت کې درېمه برخه مال اخلي؟

۲- لور ته څه وخت نیمایې مال ورکول کېږي؟

۳- مور او پلار څه وخت د مال شپږمه برخه وړي؟

٤- پلار کوم وخت عصبه ګرځي؟

کورنۍ دنده

پورتنۍ آیت حفظ کړئ.

---

۱ - که پلار وي ورونه میراث نه وړي، خو د مور برخه له دریمې څخه شپږمې ته راکموي، کـه پـلار نـه وي او اولاد هـم نـه وي، نو ورونه په خپله عصبه ګرځي، په دې حالت کې هم د مور برخه له دریمې څخه شپږمې ته راکمیږي.

يو دېرشم لوست

د ميراث په هکله قرآني لارښوونې (۲)

د نساء سورت په (۱۲)آيت کې الله ﷻ فرمايي:

﴿وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلاَلَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَإِن كَانُوَاْ أَكْثَرَ مِن ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاء فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ﴾

ژباړه

ستاسې ښځو چې څه پرېښي دي، د هغه نيمايي برخه تاسې ته رسيږي که اولاد يې نه وي، که يې اولاد وي بيا د ترکې څلورمه برخه ستاسې ده، البته که وصيت يې کړی وي د وصيت د پوره کېدو او پور له ادا وروسته.

ښځې به ستاسې د ترکې نه د څلورمې برخې حقداري وي، که تاسې بې اولاده وئ، که ستاسي اولادونه وو بيا ستاسې د ترکې نه د هغوی اتمه برخه ده، وروسته له وصيت د پوره کولو نه چې تاسې وصيت کړی وي او وروسته د پور له ادا کولو نه.

او که هغه نارينه يا ښځينه (چې د هغه ميراث بايد وويشل شي) بې اولاده هم وي، مور او پلار يې هم ژوندي نه وي، خو د (مور له طرفه) يې يو ورور يا يوه خور موجوده وي، نو ورور او خور هر يوه ته به شپږمه برخه رسيږي او که دوی له يوه نه زيات وي، نو د ټولې ترکې په دريمه برخه کې برخه وال دي، کله چې سرته رسيدلی وصيت پوره شي او پور ادا شي، په دې شان چې زيان رسوونکی نه وي، دا د الله له لوري حکم دی او الله ﷻ پوه باخبره او زغمناک دی.

فعاليت

پورتنی آيت وگورئ او لاندې موضوعگانې ترې راوباسئ.

۱ – د ښځې ټاکل شوې برخه د شرطونو سره.

۲ – د خاوند ټاکل شوې برخه له شرطونو سره.

۳ – پرته له دې دواړو د بل چا د ميراث په هکله پکې څه ويل شوي؟ بيان يې کړئ.

پورتني آيت كريمه كې د لاندې كسانو برخې ذكر شوي.

۱ـ د ښځې لپاره په قرآن كريم كې دوه ډوله برخې بيان شوي.

الف: اتمه: د مړي د اولاد د شتون په صورت كې.

ب: څلورمه: د مړي د اولاد د نه موجوديت په صورت كې.

۲ـ د مېړه لپاره په قرآن كريم كې دوه ډوله برخې بيان شوي.

الف: نيمايې: د ښځې د اولاد د نه شتون په صورت كې.

ب: څلورمه: د ښځې د اولاد د شتون په صورت كې.

۳ـ دكلاله له ميراث څخه د مورني وروڼو او خويندو برخې.

كلاله: هغه نارينه يا ښځينه شخص ته ويل كېږي چې ژوندی پلار او اولاد و نـه لـري، د ميراث وېش يې په لاندې ډول دی.

الف: شپږمه: كه مړی يو مورنی ورور يا خور ولري.

ب: دريمه: كه مورني وروڼه يا خويندې او يا دواړه ډلې له يوه څخه زياتې وي.

كتنه: مورني وروڼه او خويندې د پورته ډول ميراث مړي په مال كې برابره برخه لري.

پوښتنې

۱- ښځه له مېړه څخه څومره ميراث وړي؟ په تفصيل سره يې بيان كړئ.

۲- مېړه د ښځې په مال كې څومره حقدار دی؟روښانه يې كړئ.

۳- د ميراث وېش به له وصيت او دين څخه وړاندې تر سره كېږي كه څنګه؟

۴- مورني اولاد د ژوندي مثال په ورکولو سره روښانه كړئ.

۵- د مورني اولاد ميراث د قرآني لارښوونو په رڼا كې بيان كړئ.

٦- مورني وروڼه څه وخت ميراث وړي؟

كورنۍ دنده

پورتنی آيت حفظ كړئ.

د ميراث په هکله قرآني لارښوونې (۳)

د النساء سورت په (۱۷۶)آيت کې الله جل جلاله فرمايي:

﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلاَلَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ فَإِن كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ وَإِن كَانُواْ إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَاء فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّواْ وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾

ژباړه

خلک له تا څخه (د کلاله په باب) فتوی غواړي ووايه: الله ﷻ تاسې ته د کلالـه پـه هکلـه فتوی درکوي.

که څوک بې اولاده ومري (او پلار يې هم نه وي) او د هغه يوه خور وي، نو هغـه بـه د مړي نيمايې ترکه واخلي، که خور بې اولاده ومري، نو ورور به د هغې وارث وي.

کـه د مـړي وارثـان دوه خويـندې وي، نـو هغـوی بـه د ترکـې لـه دريـو نـه د دوو برخـو حقداري وي، که ډېر ورونه او خويندې وي، نو د هر نارينه به د هـرې ښـځې پـه تناسـب دوه برابره برخه وي.

الله ﷻ تاسې ته حکمونه تشريح کوي چې تاسې لار ورکي نـه شـئ او الله ﷻ پـه هـر شـي پوه دی.

فعاليت

د پورتني آيت په رڼا کې لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱ – کلاله څه ته وايې ؟

۲ – يوه خور چې ځانته وي څومره ميراث وړي؟

۳ – که خويندې له يوې څخه زياتې وي او ورور ونه لري، نو څومره ميراث وړي؟

٤ – ورونه او خويندې که سره يو ځای شي، ورور د خور په نسبت څومره برخه اخلي؟

د بې اولاده سړي يا ښځې چې مور او پلار يې هم مړه وي د ميراث وېش: داسې ځوک که مورنی ورور، ورونه، خور او يا خويندې ولري، نو د ميراث برخې يې په لاندې ډول دي.

۱ـ د خويندو برخې: که له پورته ډول ميرات څخه يوازې پلارنۍ خويندې پاتې وي، برخې يې په لاندې ډول دي:

الف: نيمايې: که چېرې د مړي نه يوازې يوه پلارنۍ خور پاتې وي.

ب: دوه دريمې: که د مړي خويندې له يوې څخه ډېرې وي.

۲ـ که له دې ډول مړي څخه پلارني[1] ورونه او خويندې دواړه پاتې وي، نو د ميراث په وېش کې نارينه ته دوه او ښځينه ته يوه برخه ورکول کېږي.

د ميراث مړي ميراث په هغه صورت کې چې ورونه او خويندې ورڅخه په ګډه پاتې وي ورور د خور دوه برابره برخه اخلي، يعنې يو ورور په درې افغانيو کې دوه افغانۍ اخلي.

۳- که خور اولاد ونه لري، ورور يې وارث دی.

پوښتنې

۱- کلاله چا ته ويل کېږي؟

۲- د هغې دريمې برخې خاوندان څوک دي چې سړي او ښځې پکې د ميراث په وېش کې برابر دي؟

۳- ورور د خور په اندازه څومره برخه اخلي؟

٤- د شپږمې برخې خاوندان په ګوته کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی آيت حفظ کړئ.

---

۱ له پلارني ورور يا خور څخه دوه ډوله ورونه او خويندې مراد دي، سکنی او يوازې له پلار څخه.

ذوي الفروض او د هغوی برخې

په قرآن کريم کې د ذوی الفروضو لپاره شپږ برخې بيان شوې دي:

۱- نصف (نيمه) $(\frac{۱}{۲})$

۲- ربع (څلورمه) $(\frac{۱}{۴})$

۳- ثمن (اتمه) $(\frac{۱}{۸})$

۴- ثلثان (دوه پردي) $(\frac{۲}{۳})$

۵- ثلث (دريمه) $(\frac{۱}{۳})$

۶- سدس (شپږمه) $(\frac{۱}{۶})$

د ميراث په علم کې نصف، ربع او ثمن په لومړي ډول، ثلث، ثلثان او سدس په دويم ډول يادېږي.

ددې معلومو برخو خاوندان او مستحقين دولس (۱۲) کسان دي چې څلور يې نارينه او اته يې ښځينه دي.

د ميراث په مسايلو کې د هريوه لپاره مختلف حالات دي او په ټولو حالاتو کې هر يوه ته ټوله برخه ټاکل شوې ده. نو اړينه ده چې د هر يوه حالت په لنډ ډول ذکر شي، تر څو ګران زده کوونکي د ميراث له مهمو او زياتو پېښېدونکو مسايلو څخه خبرشي.

فعاليت

د ذوی الفروضو دا پورته څرګندې برخې له قرآن کريم څخه راوکاږئ

د نارینه وو احوال

هغه نارینه چې معلومې برخې لري څلور تنه دي.

۱- پلار.

پلار درې حالته لري.

الف: که له پلار سره د مړي زوی یا د مړي د زوی زوی کـه څـه هـم تـرې راښکته وي موجود وي، نو په دې حالت کې پلار ته سدس $(\frac{1}{6})$ ورکول کېږي.

ب: که له پلار سره د مړي لوریا دمړي د زوی لور (که څه هم ترې راښکته وي) موجـود وي، نو په دې حالت کې پلار ته سدس $(\frac{1}{6})$ او د عصوبت برخه دواړه ورکول کېږي.

ج: که د مړي اولاد (۱)(نارینه وي او که ښځینه) او یا له هغه نه کښته موجـود نـه وي، نـو په داسې حالت کې پلار یوازې عصبه دی او معلومه برخه په دې حالـت کـې نـه ورکـول کېږي، بلکې ټول مال وړي.

۲- صحیح نیکه

نوموړی د پلار د نشتوالي په صـورت کـې د پـلار پـه ډول دی، خـو پـه خوصـورتونوکې ورسره توپیر لري چې د میراث په کتابونو کې یې تفصیل موندل کېږي.

که چېرې د مړي پلار او نیکه دواړه پاتې شي. د نیکه حق ساقط او مال ټول د پلار دی.

۳- اخیافي (مورنی) ورور او خور: څرنګه چې اخیـافي ورور او خـور د میـراث پـه وېش کې سره یو شان دي او کوم توپیر نه لري، نو د دواړو احوال یو ځـای ذکـر کېږي که څه هم په حقیقت کې هر یو یې جلا صنف ګڼل کېږي او درې احواله لري:

الف: که یو اخیافي ورور یا یوه اخیافي خور وي برخه یې شپږمه $(\frac{1}{6})$ ده.

ب: که دوه یا زیات وي دریمه برخه $(\frac{1}{3})$ اخلي. نارینه او ښځې یې په استحقاق او تقـسیم کې یو شان دي.

ج: که د مړي زوی یاله هغه نه ښکته پاتې شي اخیافي ورور او خور ساقطیږي.

۴- زوج (مېړه) دوه حالته لري.

---

۱ - د اولاد کلمه نارینه او ښځینه دواړو زیرندو ته شامله ده .

الف: که چېرې د هغه مړه شوې ښځه اولاد ولري، نو مېړه ته د ښځې د متروکې څلورمه ($\frac{1}{4}$) ورکول کېږي.

فعالیت

د میراث د آیتونو څخه هغه برخه ذکر کړئ چې د ښځې او خاوند میراث پکې له شرطونو سره ټاکل شوی.

ب: او که مړه شوې ښځه اولاد و نه لري، نومېړه ته یې نیمایې ($\frac{1}{2}$) متروکه ورکول کېږي.

فعالیت:

د نصف، ربع او ثلث خاوندان څوک دي ؟

پوښتنې

۱. د وارثانو لپاره ټاکل شوې برخې څو دي؟ بیان یې کړئ.
۲. پلار څو احواله لري؟ واضح یې کړئ.
۳. صحیح جد تعریف کړئ؟
٤. د اخیافي خویندو او وروڼو احوال ولیکئ.
٥. زوج څو احواله لري؟ بیان یې کړئ.

د ښځينه ذوي الفروضو احوال

هغه ښځې چې څرګندې برخې لري اته (۸) دي.

(۱)ښځه (ماندينه).

ښځه هم د مېړه په شان دوه حالته لري:

الف: که له مېړه څخه زوی يا لور پاتې نه وي. ښځې ته د مېړه له ما ل څخه څلورمه ($\frac{۱}{۴}$) برخه رسېږي.

ب: که له مېړه څخه زوی يا لور پاتې وي، ښځې ته د مېړه له مال څخه اتمه ($\frac{۱}{۸}$) برخه ور رسېږي.

که له مړي څخه له يوې نه زياتې ښځې پاتې شي، دوی ټولې په همغه ټاکلې برخه ($\frac{۱}{۴}$) يا ($\frac{۱}{۸}$) کې سره شريکې دي.

۲- لور

لور درې حالته لري

الف: که له مړي څخه يوه لور پاتې شي د متروکې نيمايې ($\frac{۱}{۲}$) برخه په ميراث وړي.

ب: دوو يا زياتو لونړو ته د متروکې دوه ثلثه ($\frac{۲}{۳}$) ورکول کېږي.

ج: که چېرې له مړي څخه زامن او لونړې دواړه پاتې شي، نو بيا لونړې عصبه ګرځي او يو ورور د دوو خويندو اندازه اخلي. دمثال په توګه: که يو هلک او يوه نجلۍ پاتې شي د متروکې ($\frac{۲}{۳}$) د هلک او ($\frac{۱}{۳}$) د نجلۍ حق کېږي.

فعاليت: پورتنۍ حالات عملاً په ټولګي کې تمثيل کړئ.

۳- د زوی لور

که له مړي څخه زوی اويا دوه لونړې پاتې وي، نو د زوی لور له ميراث څخه محرومېږي او په نورو مواردو کې مېراث ورکول کېږي چې تفصيل يې د ميراث په کتابونو کې ذکر دی.

۴- سکه خويندې (هغه چې د پلاراو موردواړو څخه وي)

سکه خويندې پنځه احواله لري

الف: يوې ته نيمايې ورکول کېږي.

ب: دوه يا زياتو ته ثلثان ($\frac{۲}{۳}$)ورکول کېږي.

ج: که سکه ورور ور سره وي عصبه کېږي او ورور د دوو خويندو برابره برخه اخلي.

د: که چېرې د مړي د زوي لور ور سره پاتې وي، دوی عصبه ګرځي.

هـ: که چېرې د مړي پلار پاتې شوی وي د خور حق ساقطېږي.

۵- د پلار له خوا خويندې

علاتي خويندې د اعياني ورونړو او خويندو د نه شتون په صورت کې د اعياني خويندو په ډول دي، خو په ځينو مواردو کې فرق لري چې د ميراث په کتابونو کې په تفصيل سره بيان شوي.

٦- مور

مور درې احواله لري

الف: مور هغه وخت سدس ($\frac{۱}{۶}$) اخلي چې د مړي زوی يا لمسی موجود وي که څه هم تړې شکته وي اويا دا چې دوې يازياتې خويندې يا ورونړه له هر حيثه چې وي موجود وي.

ب: د ټول مال ثلث ($\frac{۱}{۳}$) هغه وخت اخلي چې له پورته ذکر شوو اشخاصو څخه يو هم موجود نه وي.

ج: د پاتې مال ثلث ($\frac{۱}{۳}$) هغه وخت اخلي چې يو له زوجينو څخه ورسره وي او دا يوازې دا لاندې دوه صورتونه لري چې په دې ډول دي.

۱- مثال: چې شځه مړه شي، مېړه، پلار او مور ورځخه پاتې شي، د ټول مال نيمايې دمېړه، د پاتې مال دريمه برخه دمور او دوه دريمې يې په عصوبت دپلار کېږي.

اصل مسأله له: ۲ ضرب ۳ = ۶ درې برخې (نيمې د هغو) د مېړه لپاره اوله نيم څخه پاتې مور ته ثلث يعنې يوه برخه او د پلار لپاره دوه برخې دي.

شځه ۳ ضرب ۲=۶

مړی _____

مېړه مور پلار

۳ ۱ ۲

۲- مثال: چې میړه مړ شي، ښځه، پلار او مور ورځخه پاتې شي، ښځې ته د ټول مال څلورمه، مور ته دپاتې مال دریمه او نور په عصوبت دپلار کیږي.

میړه ۴

مړی _____

ښځه پلار مور

۱ ۲ ۱

په پورته دواړو مواردوکې مور یو د زوجینو له فرض څخه وروسته د پاتې مال دریمه برخه اخلي.

۷- جده (نیا): صحیح جده[۱] (۱/۶) برخه میراث وړي. د مور په شتون ټولې جدې ساقطیږي او د پلار په شتون یوازې د پلار له خوا نیا له میراث څخه محرومیږي.

د جدو نور احوال د میراث په کتابونو کې موندل کیږي.

۸- اخیافي خور

د اخیافي خور حالات د اخیافي ورور په حالاتو کې ذکر شوي دي.

پوښتنې

۱- د لور احوال بیان کړئ.

۲- زوجه څو حالته لري؟ واضح یې کړئ.

۳- اعیاني خویندې څو احواله لري؟ بیان یې کړئ.

٤- مور څو احواله لري؟ واضح یې کړئ.

٥- آیاجدات هر وخت د میراث حق لرونکې وي او که څنګه؟

۱ _ صحیح جده هغې انی ته ویل کیږي چې مړي ته په نسبت کې یې فاسد جد راغلی وي، لکه: د پلار مور، یا د پلار د پلار مور یا د مور د مور مور ، او مور د پلار مور صحیح جده نه ده هغې ته رحمي یا فاسده جده ویل کیږي.

عصبات

د عصباتو د میراث قاعده

له مړي څخه د عصباتو د میراث استحقاق هغه ته د درجې د نژدېوالي او لېرې والي پر اساس ټاکل کېږي. هر څوک چې په درجه کې مړي ته نژدې وي لومړی حق د هغه دی او بیا ورپسې نژدې چې ترتیب یې په دې ډول دی.

۱- د مړي فرع یعنې زامن که څه هم ترې را ښکته وي.

۲- د مړي اصل یعنې پلار که څه هم ترې پورته وي.

۳- د مړي د پلار جزء یعنې وروڼه که څه هم ترې کښته وي.

۴- دمړي د نیکه جزء یعنې کاکا او زامن یې که څه هم ترې کښته وي.

که له مړي څخه داسې عصبه پاتې شي چې په مرتبه او درجه کې سره برابر وي. بیا د قرابت(نژدې والي او خپلوۍ) قوت اعتبار لري. یعنې چې له دوو خواوو له مړي سره قرابت ولري، هغه مقدم دی، له هغه نه چې له یوه پلوه قرابت ولري، لکه: وروڼه چې مړي ته په درجه او مرتبه کې یو برابر دي، خو په قوت او قرابت کې سره توپیر لري. مثلاً ځینې اعیاني وي او ځینې علاتي وي.

علاتي وروڼه د اعیاني وروڼو د موجودیت په صورت کې له میراث څخه محروم دي، ځکه اعیاني قرابت له علاتي نه قوي دی. حتی که اعیاني خور د مړي د لور په سبب عصبه شوي وي، هم د علاتي وروڼو د میراث مانع ګرځي، ځکه چې قرابت یې له علاتي ورور څخه قوي دی.

فعالیت

د عصباتو ترتیب په ژوندي مثال سره روښانه کړئ.

حجب

حجب په لغت کې منع ته وایِي او په اصطلاح کې حجب دې ته وایې چې یو ټاکلی شخص د بل ټاکلي شخص د موجودیت له کبله له ټول او یا یوې برخې میراث څخه بې برخې شي.

حجب په دوه ډوله دی.

۱- دنقصان حجب.

۲- د حرمان حجب.

د نقصان حجب: دې ته وايې چې يو څوک د بل چا د موجوديت له کبله په جز يې توګه له ميراث څخه محروم شي.

دحرمان حجب: دې ته وايې چې يو انسان د بل انسان د موجوديت له کبله په بشپړه توګه له ميراث څخه محروم شي.

د حرمان د حجب په نسبت ورثه دوې ډلې دي. يوه ډله يې هېڅ حجب حرمان نه قبلوي او دا ډله دغه شپږ کسان دي لکه:

۱- زوی

۲- پلار

۳- میړه

۴- لور

۵- مور

۶- ښځه

له دې پرته نور وارثان په يوه حالت کې مستحق او په بل حالت کې محروم ګڼل کېږي.

فعاليت

داسې درې ډلې وارثان ذکر کړئ چې ځينې وخت په کلي توګه له ميراث څخه محرومېږي

پوښتنې

۱ د عصباتو ترمنځ د ميراث د استحقاق قانون روښانه کړئ.

۲- حجب تعريف او په څو ډوله دی ؟

۳- د حرمان حجب کوم حجب ته وايې ؟

٤- هغه کومه ډله خلک دي چې هېڅ وخت له ميراث څخه نه محرومېږي؟

د برخو (سهمونو) مخرجونه

د برخو د خاوندانو په بحث کې یادونه و شوه چې ټولې ذکر شوې برخې د خدای ﷻ په کتاب کې شپږ دي چې بیا په دوو ډولونو ویشل شوي دي. لومړی ډول یې نصف، ربع او ثمن دی. او دویم ډول یې ثلثان، ثلث او سدس دی.

څرنګه چې ذکر شوې برخې ټولې یو کسري عدد جوړوي، که هره یوه ځانته موجوده شي، نو د برخو مخرجونه د هغه کسر مخرج دی. د نصف مخرج دوه، د ربع مخرج څلور، د ثمن مخرج اته، د ثلثان او ثلث مخرج درې او د سدس مخرج شپږ دی.

که په مسأله کې د یوې نوعې له برخو څخه دوې یا درې برخې موجودې شي، نو هر عدد چې د جزء لپاره مخرج وي هغه عدد د هغه جزء د ضعف (دوه برابره) او د کمزورې لپاره هم مخرج وي.

د مثال په ډول: په لومړي ډول کې چې نصف، ربع او ثمن دی. ثمن د ربعې جزء دی. کوم عدد چې د ثمن لپاره مخرج وي یعنې (۸) نو د اته عدد د ثمن د ضعف ($\frac{۱}{۴}$) او د ضعف ضعف ($\frac{۱}{۲}$) لپاره هم مخرج دی.

همدارنګه په دویم ډول کې د سدس مخرج (۶) دی، نو همدا عدد د ثلث او ثلثان لپاره هم مخرج دی. که د لومړۍ نوعې نصف د دویمې ټولې نوعې او یا یوې برخې سره په مسأله کې راشي، نو مخرج یې شپږ دی (مسأله له شپږو) نه کیږي.

لکه: ښځه مړه شوه میړه، مور او مورنی ورور ورځخه پاتې شول.

٦

میړه	مور	مورنی ورور
نیمایي	دریمه	شپږمه
(۳)	(۲)	(۱)

د زوج لپاره نصف، د ام لپاره ثلث او د اخ لأم لپاره سدس دی چې اصل (مسأله له شپږو) نه کیږي.

که د لومړۍ نوعې څخه ربعه د ټولې دویمې او یا یې له ځینو برخو سره راشي د مسألې مخرج (۱۲) کیږي، لکه: په دې مسأله کې: سړی مړ شو ښځه، پلارنۍ او سکنۍ خویندې ورځخه پاتې شوې. ۱۲

مړی

ښځه پلارنۍ خویندې سکنۍ خویندې

ربع سدس ثلثین

(۳) (۲) (۸)

که د اولې نوعې ثمن له ټولې دویمې نوعې او یا یې له ځینو برخو سره په مسأله کې راشي د مسألې مخرج له (۲۴) څخه کیږي، لکه: په دې مسأله کې: شخص مړ شو ښځه، مور، دوه لونې او تره ورځخه پاتې شول.

۲۴

مړی

ښځه مور دوه لونې تره

ثمن سدس ثلثان عصبه

(۳) (۴) (۱۶) (۱)

له ذکر شوي بیان څخه څرګندیږي چې د میراث د مسألې مخرج به له لاندې مخرجونو څخه بهرنه وي.

(۲-۳-۶-٤-۸-۱۲-۲٤) نو د میراث د مسألو لپاره مخرجونه (۷) اووه ټاکل شوي او سهمونه شپږ دي.

پوښتنې

۱- د ذوی الفروضو ټولې ټاکل شوې برخې څو دي؟

۲- نصف له لومړۍ نوعې څخه چې له ټولې دویمې نوعې یا ځینو برخو سره ګډ شي مسأله د څو نه کیږي؟

۳- ربع چې په مسأله کې له ثلث او سدس سره یو ځای شي مسأله د څو نه کیږي؟

٤- ثمن چې له دویمې نوعې سره یو ځای شي د مثال په راوړلو سره مسأله توضیح کړئ.

۵- د میراث د مسألو لپاره ټول مخرجونه څو دي؟

عول

عول په لغت کې میلان او ظلم ته وایې چې د غلبې په معنا هم استعمالیږي. د میراث په اصطلاح کې عول دې ته وایې چې د سهمونو اندازه د مخرج په پرتله زیاته شي یعنې کله چې د مسألې مخرج معلوم او د وارثانو سهمونه ټول سره جمع شي د سهمونو مجموعه د مسألې له مخرج څخه تېری وکړي، نو دې حالت ته په میراث کې عول وایې.

د لومړي ځل لپاره حضرت عمرؓ پر عول باندې حکم کړی دی، ځکه د ده په زمانه کې داسې مسأله پېښه شوې وه، لکه: ښځه مړه شوه مېړه، مور او پلارنی خور ورځخه پاتې شول.

اصل مسأله ۶ عول یی ۸ اته

مړی

مېړه	مور	پلارنی خور
نصف	ثلث	نصف
۳	۲	۳

په پورته مسأله کې نصف له لومړی نوعې څخه د دویمې نوعې له ثلث سره ګډ شوی، نو ځکه مسأله له شپږوڅخه پیلیږي. د شپږو نصف چې (۳) دی د زوج لپاره دی او ثلث یې دوه دی چې د مور لپاره دی، نصف یې (۳) دی چې د اخت لاب لپاره دی او د ټولو مجموعه ۳+۲+۳=۸ کیږي یعنې د سهمونو مجموعه اته او د مسألې مخرج شپږ دی نوځکه مسأله عول کوي له شپږو نه اتو ته چې د مړي متروکه به اته برخې شي او په پورته ډول به سهام هر وارث ته ورکړی شي.

حضرت عمرؓ له نورو صحابه وو کرامو سره چې حضرت عثمانؓ، حضرت علیؓ حضرت ابن عباسؓ او حضرت ابن مسعودؓ له هغې جملې څخه وو مشوره وکړه. حضرت ابن عباسؓ عول ته اشاره وکړه او نور و ټولو یې تائید وکړ او هیڅا مخالفت و نه کړ. هماغه و چې د مړي متروکه په اتو برخو په پورتني ترتیب و ویشل شوه. نو ځکه یې مشروعیت ثابت دی او د هغه مطابق په عولیه مسألو کې اجراء کیږي.

فعالیت

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو په مرسته دا لاندې مسألې وخېړي چې عول کوي او که نه او هم دې مخرج ورته وټاکي.

۱ – سړی مړ شو یوه ښځه، څلور لونې، پلار او مور ورځخه پاتې شول.

۲ – ښځه مړه شوه مېړه، دوه لونې، پلار او مور ترې پاتې شول.

۳ – ښځه مړه شوه یوه خور، مېړه، پلار او مور ترې پاتې شول.

٤ – سړی مړ شو، دوه ښځې، دوه لونې، مور او پلار ترې پاتې شول.

پوښتنې

۱ – عول تعریف کړئ.

۲ – د لومړي څل لپاره عول د چا په زمانه کې رامنځ ته شو؟

۳ – داسې یوه مسأله جوړه کړئ چې له دولسو څخه یې دیارلسو ته عول کړی وي.

د عددونو ترمنځ تماثل، تداخل، توافق او تباين پېژندل

په ځينو مسايلو کې داسې پېښېږي چې په يوې يا څو ډلو باندې برخې پوره نه تقسيمېږي بلکې کسري وي. د دې لپاره چې هر چا ته پوره پوره برخې ورسېږي او کسر پيدا نه شي، نو تصحيح ته اړتيا محسوسېږي او تصحيح د عددونو پر تماثل، تداخل، توافق او تباين باندې بناء کېږي، نوځکه له تصحيح څخه لومړی د دوی پېژندل ضرور دي.

تماثل: د هغو دوو يا زياتو عددونو ترمنځ نسبت ته ويل کېږي چې هغه عددونه سره مساوي وي، لکه: پنځه پنځه يا درې درې او داسې نور.

تداخل: د اعدادو ترمنځ داسې نسبت ته وايې چې يو په بل کې دننه وي، لکه: ۲ او ۴، ۳ او ٦ او داسې نور، داسې هم ويلای شو: هغه عددونه چې وړوکی يې په لوی پوره تقسيم شي، لکه: ۷ او ۲۱ او نور تداخل بلل کېږي.

توافق: د عددونو ترمنځ داسې نسبت ته وايې چې که يو عدد بل عدد ته متوجه کړی شي هغه نه محوه کوي، ليکن دريم عدد هغه دواړه محوه کوي، لکه: ۸ او ۲۰. اته چې شلو ته متوجه شي په دوه کرته ۱۶ جدا کېږي او څلور باقي پاتې کېږي، خو څلور چې شلو ته متوجه کړو په پنځه کرته او چې اتو ته يې متوجه کړو په دوه کرته يې تاموي، نو اته او شل په څلورو(بالربع) توافق لري، ځکه هغه عدد چې دا دواړه محوه کوي (۴) دی.

تباين: د دوو عددونو ترمنځ هغه نسبت ته وايې چې يو بل نه محوه کوي او دريم عدد يې هم نه شي محوه کولای، لکه: ۹ او ۲۰ چې د دوی ترمنځ تباين موجود دی.

فعاليت

د لاندې عددونو تر منځ نسبت ذکر کړئ.

[۲۰، ٥ / ۹، ۱۱ / ۲٦، ۸ / ۷، ۷]

د عددونو تر منځ د توافق او تباين د پيژندلو طريقه:

له لوی عدد څخه وړوکی تفريق کيږي، تر څو مفروق منه له مفروق عدد څخه پاتې شي، له هغه وروسته کم عدد له ډېر عدد څخه تفريق کيږي، همدا عمليه په همدې بڼه دوام پيدا کوي، تر څو دواړه عدده سره يو شي.

که د دوی اتفاق په يوه و، د دوی تر منځ تباين دی، که په دوو متفق شول، نو په نصف توافق دی، که په دريو متفق شول، نو توافق يې په ثلث دی او که په څلورو متفق شول، توافق يې په ربع دی، همداسې تر پايه پورې دوام پيدا کوي.

پوښتنې

۱. تماثل تعريف او مثال يې بيان کړئ.
۲. د تداخل تعريف او له مثاله سره يې وليکئ.
۳. توافق سره له مثاله واضح کړئ.
٤. د تباين تعريف او د يوه مثال په ترڅ کې يې وليکئ.
٥. د اعدادو تر منځ د توافق او تباين د پيژندلو طريقه و واياست.

تصحيح

تصحيح له صحت څخه اخيستل شوې چې صحت روغتيا تـه وايـي. نـاروغۍ ضـد ده او د ميراث د علم په اصطلاح کې تصحيح عبارت ده له کوچني عدد نـه د برخـو اخيـستل پـه داسې ډول سره چې د مستحقينو په برخو کې کسر واقع نه شي.

د مسايلو تصحيح په اصل کې د رياضي د علم برخه ده او د ميراث په علم کې د اړتيا لـه کبله په تفصيل سره راغلې چې هغه په دې لنډ بحث کې نه ځايېږي، خو د بېلګې پـه ډول يې دوه مثاله راوړو:

لومړی مثال: که د هرې ډلې برخې د هغې ډلې پـر وارثـانو باندې پـوره ووېـشل شي او هېڅ کسر پکې رانه شي، نو اصل مسأله په خپله تصحيح ده او کوم ضرب تـه اړتيـا نه لري، لکه: چې شخص وفات شي، پلار، مور او دوه لونې ورځخه پاتـه شـي، د مـور يـې شپږمه، د لونو يې دوه ثلثه او باقي يې په عصوبت د پلار کېږي.

مسأله ۶

مړی _____

پلار مور دوه لونې

۱ ۱ ۴

دويم مثال: کله چې د برخو په وېش کې په يوې برخې باندې کسر واقع شـي او دسـهامو او د رؤوسو تر منځ يې توافق موجود وي، نو د رؤوسو وفق د مسألې په اصل کې ضربوو، دضرب حاصل د مسألې تصحيح جوړېږي، او د هرچا برخه چې په مـضروب کـې ضـرب شي حاصل يې د تصحيح څخه د هغوی برخه ده، لکه: شخص مړ شو پـلار، مـور او لـس لونې ورځخه پاتې شوې.

اصل مسأله۶ ضرب۵= ۳۰ تصحيح ۳۰ده

مړی _____

پلار مور لس لونې

۱ضرب۵=۵ ۱ضرب۵=۵ ۴ضرب۵=۲۰

څلور په لسو پوره نه تقسيمېږي او نسبت د څلورو او لسو ترمنځ موافقت بالنصف دی، نو د لسو نيمايې چې پنځه دي بايد په اصل مسأله کې چې شپږ دي ضربوو، د ضرب حاصل يې (۳۰) کېږي چې همدغه د مسألې تصحيح ده.

فعاليت

لاندې مسايل دې په داسې ډول حل شي چې د هېڅ وراث برخه کسر ونلري:

۱ – سړی مړ شو دوه ښځې، شپږ لونې، درې زامن، پلار او يا مور ترې پاتې شول.

۲ – ښځه مړه شوه، مېړه، درې خويندې او يو لمسی يې وارثان دي.

۳ – ښځه مړه شوه دوه مورنې ورونه، پلار، مور او خاوند يې وارثان دي.

پوښتنې

۱- د تصحيح لغوي او اصطلاحي معنا بيان کړئ.

۲-که د هرې طايفې برخې په وارثانو پوره ووېشل شي د تصحيح صورت څرنګه دی؟ واضح يې کړئ؟

۳- که د يوې ډلې وارثانو د برخو وېشل کسري شي، د برخو او وارثانو د شمېر تر منځ موافقت وي، د مسألې تصحيح به په څه ډول وشي ؟ د يوه مثال په ترڅ کې يې واضح کړئ.

٤- يوه داسې مسأله له خپل فکر څخه حل کړئ چې په هېڅ طايفه کسر نه وي راغلی.

د وارثانو تر منځ د متروکې د تقسیم طریقه

کله چې د مړي متروکه د مړي په وارثانو باندې وېشو، لومړی باید متروکه په نقدو (افغانیو) واړول شي، له دې وروسته به د وارثانو لپاره د مسألې تصحیح وشي، بیا د مسألې د تصحیح او متروکې تر منځ په نسبت وکتل شي. که چېرې د متروکې او تصحیح ترمنځ نسبت تباین و، نو کومه برخه چې د هر وارث لپاره د تصحیح له مسألې نه رسېږي، هغه به په ټوله متروکه کې ضربوو او د ضرب حاصل به پر تصحیح د مسألې باندې تقسیموو.

د مثال په توګه: که یو تن مړ شي، پلار، مور او دوه لونې ترې وارثان پاتې شي اوترکه (۷)دیناره وي، نو د تقسیم عملیه په لاندې توګه تر سره کېږي.

مسأله۶

مړی ــ

پلار	مور	دوې لونې
۱	۱	۴

دلته اصلي مسأله (۶) او متروکه (۷) دیناره ده چې پر (۶) پوره نه وېشل کېږي او نسبت د ۶ او ۷ ترمنځ تباین دی، نو د پلار لپاره له اصلي مسألې څخه یوه برخه ده. یو به په (۷) کې ضرب کړو او حاصل ضرب (۷) به د مسألې پر تصحیح (۶) ووېشو، حاصل تقسیم چې $(۱\frac{۱}{۶})$ کېږي د پلار برخه شوه.

همدارنګه د مور حق $(۱\frac{۱}{۶})$دیناره کېږي.

د لور برخه د مسألې څخه دوه ده، کله چې په متروکه کې ضرب شي ۱۴کېږي، که په شپږو ووېشل شي دوه صحیح یو پر درې دیناره هرې یوې لور ته رسېږي.

فورمول

$$\frac{\text{ترکه} \times \text{سهم هر وارث}}{\text{تصحیح مساله}}$$

او که د مسألې د تصحیح او متروکې ترمنځ نسبت توافق وي، نو باید د هر وارث برخه د متروکې په وفق کې ضرب او د تصحیح پر وفق باندې ووېشل شي، حاصل تقسیم د هر وارث برخه جوړوي.

فورمول: وفق ترکه × سهم هر وارث

وفق تصحیح

مثلا: که په پخوانۍ مسأله کې متروکه (۸) دیناره وه.

مسأله ۶

مړی

پلار	مور	دوه لونې
شپږمه	شپږمه	ثلثان
۱	۱	۴

دلته ګورو چې د (۶) او (۸) ترمنځ موافقت بالنصف دی، نو د هر وارث برخه باید د متروکې په نیمایې کې ضرب شي او بیا د ضرب حاصل د تصحیح په نیمایي ووېشل شي. د پلار لپاره له اصل مسئلې نه یو او نیمایې د متروکې (۴) دي. ۱×۴=۴ کېږي، کله چې د مسئلې پر نیمایې (۳) ووېشل شي ۱,۳۳ کېږي. همدارنګه د مور برخه ۱,۳۳ دیناره ده. د یوې لور برخه چې له مسئلې نه دوې برخې ده، هم د متروکې په نیمایې (۴) کې ضربېږي ۲×۴=۸ کېږي چې کله د تصحیح پر نیمایې (۳) باندې ووېشل شي خارج قسمت ۲,۶۶ کېږي چې د هرې لور برخه جوړوي.

فعالیت

یو لک او شل زره افغانۍ پر لاندې وارثانو ووېشئ.

پر مېړه ، درې زامنو، څلورو لونړو، پلار او مور.

تخارج

تخارج له خروج څخه اخېستل شوی دی او د میراث د علـم پـه اصـطلاح کـې تخـارج د وارثانو ترمنځ هغه سوله ده چې کوم وارث د وارثانو لـه ډلـې څخـه د یـو ټاکلي شـي پـه اخیستلو سره ځان له منځه وباسي او خپله برخه نورو وارثانوته پرېږدي، دا کـار روا دی پـه دې شرط چې ټول وارثان ورباندې راضي شي، نو که کوم وارث په یوه شي لـه متروکـې څخه له نورو وارثانو سره سوله وکړي د هغـه وارث برخـه بـه د تـصحیح د مـسألې څخـه طرح او پاتې متروکه به په پاتې برخو ووېشل شي، لکه چې مېړه د متروکې له مـا ل څخـه په یوه شي سوله وکړي، لکه: ښځه مړه شوه مېړه، مور او تره ترې پـاتې شول.

د مسألې اصل له مېړه سره ۶

مړی _____

مېړه مور تره

نصف ثلث عصبه

۳ ۲ ۱

کله چې زوج په یوه شي سره سوله وکړي، نو له متروکې څخه هغه شی غورځول کېږي او پاتې متروکه په پاتې برخو چې د مور برخه (۲) او د تره برخه (یوه) ټولې درې برخـې وي وېشل کېږي، دوه برخې د مور او یوه برخه د تره کېږي او یا په دې مسأله کې:

مسأله ۸ ضرب ۴= ۳۲

مړی _____

ښځه ۴زامن

ثمن (اتمه) عصبه

۱ ضرب ۴=۴ ۷ ضرب ۴= ۲۸

که یو زوی پر یوه شي سوله وکړي او له منځه ووځي، نو د یوه زوی برخه (۷) ده او کله چې (۷) له (۳۲) څخه کم شي (۲۵) پاتې کیږي، نوځلور برخې(۲۱) برخې درې زامنو ته چې د هر یوه زوی لپاره (۷) رسیږي ورکول کیږي.

پوښتنې

۱. متروکه پر وارثانو باندې څرنګه وېشل کیږي؟ طریقه یې واضح کړئ.
۲. که یو سړی مړ شي او متروکه (۲٤) افغانۍ وي د هر وارث برخه څو کیږي؟
۳. تخارج تعریف کړئ.
٤. که یوه ښځه مړه شي او له دې څخه مېړه، موراو تره پاتې شي او مېړه سره په یوه شي جوړه راشي او له خپلې برخې څخه تېر شي، نوره متروکه څنګه ویشل کیږي؟

رد

رد په لغت کې رجوع او بېرته ګرځولو ته وايې او په اصطلاح کې د عصبه و، د نشتوالي په صورت کې ذوي الفروضو ته د متروکې پاتې برخه د هغوی د برخو په اندازه، ورکول دي.

د عول په عکس په رد سره د ذوی الفروضو برخې زياتيږي او اصلي مسأله کمېږي، خو په عول کې اصلي مسأله زياتيږي او د ذوی الفروضو برخې کميږي.

رد زوج او زوجې ته نه ورګرځي

لومړی مثال: يو څوک مړ شو او دوې لونې ورځخه پاتې شوې.

اصل مسأله له ۳ څخه ده خو ۲ ته ردېږي

مړی ــــــــــــــــــ

دوه لونې

يعنې ټول مال به په دوو لونو وېشل کېږي.

دويم مثال: ښځه مړه شوه مېړه او دري لونې ورځخه پاتې شوې.

مسأله د۱۲څخه ده، خو رد به يې ٤ ته کېږي

مړی ــ

مېړه	۳درې لونې
ربع	ثلثان
۳	۸

۳+۸=۱۱ يوه برخه زياتيږي، هغه بېرته يوازې لونو ته ور کول کېږي چې د لونو برخه (۹)کېږي چې هرې لور(۳) برخې رسيږي، کله چې د اختصار عمليه تر سره شي، نو مسأله (۴) رد کېږي.

حمل

د مړي د نورو وارثانو په اړه د متروکې ټول مسايل پخوا ذکر شول، خو که چېرې د وارثانو په ډله کې د مور په ګډه کې حمل هم شامل وي، نو د مړي متروکه به په وارثانو تقسيم او د حمل برخه به موقوفه پاتې شي.

د حمل لپاره د برخې په موقوف پرېښودو کې علماء ډېر اختلاف لري، خو په دې خبره فتوی ده چې په یوه زوی یا یوه لورکې چې د هر یوه برخه ډېره وي، هغه به موقوفه پاتې کیږي او کله چې ماشوم پیدا شي، که د ټول موقوفه مال مستحق وي هغه به ورکړي او که د ټول موقوفه مال مستحق نه وي خپله ټاکلې، حصه به ورکړل شي او چې د هر وارث د برخې څخه زیاته اندازه موقوفه پرېښودل شوې وي هغه به وارث ته ورکول کیږي.

پوښتنې

۱- لاندې مسایل حل کړئ:

- له مړي څخه درې خویندې او مور پاتې دي.
- د سړي د مرګ څخه وروسته څلور لونې او ښځه پاتې دي.
- له مړي څخه یوه لور، مور او ښځه پاتې دي.

۲- د رد معنا څرګنده کړئ.

۳- رد کومو ذوی الفروضو ته نه ورکول کیږي؟

٤- که چېرې د مړي په وارثانو کې د مور په ګډه ماشوم وي څه به ورسره کیږي ؟

٥- حمل ته به څومره برخه پرېښودل کیږي؟

٦- کله چې ماشوم وزېږېده د ده له برخې سره به څه پرېکړه کیږي؟

جهاد

د اسلام ټول قوانين ددې لپاره دي چې انسان په مادي او معنوي اړخونو کې پرمختګ وکړي او کمال ته ورسيږي، نو که د وګړو او ټولنې ايمان، استقلال، ابرو او عزت د تېري او ګواښ لاندې راځي، په وړاندې يې ستونزې او موانع رامنځ ته کيږي، د اسلام مبارک دين ددې موانعو د لرې کولو لپاره د ځانګړو احکامو په پام کې نيولو سره جهاد لازم کړی چې دمضمون په دې برخه کې به د جهاد تعريف او احکام ولولو، او له حکمتونو سره به يې اشنا شو.

د جهاد تعريف

جهاد په لغت کې د جَهد له کلمې څخه اخېستل شوی چې د خپل قدرت او توان څخه نهايې کار اخېستلو ته وايي.

په اصطلاح کې: د خدای ﷻ په لار کې په ځان، مال، ژبه او داسې نورو باندې مبارزه او کوښښ جهاد بلل کيږي.[1]

د جهاد حکم

جهاد فرض کفايې دی، نو هرکله چې د اړتيا په وخت کې د خلکو يوه ډله جهاد کوي، له نورو څخه فرضيت ساقطيږي، خو که چېرې دښمن تېری وکړ او له اسلامي ټاټوبي او مسلمانانو څخه د دفاع او کافرو ته د ماتې ورکولو په خاطر ټولو مسلمانانو ته اړتيا وه، بيا جهاد فرض عين ګرځي.

د جهاد د رواوالي دليل

۱- قرآنکريم: الله ﷻ فرمايي: ﴿قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الآخِرِ﴾ [التوبة: ۲۹]

ژباړه: جګړه وکړئ له هغو کسانو سره چې په الله تعالى او د اخرت په ورځ ايمان نه لري.

۲- سنت: رسول الله ﷺ فرمايي: «الجهاد ماض إلى يوم القيامة» جهاد د قيامت تر ورځې پورې دوام لري.

۳- اجماع: ټول امت له پخوا څخه تر دې دمه د جهاد په فرضيت باندې د شرايطو د پوره کېدو په صورت کې اتفاق کړی.

---

۱ - بدائع الصنائع

د جهاد تاريخي پس منظر:

رسول الله (ﷺ) په مکي دوران کې په هېڅ ډول پر عملي مقابلې لاس پورې نکړ، بلکې دیارلس کاله یې په صبر او زغم دین ته خلک راوبلل، په ژبنۍ بلنې او تمثیل سره یې اسلام د خلکو په زړونو کې ورځای کړ، په دې دور کې رسول الله (ﷺ) بدي په نېکۍ او کنځلې په خندا ځوابولې، د کفارو د ضرر رسونې او ځورونې مقاومت یې په سوله ییزه توګه کاوه. دده د مبارکو سترګو لاندې به مسلمانان ځورېدل اووژل کېدل، خو رسول الله(ﷺ) به دوی ته داسې لارښوونه کوله: "له جنګ څخه لاس واخلئ او لمونځ ته مخه کړئ". په دې هم د کفارو زړه نه سړېده، بغض او کینه کې یې لږوالی نه راته، بالآخره مسلمانان مجبور شول چې خپل کور او ځای پرېږدي او هجرت وکړي، حتی داسې ورځ هم راغله چې مشرکانو د مسلمانانو مال، ملکیت، ځمکې او فصلونه یې په خپلو منځونو کې ووېشل، خو بیا هم رسول الله (ﷺ) د کوم شکایت غږ پورته نکړ، د مشرکانو هر ډول سپکاوی یې وزغمه، ترڅو چې الله تعالی د خپلې تشریع مطابق- چې په نړۍ کې به د ظالم لاس نیوی په زور سره کېږي- خپل پېغمبر ته د جهاد کولو فرمان صادر کړ.

د جګړې اجازه

وروسته له دې چې مسلمانان په مدینه منوره کې ځای پرځای شول، په دویم هجري کال کې ورته د دفاع اجازه ورکړل شوه، لومړنی آیت چې په دې هکله نازل شوی په ډېره خوږه لهجه د جهاد د روا والي علت او حکمتونه بیانوي، فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ۞ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ۞ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۞ الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾ [الحج: ۳۸ - ۴۱]

ژباړه: (بېشکه الله (ﷻ) له مؤمنانو څخه دفاع کوي. پاک پروردګار هېڅ خیانت کار کافر نه خوښوي، هغوی ته د جنګ کولو اجازه ورکړل شوه چې نور ورته د جنګ لپاره راغلل، ترڅو و جنګیږي، خدای (ﷻ) د دوی په مرسته قادر او بس دی، دوی د خپل ښار او هېواد څخه په ناحقه په داسې حال کې ایستل شوي چې هېڅ جرم یې پرته له دې

چې ویل يې زمونږ پروردګار الله (ﷻ) دی نه درلود. که چېرې خدای(ﷻ) یو پر بل دفع نکړي، ضرور به د راهبانو عبادتخونې، د عیسویانو کلیساوې، د یهودو معبدونه او هغه جوماتونه چې د خدای (ﷻ) نوم پکې ډېر یادېږي وران شي، بېشکه الله (ﷻ) د هغه چا سره چې دده (د دین) ملګری دی، ملګرتیا کوي، بېشکه خدای (ﷻ) د ډېر قدرت خاوند او غالب دی. هغه کسان چې په ځمکه کې مو ورته قدرت (واک) ورکړ، لمونځونه دروي، زکاتونه ورکوي، نېکۍ ته بلنه کوي، د بدۍ نه منع کوي او د ټولو چارو پای الله (ﷻ) لره دی.

فعالیت

ځینې وایې: که چېرې د اسلام دین د رحمت دین وي، ولې د جنګ دستور ورکوي؟ جنګ خو بد شی دی، د هغه څه په رڼا کې چې تاسې ولوستل ځواب ورکړئ.

پوښتنې

۱- جهاد لغتاً او اصطلاحاً څه معنا لري؟

۲- د جهاد حکم بیان کړئ.

۳- د جهاد د روا کېدلو دلیل ووایاست.

۴- د جهاد د تاریخي پس منظر په هکله لنډ معلومات ورکړئ.

کورنۍ دنده

د جهاد د رواوالي د حکمت په هکله څو کرښې مقاله ولیکئ.

د جهاد لاسته راوړنې

د جهاد تعريف، حکمت او پس منظر مو چې د اسلام ستر لارښود حضرت محمد (ﷺ) وروباندې مامور شوی ولوستل، اوس ښايې چې د جهاد موخې او د اسلام په پيل کې د جنګ د څرنګوالي په هکله هم څه ناڅه معلومات ترلاسه کړو.

د مسلمانانو د جهاد پايلې:

الله تعالى د تيرو دوو ايتونو په دوام کې فرمايي: ﴿الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾ [الحج: ٤١] **ژباړه:** دا هغه کسان دي چې مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړ، نو لمونځ به دروي، زکات به ورکوي، په ښو چارو به امر کوي، له بديو به منع کوي او د ټولو چارو پای د الله په لاس کې دی.

پورتنی ايت مونږ ته راښيي چې مسلمانان قدرت ته ورسيږي، نو لاندې کارونه به تر سره کوي.

الف: د الله ﷻ عبادت به کوي. ځکه لمونځ د دين ستنه ده او له الله ﷻ سره د وصل صحيح رمز دی.

ب: يو له بل سره به مرسته کوي، ځکه زکات د اسلام پل دی او انسانان يو له بل سره يو ځای کوي.

ج: امر بالمعروف نهي عن المنکر کوي. يعنې ځان په دې باندې متعهد کوي چې نيکي به خپروي او له بديو سره به مبارزه کوي.

د پيغمبر اکرم (ﷺ)جهاد

په اسلام کې جنګ د مقدساتو د دفاع، د ظلم د ريښو وچولو او پرې کولو په خاطر کيږي، د جنګ ميدان، د وژلو ميدان دی، خو بيا هم د اسلام د ځانګړو لارښوونو په رڼا کې چې په دې هکله يې کړې، کيدای شي د مړينو مخنيوی وشي. په صدر اسلام کې جنګونه په داسې معقوله توګه منظم شوي وو چې ډېره کمه وينه پکې توی شوې او لږ ځاني تلفات يې لرل، نو د دواړو خواوو (کافرو او مسلمانانو) د مړو شمېر په ټولو غزواتو کې چې د دويم هجري کال څخه پيل او تر نهم کال پورې وغځېدې د ۱۰۱۸ تنو څخه

ډېر نشو چې ۲۵۹ تنه مسلمانان او ۷۵۹ تنه کافر وژل شوي. په داسې حال کې چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې ۷ میلیونه وګړي وژل شوي او ۲۱ میلیونه ټپیان شوي.
په دویمه نړیواله جګړه کې چې کله د دواړو لورو وحشیان یو تر بله غښږ په غښږ شول د ٤٠ میلیونو څخه زیات انسانان ووژل شول، همدارنګه په روسیه کې د باطل کمونیستي نظام واګو ته د رسېدو لپاره تر پنځوسو میلیونو پورې انسانان ووژل شول.

فعالیت

د صدر اسلام جنګونه د شلمې پېړۍ له جنګونو سره پرتله او د دواړو جنګونو اسباب له پایلو سره بیان کړئ.

د جهاد ځینې موخې او حکمتونه

الف – دفاع

له پورتني آیت څخه څرګندېږي چې اسلام خپلو پیروانو ته ددې اجازه ورکړې چې د هغه مخالف قدرت مخه ونیسي او له ځان څخه دفاع وکړي کوم چې د دوی شتون ګواښوي او له منځه یې وړي، ترڅو یو مسلمان وکولای شي چې هوسا ژوند وکړي، د اسلام مبارک دین د حکمت په څنګ کې د مسلمانانو د قدرت او واک په شتون هم ټینګار کوي چې د دعوت او بلنې ملګرتیا وکړي. الله (ﷻ) فرمایي:

﴿وَ قَاتِلُوهُمْ حَتّى لاَ تَكُونُ فِتْنَة وَ يَكُون الدّين كله الله﴾ [التوبة: ٣٩]

ژباړه: او هغو سره تر هغې وجنګېږئ چې هېڅ فتنه پاتې نشي او سوچه دین د خدای شي.

ب – د مستضعفینو ازادي

په اسلام کې د جهاد یوه موخه د مظلومانو او کمزورو خلکو سره مرسته د دوی له حقوقو څخه دفاع او د عدالت قایمېدل دي، څنګه چې په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء﴾ [النساء: ٧٥]

ژباړه: ولې د خدای (ﷻ) په لار کې د هغو بې وزلو سړو، ښځو او ماشومانو لپاره چې د ظلم او تېري لاندې دي نه جنګېږئ؟

همدارنګه ربعي بن عامر، رستم ته چې د فارسي قواوو سرلښکر دی داسې وایي: «الله ابتعثنا والله جاء بنا لنخرج من شاء من عبادة العباد الى عبادة رب العباد, ومن ضيق الدنيا إلى سعة الآخرة,

ومن جور الأديان على عدل الاسلام» **ژباړه:** الله (ﷻ) مونږ را لیږلي یو څو هغه خلک چې الله غوښتي وي، د بنده ګانو له بندګۍ څخه د یوه خدای (ﷻ) عبادت ته، د دنیا د تنګیو څخه یې د هغې فراخۍ او د ادیانو له ظلم څخه اسلامي عدالت ته راوکاږو.

ج- د دعوت آزادي

د اسلام د سپېڅلي دین رسالت یو نړیوال رسالت دی، مسلمانان دا دنده لري چې د حق دا غږ د ټولو نړیوالو غوږونو ته ورسوي او په لارښوونو یې وپوهوي، لکه: څنګه چې الله (ﷻ) فرمایي:

﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ﴾ [آل‌عمران:۱۱۰]

ژباړه: تاسو (اې د رسول الله ﷺ امته) غوره امت یاست چې د انسانانو لپاره را لیږل شوي یاست (ترڅو) په نېکۍ امر وکړئ، له بدۍ نه منع وکړئ او په الله (ﷻ) باور لرئ.

بناء مسلمانان ددې لپاره لیږل شوي چې بشر ته لارښوونه وکړي.

پس هرکله چې زمونږ د حق او حقیقي بلنې په وړاندې خنډونه رامنځ ته کېږي اسلام ددې موخې د ساتنې او د دعوت د آزادۍ د تامین لپاره مونږ ته د جهاد اجازه راکړي. دې ټکي ته باید ځیر شو چې د حق او ربښتیني دعوت د تحمیلولو په خاطر جنګ او جګړه نشته، بلکې هرکله چې د حق دعوت د خپرولو په لار کې خنډ پیداشو او دا آزادي یې له منځه وړله، بیا د جګړې اعلان کېږي، تر څو هغه موانع چې بندګانو ته د الله تعالی د پیغام رسولو په لار کې موجودې دي له منځه یوسي.

پوښتنې

۱- په صدر اسلام کې د جنګونو تلفات څومره و؟

۲- د کمونیستي نظام قدرت ته د رسېدو لپاره څومره کسان وژل شوي او ددې نظام پای څه شو؟

۳- د جهاد ځینې حکمتونه بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د جهاد د موخو په هکله لس کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

څوک په جهاد مکلف دي؟

که چېرته جهاد فرض کفايي وي، هغه کسان چې د جنګ کولو توان ولري، کولای شي چې د مسلمانانو د امير په اجازه په جګړه کې ګډون وکړي، خو کله چې جهاد فرض عين وګرځي، نو هغه څوک چې د جهاد کولو توان ولري په هغه جهاد فرض ګرځي. مسلحانه جهاد په کوچنيانو او معيوبينو فرض نه دی.

له جګړې څخه وړاندې بلنه

سليمان بن بريده﵁ له خپل پلار څخه روايت کوي: "رسول الله ﷺ به چې کله څوک د سرلښکر په توګه ټاکه، د تقوی او پرهېزګاری توصيه به يې ورته کوله او بيا به يې ورته وفرمايل: هرکله چې له خپل مشرک دښمن سره مخامخ شوې، هغه ته د درېو څيزونو بلنه ورکوه.

۱ -که چېرې يې د هو ځواب درکړ، لاس تر واخله.

۲- او که يې انکار وکړ، جزيه تر وغواړه، که يې قبوله کړه، ته يې هم قبوله کړه او لاس ورڅخه ونيسه.

۳- او که جزيه يې هم ونه منله بيا له پاک پروردګار څخه مرسته وغواړه او ورسره جګړه پيل کړه. . .

فعاليت

آيا په اسلام کې جګړه د عقيدې د تحميل په خاطر ترسره کېږي؟ د اسلام پېغمبر او د صحابه کرامو د سيرت په رڼا کې دا مسأله وڅېړئ **او د** (لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ) له حکم سره يې پرتله کړئ.

د جګړې په حالت کې د دښمن کوم کسان وژل کېږي؟ او کوم نه وژل کېږي:

په جګړه کې د هغو کسانو وژل روا دي چې عملاً، فکراً او يا مشورتاً په جګړه کې دخيل وي، خو د هغو کسانو وژل جواز نه لري چې په جګړه کې ګډون نه لري، لکه: ښځه، ماشوم، سپين ږيري، ناروغان، فلج، معلول، ګوډ، ړوند، هغه راهب چې په کليسا کې عبادت کوي، هغه کسان چې کور يا معبد ته پناه يوسي، هغه کسان چې د جګړې وس نلري او هغه چې په خپلو پټيو کې په کرکيله بوخت وي، خو که چېرته عملاً په جګړې کې ګډون کوي يا په خبرو، فکر او مالي مرسته له کفارو سره همکار وي بيا يې وژل روادي. په دې اړوند انس﵁ له رسول الله ﷺ څخه دا ډول توصيه روايت کوي،

فرمايي: "د خداى په نامه، د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ ددين لپاره ولاړ شئ، زاړه، ماشومان، ښځې او په عبادتخونو کې ناست کسان مه وژنئ"

له پورتني حديث څخه څرګنديږي چې د مسلمانانو د جګړې او مبارزې معيار د خداى ﷻ حکم او اسلامي ضوابط دي، نو که دې اصولو ته پاملرنه وشي هيڅ ظلم او جنايت نه رامنځ ته کيږي، يو بې ګناه انسان، ښځه او ماشوم به نه وژل کيږي.

څه ډول جګړه روا ده؟

﴿الَّذِينَ آمَنُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ﴾ [النساء: ٧٦]

ژباړه: چاچې ايمان راوړى د خداى ﷻ لپاره جهاد کوي، څوک چې کافر شوي دي د طاغوت په لاره کې جنګيږي.

په اسلام کې جګړه يوازې د الله ﷻ په لار کې ده، د هوى هوس، واک ته د رسېدو، په نورو باندې واکداري او د خاورې لاندې کولو لپاره جګړه کول جهاد ندى، په دې اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه، که يو څوک د خپلې زړورتيا ښودلو لپاره جنګيږي، يا د ريا (ځان ښودنې) لپاره جنګيږي. کوم يو د خداى ﷻ لپاره دى؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» **ژباړه:** څوک چې د خداى ﷻ د کلمې د پورته کولو لپاره جنګيږي، هغه د خداى ﷻ لپاره جنګ (جهاد) دى.

د قوميت او نژاد لپاره جنګ کول جايز نه دي

په ننني نړۍ کې ډېر جګړې د رنګ او نژاد پرستۍ په خاطر پېښيږي. خپل قوم په نورو قومونو غوره ګڼي، عامه وژنه کوي، حا ل دا چې اسلام دا عمل محکموي. رسول الله ﷺ فرمايي: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ» **ژباړه:** څوک چې خلک قومي تعصب ته رابلي هغه زمونږ له ډلې څخه نه دى، څوک چې د قومي تعصب (نژاد پرستۍ) په خاطر جنګيږي هغه زمونږ له ډلې څخه نه دى او څوک چې په دې تعصب کې مړ شو، زمونږ څخه نه دى.

پوښتنې

۱- څوک په جهاد مکلف دي؟

۲- رسول الله ﷺ د جګړې څخه نه وړاندې اسلامي لښکر ته څه لارښوونه کړې وه؟

۳- د جګړې په حالت کې د کومو کسانو وژل روا دي؟

۴- کوم ډول جنګونه حرام دي؟ روښانه يې کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې لوست يو ځل خپلو دوستانو او د کورنۍ غړو ته ولولي او لنډيز دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

د اسلام له نظره د جهاد ډولونه

جهاد د پياوړي او ځواکمن کوښښ په معنا د اسلام له نظره په څو ډولونو وېشل کېدای شي چې له هغې جملې څخه ځينې يې عبارت دي له.

۱ـ مالي جهاد

مالي جهاد، د جهاد د نورو ډولونو د ملا تير جوړوي، ځکه هر ډول جهاد مالي امکاناتو ته اړتيا لري او که مسلمانان مالي جهاد ونه کړي، نور هر ډول جهاد ناشونی کېږي. له همدې کبله الله تعالی په قرآن کريم کې د ځان او مال قربانول، يو بل ته ځېرمه ذکر کړي، د ببلګې په توګه په دې آيت کې فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾[التوبة: ۱۱۱] **ژباړه:** يقيناً الله تعالی له مؤمنانو څخه د هغوی ځانونه او مالونه د جنت په مقابل کې اخيستي دي.

۲ـ د دعوت جهاد

دا جهاد په ژبه سره خلکو ته په پخو دلايلو د دين رسولو او په عملي بڼه د دين په ريښتينې توګه تمثيلولو سره سر ته رسېږي، مسلمانان بايد د کفارو، منافقينو، مشرکينو، ملحدينو او بې باکه او نا ملتزمو مسلمانانو په مقابل کې د اسلام حقانيت بيان کړي او لازمه ده چې داعي په خپلو کړو وړو هم د نورو لپاره ببلګه واوسي، څو د هغوی لپاره مقتدا جوړ شي نو په دې توګه به د حق دين خپور شي، او همدا لار د دين د خپرولو لپاره تر ټولو اغېزمنه لاره ده چې ټولو انبياوو کارولې او په هر مسلمان باندې لازمه ده په هر ډول ټولنه کې چې اوسېږي د رسول الله ﷺ په طريقه خلک ښو کارونو ته راوبولي او له بديو څخه يې منعه کړي.

الله تعالی فرمايلي: ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ [آل عمران:۱۱۰] **ژباړه:** تاسو تر ټولو غوره امت ياست د خلکو د ګټې لپاره وېستل شوي ياست، په نېکۍ امر کوئ او له بدۍ څخه منعه کوئ او په الله ايمان لرئ.

البته د دعوت په جهاد کې په داعي لازمه ده، څو له حکمت څخه کار واخلي، د دعوت په امورو کې ډېر مهم مخکې کړي، د خلکو په ځورونو او تکليف صبر وکړي او له هغې ټولنې او محيط څخه چې دی دعوت پکې کوي با خبره واوسي.

۳ـ د علم او زده کړې جهاد

دا جهاد د مسلمانانو د علم په ګانه باندې په پوښلو سره تر سره کېږي، څو ټول زيار وباسي ديني او نور ګټور علوم چې هغو ته اړتيا لري زده کړي او په علمي فکري او کلتوري برخو کې د يو، کامل او هر اړخيز اسلامي تصور او ذهنيت خاوندان واوسي. په رواياتو کې له رسول الله ﷺ څخه را نقل شوي چې فرمايلي يې دي: د علم او پوهې په هکله يو بل ته لارښوونه کوئ، په علم کې خيانت د مال له خيانت څخه ډېر بد دی او هرو مرو به الله تعالی له تاسو څخه په دې هکله پوښتنه وکړي.

او الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ [التوبة: ۱۲۲].

ژباړه: د مؤمنانو لپاره مناسب نه دي چې ټول دې ووځي، ولې له هرې سترې ډلې څخه يو څو کسان (د علم په زده کړه پسې) ونه وتل څو په دين کې پوهه تر لاسه کړي او خپل قوم ووېروي کله چې بېرته وروګرځي، څو (له ناوړه کارونو) ځان وساتي.

فعاليت

د دعوت او ښوونې په جهاد کې ځينې ارزښتناک ټکي شته چې بايد عملي شي، ښوونکی دې زده کوونکي په دوو ډلو ووېشي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د پورتني موضوع پايلې دې ټکي په ټکي وليکي او له دوی څخه دې وغواړي چې دغه موضوع په خپلو منځونو کې وڅېړي.

٤ـ سياسي جهاد

له دې جهاد څخه موخه د اسلام د عدل په اصولو د دولت جوړولو لپاره کوښښ کول دي، داسې دولت چې هلته حاکميت يوازې د الله تعالی وي، کله چې په اسلامی سيمو کې د دين احکام ترک شي او د مسلمانانو يو والی هېر کړای شي، نو په مسلمانانو لازمه

ده، څو کوښښ وکړي د اسلام د قوانينو تر سيوري لاندې د مسلمانانو د يووالي سره سره اسلامي حاکميت په پښو ودروي.

۵ـ مسلحانه جهاد

د توري په مټ د طاغوت او د هغه د پلويانو پر خلاف مبارزه کول دي، هغه طاغوتيان چې د الله تعالی د دين په وړاندې يې بيرغ اوچت کړی وي او د الله ﷻ بندګان په خپله بندګۍ نيسي، ظلم او فساد يې په مخ کې اچولی وي، کښتونه او نسلونه هلاکوي، د الله تعالی د دين له اقامې څخه مخنيوی کوي او د حق د بلنې په وړاندې خنډونه جوړوي. الله تعالی په دې هکله فرمايي: ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ﴾ [البقرة: ۱۹۳]

ژباړه: او له هغوی سره جګړه وکړئ تر هغه پورې چې فتنه پاتې نه شي او د ژوند نظام ټول د الله تعالی (د خوښې) شي.

او همدا رنګه فرمايي: ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ﴾ [التوبة: ۲۹] **ژباړه:** له هغو خلکو سره جګړه وکړئ چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان نه لري او د الله تعالی او رسول حرام کړی شوي څيزونه حرام نه ګڼي او د حق په دين رفتار نه کوي له هغو خلکو څخه چې کتاب ورکړی شوی تر هغه پورې (جګړه ورسره وکړئ) چې مغلوب شي او د عاجزي په حالت کې جزيه ورکړي.

هر کله چې جهاد مطلق ذکر شي، همدا وروستۍ معنا ورڅخه مراد کيږي، ځکه د جهاد کلمه په همدې معنا کې اصطلاحي شهرت لري، خو په هغه صورت کې چې له دې معنا څخه اړوونکې قرينه (نښه) شتون ولري، بيا بيا د قرينې د غوښتنې مطابق معنا ورڅخه اخيستل کيږي.

فعاليت

له نفس، شيطان او باندينې دښمن سره جهاد کول يو له بل سره څه ترلو لري؟

د مجاهدينو په بريالیتوب کې د ځان جوړونې رول

په مورچلو کې د مجاهدينو د بريالیتوب بنسټيز ټکی له نفس او نفساني غوښتنو سره جهاد دی، هغه داسې چې څوک د خدای ﷻ په لار کې جنګيږي او خلک د خدای ﷻ دين ته رابولي، څه چې وايي هغه به په عمل کې پلي کوي، د هر څه نه وړاندې به د خپل نفس

د جوړولو کوښښ کوي، وروسته بيا له نورو سره مرستې ته لاس غځوي. په همدې خاطر رسول الله ﷺ فرمايي: «الْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ»

ژباړه: مجاهد هغه څوک دی چې د خدای ﷻ په لار کې له خپل نفس سره جهاد وکړي. انسان د ټولنې یو جز دی، ټولنه له وګړو څخه جوړه شوې، نو هر څوک چې د جهاد د فریضې په ترسره کولو کې د هر څه نه لومړی د خپل ځان څخه پیل وکړي، ځان جوړ او اصلاح کړي، پرته له شکه دا ټولنه به له داسې پاکو وګړو څخه جوړه شي چې هېڅوک به یې د مقابلې ځواک ونه لري. نو په لنډ ډول ویلای شو، هر هغه څوک چې په جهاد اکبر کې بریالی شو، دا تن به ضرور په جهاد اصغر کې بریالی کیږي. که څوک په جهاد اصغرکې پاتې راغی جهاد اکبر کې یې بریالیتوب ناشونی دی، خو په ډېرو لږو حالاتو کې به څه مخ په وړاندې لاړ شي، خو پایلې ته رسېدل محال دي.

پوښتنې

۱- د خدای ﷻ په لار کې جهاد په څو جبهو کې ترسره کیږي؟ نومونه یې واخلئ.
۲- د دعوت او جهاد لپاره له قرآن کریم څخه یو دلیل ذکر کړئ.
۳- د ښوونې د جهاد لپاره له قرآن کریم او حدیثونو څخه یو یو دلیل ذکر کړئ.
٤- مسلحانه جهاد شرح کړئ.
٥- سیاسي جهاد څه مفهوم لري؟
٦- د خپل ځان جوړولو د مجاهدینو په بریالیتوب کې څه رول لري؟

کورنۍ دنده

د خپل ځان جوړولو او د خپل نفس د روزنې د ارزښت په اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ.

سوله او احکام يې

دا مو ولوستل چې په اسلام کې جګړې د ډېر لوړ هدف په خاطر چې هغه د فکر او عقيدې ازادي ده ترسره کېږي،ترڅو انسانيت ته د کمال لارې پرانيستل شي. ددې لپاره نه کېږي چې ځمکې لاندې، انسانان غلامان او د ځمکې لاندې او باندې زېرمې ترلاسه کړي. هرکله چې سولې ته د تګ اړتيا محسوس شي، نو هغه بې پامه نه غورځول کېږي، ځکه سوله اساس او بنسټ دی، جګړه استثنايي حالت دی، قرآن کريم په دې هکله فرمايي: ﴿وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ [الانفال: ٦١].

ژباړه: که چېرته هغوی سولې ته مايل شول، ته هم خپل ميلان ښکاره کړه، په الله ﷻ توکل وکړه، بېشکه خدای ﷻ اوربدونکی او پوه دی.

د مسلمانانو ترمنځ سوله

ځينې وخت د مسلمانانو ترمنځ هم جګړه پېښېږي چې په دې حالت کې بايد سوله وشي، قرآن کريم په دې هکله فرمايي: ﴿وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾ [الحجرات: ١٠]

ژباړه: هرکله چې د مسلمانانو دوه ډلې سره په جګړه شي، د دوی ترمنځ سوله وکړئ، که يوه پربله ظلم او تېری کوي (او سوله نه مني)، هغه ډله چې ظلم او تېری کوي ،په مقابل کې يې ترهغه وخته وجنګېږئ چې سوله ومني او د خدای ﷻ حکم ته غاړه کېږدي، بيا د دوی ترمنځ عادلانه سوله وکړئ (له شرايطو سره سم)، له عدالت څخه کار واخلئ، ځکه چې الله ﷻ عادلان خوښوي. نو کله چې دوه ډلې په خپل منځ کې په جګړه شوې، وطن او ملت له داخلي اختلافاتو، خطر او تجزيې سره مخامخ کړي، بايد چې د اسلامي او ملي يووالي لپاره حساب ته کش شي او په هر قيمت چې وي پر وطن او ملت کې بايد يووالی ټينګ شي. دا هغه لارښوونې دي چې قرآن کريم يې مونږ ته را زده کوي.

فعالیت

قرآن کریم فرمایي: "و الصلح خیر" د سولې په ګټو وغږیږئ.

پوښتنې

۱- قران کریم د سولې په هکله څه فرمایلي دي؟

۲- که د مسلمانانو یو ټولې په بل ټولي حمله وکړي او سوله هم ونه شي، نو څه معامله باید ورسره وشي؟خبرې پرې وکړئ.

کورنۍ دنده

په ټولنه کې د سولې د ارزښت، پرمختګ او د هغې د رول په اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ.

د ذمې عقد (تړون)

د عزتمن او سوکاله ژوندانه لپاره ارزښتناکه لاره چې د متقابل احترام او حقوقو رعایت په کې وشي د ذمې عقد دی، په دې لوست کې به ورسره اشنا شئ.

ذمه په لغت کې عهد او تړون ته وایې. اهل ذمه هغه کسان دي چې اسلامي حکومت ته د جزیې (مالیې) په نامه دیوې اندازې مال په ورکولو سره د دوی ځان، مال او حقونه خوندي کېږي.

د اهل ذمه حقونه

ټول ذمیان هغه حقونه لري کوم چې مسلمانان یې لري. حضرت علي کرم الله وجهه په دې هکله داسې فرمایې: "دوی (ذمیانو) ددې لپاره جزیه منلې چې د دوی مالونه او وینې داسې شي، لکه زمونږ مالونه او وینې"

اسلامي دولت مکلف دی چې له دوی څخه هر ډول ظلم دفع کړي، د دوی ځان او مال وساتي، د دوی عقیدې او عبادت ځایونو پورې غرض ونکړي، د کسب او کار زمینه ورته برابره کړي.

د ذمي حقونه له منځه وړل حرام دي

ذمي ته د ضرر رسولو په هکله رسول الله ﷺ په سختو ټکو داسې بیان کړی، فرمایې: « أَلاَ مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوِ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» تاسې خبر شئ هر هغه څوک چې په ذمي ظلم وکړي، یا په ناحقه دده حق وخوري، یا یې په داسې کار وګوماري چې هغه دده د طاقت څخه پورته وي، یا دده د خوښې پرته ورڅخه شی واخلي، د قیامت په ورځ زه خپله د دوی مدعي یم)

جزیه څه شی ده؟

جزیه له هغه مال څخه عبارت ده چې ذمیان یې اسلامي دولت ته ورکوي، ددې په مقابل کې اسلامي حکومت دوی ته امکانات او سهولتونه برابروي، د دوی ساتنه کوي، د جنګ نه معاف دي، دا هم باید له یاده ونه ایستل شي چې په ماشومانو، ښځو، لیونو، عمر خوړلو او ړندو باندې جزیه نشته.

پوښتنې

۱ـ ذمه څه شی ده او اهل ذمه کوم کسان دي؟

۲ـ د اهل ذمه حقونه بیان کړئ.

۳ـ آیا جزیه باج اخېستنه ده که په مقابل کې یې ذمیان عوض تر لاسه کوي؟ روښانه یې کړئ.